سوزیدلی شمع

د عبدالمنان ملګری لیکنه

PROPERTY OF ACKU 4611

زما خبری

د غه کتابگو تی چی ستا سو پرمخ کی د ی په د ی کی زماد غو سلگرو په سرسته یو خو لنډ داستا نو نه راغونډشویدی. البته دا هم هغه نکلو نو نه دی چی د گرا ن هیواد له را د یو نه د د و ی گو تو ته ور غلی دی . یوه زما نه چی ژه په راد یو تلو یز یو ن کی و م ، نو د د نډی له مخی می دغه داستا نوڼه لیکلی ا و در ا دیو په غوو کی می خپاره کړی دی ، هر نگه چی په یوه می لیکلی ، دا با ید و وایم چی شاید دو مره دقیق نه وی او نیمگړ تیاوی ولری ، خو ژه دهغو ارا دتمند ا نو نه چی د غه نکلو نه ئی چاپ ته ور کړ ی دی د یره منده کو م .

هر نگه چی زه و رک سړی یم ، دغه شان زما له سلو نه زیات نکلو نه ، د را مې ، وړی نما یشنامی او نظمو نه هم ورک دی . هیلو ده چی یوه ورځ د اسی هم راشی چی زماد غه اثار در ا د یو له ار شیف نه راغو نډ شی اودهغوا نا نو په همت چاپ ته وسپارل شی . هغه زما د یر ی تار یخی او محیطی کیسی او س هم په هغه ځای کی پټی ویدی د ی .

خو ر که زمانی یاری و کړه ژ ه به خپلی دستیج د را مې او راډیو یی د را مې هم پیدا کړم ا و گرا نو عز یز ا نو ته به ئی وړاندی کړم. او س او س به ما په دی برخه کی گران لوستونکی وبښی .

وسلام

عبدالمنان سلگر ی

فهرست

شمارہ	عنوان	مخ
۱	ـ شاعر د یوه	۳
۲	ـ سوزیدلی شمع	۱۳
۳	ـ میراثی پښه	۲۳
۴	ـ سوریا بویا قمرالدین	۳۳
۵	ـ داد یری ملنګ	۴۵
۶	ـ بی کفنه	۶۱
۷	ـ لس دقیقی په میوند کی	۷۱
۸	ـ دسزا رد یوه	۸۳
۹	ـ او بوراو ږی	۹۳
۱۰	ـ غنی ملنګ	۱۰۳
۱۱	ـ زندانی نجلی	۱۱۵
۱۲	ـ اشتیاه	۱۳۱
۱۳	ـ پښل خار کښ	۱۴۵
۱۴	ـ دوه سرونه	۱۵۵

سوزیدلی شمع

«دلنیو کیسو مجموعه»

عبدالمنان ملگری

۱۳۶۷

د کتاب نوم : سو زیدلی شمع
لیکوال : عبدالمنان ملګری
خپرونکی : دافغانستان دلیکوالوانجمن
نمره : ۱۷۶
تیراژ ۲۰۰۰ دانه
کال : ۱۳۶۷
دچاپ ځای : دولتی مطبعه

دشاعر ډیوه

* * *

د آسمان تندې د پسرلي په راتګ سره روښ شوی او د ژمي تندو او
ترو و و ر یخو خپل ځای پسرلنی وریځوته ځالی کړی و . په هوا کی
د مارغانو لیږد شروع شوی ؤ. کله کله به دشا متورو ، قزلاخو، د کار
غانو او تپوسانو وړی اولویی ډلی په فضا کی معلومیدی او د پسرلی بوی
هم احساسیده. دځمکی سپیره رنګ شین بڼه شوی ؤ. او دشنو کبلو په
وچو ځنو کی هم شنه خپه زغلید لی وه. سپیریا نو له غاروڼه سره زره را
مسک کړی وو اودد انو د تولو لو په لټه کی وو . دهند وکش په
هوسیو هم د پسرلی بوی لګیدلی ؤ، او دغره پیتاوو ته یې ډډی لګولی وې
پسرلی لانه ؤ را غلی ، خو د ژوند سندری وني او بو تی راویښ کړی وو.
او کا ئینا تو د یا ژوند پې کمه وله پاره نفس تازه کاوه .

دبی مارود غونډی په سپیر وشوله و باندی دسیمزی گردغور زیدلی
ؤ، اودخواجه صفا دارغوان تنکیونیالگیو په خپلو زنوارغوا نی خالونه
اینبو دل. دکابل په بنارکی صندلی لا جگی شوی نه وی ، خوپه
صندلی کی ډیر ناستی چاته خوندنه ورکاوه . دشور بازار، تخته پل
، بی مارو، کلای کلیځ اودچا ردهی هلکانو. کاغذپرانونه اوپتنگان
دفضاغیږی ته خوشی کول او خپلی میلمی بی پی تودولی. داسمابی غره
په تندی یا زندی هم کله کله گور بتان لیدل کیدل ، چی دور ونه بی
تړل، او هواخوری بی کوله اودشهدای صالحین دقبروجنډی دپسرلی
راتگ ته په متانت ر پیدی. اوحاجت مندان ورته خوزیدلی وو ، خود
کابل بنارله دیو الو نواو خړو بامو نونه د سکوت اوپټ خپگان
لوخړی پور ته کیدی اوله رنگه بی خاوری با دپدی . دکابل سیند
هم له غمه په خپلی خولی لاس اینبی وه، او خپله سند ره بی په خپلی
تنکی سری کی چوپه کړی وه ، او دشاعر دسړینی له اساله بی ، بنار
یانوته دسکوت اعلان کاوه .

دبی مارو په سیمه کی یودروند هیبت پروت ؤ ، اوټول ماحول گونگ
اوکلی و. دایوه شپه وه . همیشپه چی دمارتم تور څادر بی په ټول
کابل باندی غوړولی وه ، اودیری اوچتی او هسکی مانی بی هم په
خپل تورتم کی پټی کړی وی ، او غوښتل بی چی دشاعر ستر گی هم
دمرگ په تار اوستنی و گنډی ، اودتل له پاره بی پټی گړی . دغه پرد-
یس شاعر ... په دالوی بنارکی هیڅ انه پیژانده ، ټوازی دبی مارود
لارو سپیرو دورو ، کانیو اوبوتو پیژانده ، چی دی به بی هرو ورځ
خنگ ته تیریده ، اود ژوند سندری به بی ورته زمزمه کولی، خو
اوس دمرگ په بستر کی پرت و ، اوستر گی بی دمرگ قاصد تـــه
شـــخی بـا تـــی وی .

نکل داسی ؤ ، چې خو کاله د سخه یوخوان کلیوال شاعر دیوی پاری پیغلی غیږه ته خان واچاوه ، اود هغې د پستی غیږې په پستو برجوکې بې خپل ستړی زړه ته آرام اوقرار لټاوه . شاعر دلو سړی محل له پاسه رمخله ناوې یوی زړې کوټی ته ننوتله ... اویوه زړه سطر نجی بې دناوې دسرو اوتنکیو پښولاندې وغوړوله . داکوټه هم کرایې وه ، چې شاعر دخپلې ناوې له پاره نیولی وه .

وحید درته یادوم . وحید زلمی شاعر ؤ ، نرم سخ بې درلود . یاریک اندامه اوبې غوښې خوان ؤ ، اوچته اوغټه پوزه بې درلوده او دچپې سترګې دلاندې دپوزې له پرې سره یوه توره زخمه هم درلوده ، چې د شاعر نور اونمکې بې زیات کړې ؤ . گردې غټې سترګې بې درلودې ، چې د سترګو سقما طبس اوبرق بې لیدونکی جلبول . خوسره چې خوش ځیره ؤ ، هوسره خوږ ژبې او دخوږې ژبې خاوند هم ؤ . ژبه بې پسته وه ، تل بې پاسته . کلمات له خولې را وتل .

وحید خو کاله د سخه د کابل بنا رته را غلی ؤ ، اود دلته بې دخپلو ژغمو په او رولو پیل کړی ؤ . په خوان زړه بې زاړه در دونه وتا وده غمونه پرا ته وو ، نوځکه بې ژغمو په هرتا لاو سرکې بوللې ستا یني اوویر لیدل کیده . هغه هیڅ نه درلودل . یوه سطر نجی ، یوه ستره اویودپلار د وختونو زوړ لمخی بې په گوته کې پراته و ، چې د هر د و ست آویارله پاره به پواړه الخلاص غوړول شوی ؤ .

وحید یادغه زلمی شاعر ، چې دنیا کې خا و نه شو بیا هم د غه سطر نجی او زوړ لمخی د شاعر د ناوې د پښو لاندې پروت ؤ . او دهغې قدم بوسې بې کوله .

د کابل په دالنوی پارک کې هرچا شپې تېرولې او وحید هم په کې پروت و ه اوشپې بې سبا کولې ، خودده شپې د صاحید لانې اوپراخ

نظر و په شان د وطن د و ستی له نغمو او شورنه ډکی وی، خوشحو سره چې
بې ژوند تیر یده، هو سره بې روز گار سختیده او گام په گام د فقر، غر بت
او بیچا ره گې د ریاب تهورد فنه کیده دی له سختیو سره عادت ؤ، خو
تنکی ژاو ی بې بل صورت او بل ژړه در لود ... ژړه بې آرام ژوند
غوښت، کور بې غوښت او د خپلو کو څه و الو نجو نو سره بې
سیالی غوښتله، خود ادشاعرله توانه وتلی وه، ځکه چې د شعر قیمت
له چا سره نه ؤ. او شاعری هم هرچا ته بې ارزښته او بې قیمته
متاع ښکاریده. شاعر په دغه بې قدری او بې خونډ ی کې شوی
ا رو لی، نوځکه شپو ورځو ا ژند ی د فقر او غربت در وند باروړ په
ورځ زیاتا و ه.

وحید له ځما نه پرته بې په هغې کونډې او یتیم او بنکی تو یو لی
چې د گل ما مد «گل محمد» په گراج کې پراته و و، نه بې د شپې قوت-
لایا موت درلود، او نه بې د ورځې. او تول ژمی بې د نا نوایی په مړه خوږلن او
ا بر و تیر کړ.

ځوان شاعر سره د و سره ټوان نه ؤ چې ځما نگړی کور کرایه کړی، او په
ځان ته کور کې ژوند و کړی. مجبور ؤ چې په شریک انگړ کې ژوند و کړی.
زلمی شاعر د بې سارو د پښتې په لهجه کې یوه کوټه کرایه کړه او د کور
له خاوند سره یوځای او سیده. هلته په یوه انگړ کې د کور د نورو وند
د پلو او سالندو خو د یګې به بارو او د لته به د یوه وارې اجاق د پاسه
یو تور المونیم د یګې سپور وچې د وحید نا وې به ورته پکې او بو ځې واهه.
او ځان ته به بې د کچالو سپیره پیاوه برابروله، یا به د کور خاوند
کوچنیا نو من حسینې انگور، هند وانې او خټکی خورل، خو د وحید د
ټنکې نا وې حق به په هغتو نه تازه کیده.

وحید داهرڅه لیدل، احساس یې نازک او باریک ؤ، ښه پوهیده، خو دا
ټولنی ناخوالی به یې په یوه ترخه تبسم هضم کړی، یا یې هم خپلی سندرې
دخپلی ناوې ترهنګ اوروولی، اود زړه یې راس یې دشعر په وزرد کا بل
فضا کی ځیر اوه .
دا سی وخت راغی چی وحید نړی رنځ ونیو او دا ز لمی شاعر وار په وار
دنا توانې او کمزوری خوا ته ورته اودمرګ سور ګوته نیږدی شو .
یووخت هغه غجیمه شپه هم را ورسیده، چی دی زلمی شاعر په ګی دمرګ
سلګې وهلی او شاعر زړه یې په ګو ګل کی په پوره نا قراری او یې
صبری دمرګ اونا بودی سنه ره اورولە. زلمی شاعر په یوه کوټه
کی پروت ؤ. دکوټی مخی ته یوورو کی دهلیز ؤ، چی په میځ کی یې
دوهم پورته زینه ختلی وه .
دا کوټه په یوی لوبی حویلی کی ودانه وه، چی دانګړ اوحویلی دیوالونو
ته دوه پورې کورونه جوړ شوې وه . دانګړ په میځ کی یوه هاه هم
وه چی دیوه اوږد زنځیر په سرکی دراپر یوه لوبه یوکه هم ترپل شوی
وه . په دی انګړ کی دکورله خاوند نه بر سیره څوکرایه نشینه
اوکرایی والاهم اوسیدل ، چی وحید هم کرایه ورکوله، خووحید
دلاندی پورې په یوه کوټه کی اړولی وو ، چی کړکی یې هم نه درلوده
یوازی یوه وړه دریچه اوروشن ړاندا ز په کی ؤ ، چی کله کله به د
لمر وړانګی په ډیر زور اوزحمت کوټی ته ورننوتی . دکوټی غولی
نم درلود اودستکو یې تور والی پیدا کړی ؤ په دغه کوټه کی وحید
نا روغ پروت ؤ، هیڅوک یې پوښتنی ته نه را تلل ، یوازی خوا نه
میرمن اودوه کوچنیان یې وو ، چی دوحید زګیرو یوته یې غوږونه
نیولی وو .
په هغه شپه چی وحید له دنیا نه ،د دنیا له غمه او ستړیا ونه ستر ګی
پټولی ، د یې مارو کورونه د ریښتنا او برق په رنا وو کی یې وو،
خو دوحید کوټه کی توره شپه او تورما تم و .

د کور او برق کرایه یې پاتې وه ، او د کور خاوند برق پرې قطع کړې وو، نوځکه د وحید د سرګ په شپه د هغې میرمنې په کوټه کې شمع لګولې وه او دا یې ځنګ ته ناسته وه . وحید د سرګ په منګولو کې هلې ځلې کولې، او په وچ ګوګل کې یې خرهار شروع شوې وه. شمعه هم په تاخچه کې سوزیده او دا نه دا نه اوښکې یې د شاعر په حال تویولې د کوټې په بل کونج کې د وحید دوه کوچنیان په خوابه خوب ویده وو . پاکو او معصومو زړونو ته یې هیڅ نه وه معلومه چې د وی زن شپه یتیمانه یږي ، او شاعر پلار یې سیاد قبر ګیلې ته ورکښته کیږي یوازې د وحید ځوانه میرمن پوهیده ، چې زن شپه یې د زامنو سرنوشت یدلیږي او دا یې پلاره زامن به په کومو کورونو کې لوی یږي د وحید میرمن د خپل زلمې خاوند سرګ یوې خوا او د دوه کوچنیانو بې سر پوښه کیدلو غم له بلې خوا لیونې کړې وه، نوځکه یې د خپل خاوند ترځنګ دا و ښکو قلزم روان کړې ؤ، او د غم سرینداې غږولې .

وحید ته چې د سرګ ساسلان (محصلان) به وهلې ولاړ وو ، کله کله به یې خپلې ستر ګې پورته کړې ، لومړې ته به یې خپل سر نظر د خپلې میرمنې په اوښکو و ځغلا وه ، بیا به یې خپلو د ید و کوچنیانو ته و کتل، زړه یې غوښتل چې په خپلو لاسو د خپلې میرمنې اوښکې پاکې کړې ، تندې یې ورښکل کړې ؛ دلاسا یې کړې او بیا خپل دواړه کوچنیان غیږ ې ته ورانده کړې ، په دوا ړو مخونې ښکل کړې ، او بیا یې خپلې میرمنې ته امانت وسپارې، خو سرګ یې غږې غمې ورسست کړې وو ، حرکت یې نه شو کولې او ستونې یې ورغلې ؤ . شمع هم کرار کرار سوزیده او د شاعر په حال یې په ځان اور لګولې ؤ . شاعر هم کرار کرار سو زیده . او د خلکو په غم کې یې په ځان د سرګ اور ونه بل کړې وو ، خو په دا لوی انګر کې ، په دا لویه سیمه کې او په دا لوی ټبار کې

دشاعر سوزیدل هیڅا نه‌لیدل ، یوازی همدا شمع وه اوهمدا دشاعر میرمن چې دشاعر په تاو او لو خړو کې سوزیده .

شمع هم خپل وروستی پړاو ته رسیدلی وه ، هیڅ په کې نه‌وو پاتې ، یوازې دې ته منتظره وه ، چې دشاعر له ساه سره یوځای خپله ساه ور کړي .

په شاعر کې هم څه نه وو پاتې. دوه ستر ګۍ یې دتاخچې شمع ته شخې نیولې وې ، چې دشمع له وژل کیدو سره یوځای دې هم خپله ساه دنڅس سالک ته تسلیم کړي. دشاعر میرمن په اوښکو کو ستر ګو باندې کله دتاخچې شمعې ته او کله د شاعر دووستر ګو ته کتل .

له یوې خوا دشمع رڼا وار په وار تښته اوله بلې خوا دشاعر ساه هم نرمه نرمه ویستل کیده.

دلته چې شاعر خپله وروستۍ سلګۍ وو هله هلته په تاخچه کې شمع هم مړه شوه، خو په کوټه کې یو بل نور وز غلیده ... دشاعر دې وسې، بیکسي او هردم شهیدې نور، چې دشاعر دوه ویدو ما شومانو مخونه یې ښکلول ، اود شاعر له کونډې سره یې غمشریکي کوله .

سبا دو حمیدیا زلمي شاعر جنا زه، خو سپین ږیر وپه ولوا خیستله او چکه شوه، خو د جنا زې تر شا یې یوازې کوچنیانو او کونډې میرمنې سازندې ویلې، او دکابل پارکا نو بوتو ورپسې ډیر کاوه ، ځکه چې ده ورته دژوند سندري اورولې وې، او هغو ته یې شعرونه ویلې وو .

سوزیدلی شمع

* * *

تیر ماښام ؤ. داسمان په مخ دسپینو وریځو پرده غوړیدلی وه اوښمکی هم دواورو سپین کفن په غاړه کړې ؤ . سپینی واورې دسپینوزرود دانو په شان اوریدی. داسمایی غره په تندې باندی سپینی لړی پریو تی او په یومعنی داره سکوت کی ډوب ؤ . . .

دښاردوکانونه تړل شوي وو، اویونیم دوکاندار تا زه لګیا و د دوکانوورونه یی تړل ، یوالمی یو یو پښتې به معلومیده ، چې رسی په ملا په درنده او متینوقدمو باندی دواوری زړه سوری کوی اوخپل منزل پکی لټوی .

دکوهګوبی څښتنه سپیان زوړنده غوړوونه داسمایی لمنی ته روان وو، چې ځان ته دکوم ګټ (کهر) لاندې ځای ولټوی او خپله شپه په کی سبا کړی .

دښاروناوې هم تقی تقی معلومیدې، اوخپل اصلی رنګ یی له لاسه ورکړې ؤ، اوښه یی نارنجی ښکاریده .

د بنا رسا تونکو په وړینو بالا پوشونو کی لحا ټونه تا و کړي وو، او د بنا ریا ټو دا رامی له پاره بی خپلی سلاوې دهمت په کمر بند وشخی تړلی وو ي . . .
هر څه د ژمی په یخنی کی غلی اوسا کت و و ، یوالحی د ژ می سهیره او تونه وړ مه و و ،
چی د سر گ کړ یکی بی وهلی ، او بنا ر سکوت او چوپیا بی په خپل نا ړ ا مه اواز کی ویجا ړاو ه .
په دی سا ړه سا بنام کی یوالحی غمی ؤ ، چی یوزوړ پیپ به ئی په لاس کی ؤ او په کوشه کی سیا هی سیا هی کیده .
غمی د شل کلنی پسر لی تنکی گل ونری و نه بی له صبر سره سیا له وه او لښته لښته یر یتو بی د سخ په سرخی کی قیا مت جوړ کړی ؤ .
دخیرن کوره سان کالی یه بی په تن او د خا متا سهین ځا در به بی تل غوړو ته تینګ ټیولی و . . . دی په بنا ر کی زا بلد ؤ، ځکه لنډه سوده کیده ، چی د (اګام» له سر د رونه دلته خپل خوار نصیب او ځوان بخت را وستی وو.
غمی ته په ا ګام کی بدي او بتی وه ، بدي هم د وینو بدي ژه ، د سهینی خولګې بدي .
بخملي د ګل میرا کا لوروه او ګل میرا کا خود غمی سګه تر ه و ، خوخورای برخی دي ور کی شی . . . تر و نه خو پر یده سکه ورونه هم له چا سره د د ۰ ستی په تغر نه کینوي .
غمی با ندی د خپل تره لور یخملی له ځا نه او جها نه گرانه وه او سا ر و په هم د غمی د پټکي شمله وه ، خو گل میرا کا کله غوښتل چی خپله نا زولی بخملی د غمی د خوا ری جو نګړ ی ډیوه کا ند ی .
غمی په ټول آ ګام کی نه سیور ی در لود او نه ستور ی ... سپړي ، بزي بی نه در لودې ، پوله پټی بی نه ژ د غ سی سهیر ه ز لمی د چا خوښیده چی د ګل میرا کا خوښ شوي وا ي ؟

غمی خوځه د خپل تره په دیره کی سپین رویی د بخملی د سر کی له پاره تول کړي و ، خو گل میرا گاهره پلاد خپل وراره جرگی ته ځواب ویلی ؤ ، اوغمی ښی د ما یوسې او ښی وسې په گردا بوکی خوشی کړي و .

غمی ښی کوښښ گا وه چې په خپل زړه د صبر گټونه (گمرونه) با ر کړی ، خوداگام دښا پیری یا بخملی د خونکار وستر گو خدنگ ښی خوړلی ؤ ، کله ښی د هغی د پا غونډه سخ وړانگی د فراموشیو او هیر جنیو په تاریکیو کی ور کیولی شوي ، به ټیره د بخملی د تنکیو شو نډو و هغه تود وخه چې غمی د اگام به غړه کی احساس کړي وه ، غمی ښی هره شیبه د شونډو و په ټیه کی لږ زیده له بلی خوا بخملی هم د خپل تره زوي د ښی جوړي زلمیتوب او مردانه ښکلا معجون خوړلی و ، یوه شیبه یی هم طاقت نه کیده چې غمی یی له ستر گونه پناه شی .

د بخملی او غمی سینه ورځ په ورځ ځه چې شیبه په شیبه تود یده او دوي د خملی سینی په خوږ لن کی وار په وار ور یتیدل .

بخملی خوښی په وړو کوالی کی غمی ته په نامه کړي وه ، خود غمی خونه چې روز گار سپیره کړه ، نو گل میرا گا په خپل لوظ پښیمانه شوي ؤ .

غمی چې د ژوند انه په دوښل کی گیرو ، یوخواد بخملی د سینی څپی اوله بلی خوا د خپل تره ښی لوظی او نه سړ یتوب د هغه ژوند انه بوده تنسته انجې کړي وه .

غمی ته وځکه د اگام ملك ویلی وو چې :

ـ غمیه ! په دي ژمنوا تواو کړ جا می با ندي گل میري لاري ته نه راځی .

غمی په تعجب سره ور ته ویلی وو :

ـ نوځه وکم ، ملکه ؟ ما خو رو گودر و رك کړي دي .

د غمی د دي خبرې په ځواب کی ملك ورو اوغلی وویل :

ـ با یدپه اډیره کی یو بل قهرهم زیات شی ، یعنی د گل میر قهر . که دی زړه وي ، تپوښ به هم زه در کم .

خوشمی ته کله داچه بکاریده ، چی خپل سپین ږیري تره وواژنی اودخپلی نازولی بخملی پاک زړه دپلار په مرګ سړاوي کړي ، نو- محکه یې په هغه ورځ ملکه ته وویل :

ـ نا... ملکه ! دادشیطانی اواز، زما په غوږ کی مه کوه .

دغمی ځوانی هیلی یې اهم پسخیدي، چې گوندي گل سیر اکاږه اخر راضی شی ، خودگل سیر زړه ددنیا حرص او هوس کا نی گر ځولی و ... د «نا» په ټکی یی گوته اینښوده ، کله بله کړیده .

آخر خو غمی هم مجبورو چی خپله هاږیري په وړیا اوسفت ډول له لاسه ورنه کړی ... څه یی کړي واي ، دتره وژل له یوي خوا اود پردیوپه وینو کی لاسیل له بلی خواځه اسانه خبره نه ده ، نوځکه یې یوه ورځ ، هغه ورځ چی دسنی سړه وږمه دسپین غره له هسکی شملی زه او چتیده اوداگام دساخو اوبو چتیو بوتی یې لړ زول، بخملی او غمی د سپین غره په ځولی کی دزیتون دوحشی او گورې ونې زلفو لاندی ناست وو ، اویو دبل د مهنی انگارته یی ځانونه تودول ، نوغمی یو سوړاو سیلی و کیښ او بخملی ته یی وویل :

ـ بخملی ! بی له دی نه بله لا ره نشته !

د بخملی په بر غنډ مخ چی د مینی تودی لمبی ورانگی کولی ، او دحیا په اوږکی سره بدل کی وه ، نویی په نرمه اوپسته خوله غمی ته وویل

ـ چیري به لاړشو ، ستا په سر به په ځان د شینګړي نوم کیدم

خوغمی چی تر اوسه د بخملی دسري خولگی د مرجانو په کان کی ډوب واودنظر اندازی په ځیو کی غوپه کیده، نویی د بخملی دزړه دآرام اوډاډ له پاره وویل :

ـ کابل ته... کابل څه ښاردی لوی ښاردي سوو به کی خوك نه شی سو زدلی ؟

بخملی یوسوړ اوسیلی و کیښ ، اوورو سته یی وویل :

ـسما خوښه ده غميه خپه کولی دي نه شم .

دمنی په هماغه ورځ دسپين غره د لکی غاړې يادا گام دخيگـر باز اوزرکی يعنی غمی او بخملی دخپلی مينی د ورو ستی پراو بنـد ـ و بست ونيو .

يوه شپه چی تول اگام د تنگ ستر گو ، گيلو ور و د جفا په تو ر تم کی پ وبو غمی خپله د سو رپه گو تو جيو ړه شوې چيمپرې پر سټن په منجی ر سی و تړ له او لکه د مسافرو مړی ښی شا ته کړه ا و نيغ د خپل تره د باغ کنډ و ته ودريد ... هغه کنډ و ته چی شپيه و ر و سته و ر و ستی ځل له پا ره د بخملی د سخ په و پرا نگو رو ښا زه کيده . شپيه لا تيره نه وه چی دسپين غره بدرې جمالـه په افغا نيجا مه کی کنډ وته راغلـه . ..چی په هغه تورتم کی د مينی رو پيو ښی د آسما ن له ستو روسر ه د آ ينی بر قی سخا بر ه اجر اکو له او دا گا م له ستو ر و سر ه ښی په موسکا ، موسکا سخه ښی مراسم اجرا کول .

غمی خپله ښا ځيری له پستو خپرو و نيولـه ، لوړې ښی په ټنډی ښکل کړه او بيا جوړه دخپل نا معلوم او گونګ سر نوشت په لورو خوزيدل . څه وخت وروسته ښی له خپلو ستړو او ښی وسوهيلو سره محان ځکا بل لهنی ته واچاوه .

کا بل هم لکه د سپين غره دلمنی په شان ور ځ په وخ د ژمی په ښی انصا ف سا رو کی سړيده . .. غمی او بخملی ژه پ وهيد ل چی په دې ارت او پراخ ښا رکی چيرته اود چا په کور کی د خپلی ښو سی او خوارې مينی بازار تود کړې ... لالهنده گرځيدل اودښا رهر څه نه ښی او ـ تر او تر کتل ، هر څه ورته نوې او تا زه ښکاريدل ، خو کوم شی چی ښی نه ليده ، هغه مينه وه . خير ... آخر پری لالا گل ورحميده ، خپل گراڅ ښی ورته ور کړ لالا گل يوه زړه سطر نجی هم ور کړې وه ، چی نيم گراڅ ور باندی پټ و ، خو گراڅ بر ينښنا نه درلوده .

غمی هره ورځ له علی احمد دو کاندار نه یوه د انه شمعه اخیسته او خپل کور یا دلا لا گل گراځ به یې روښا نه کا وه . بخملی تولـه ورځ د کور دخاوند کا رونه کول او غمی د ورځی مزدوري کوله؛ خو بیا هم په خپل ژوند خوشحاله وو او هره شپه به غمی د بخملی په توده غیږه کی درو زگار ناخوالی په سره سینه هضمولی . خوز مانی یادې ناخوانه فلک د غه شپی هم په دې دوه پردیسیا نو پیر زو نه کړې .

ژمی شو او د کابل د اسمان تندې وار په وار بی عاطفه گی په او ازتریو کیده ؛ چې ژمی شونو غمی سره له هرڅه نه د اورغم زیات و . . . . هره شپه به یې زور تیم په لاس کی واود ریکوټ زاړه حمام ته به ورته ، تر څو له گل خان نه اور واخلی؛ اوخپله شپه پرې توده تیره کړې، خو په هغه شپه چې غمی گل خن ته تللی وُله خوا ر بخته یی اورخلاص شوی و، نو ځکه تش تیم په تیر ما شام کی د گراځ خواته روان و.

دلته په گارا ژکی بخملی هم په پرستنه کی له یخ نه د شوې د پانی په شان رپیده ، اود ژمی سړې وړې د هغې صد فی غاښو نه به پوره بی رحمی ورته جنگول. کله چې بخملی دغمی د پښوتر پهار واوید؛ نو یې له زړې چپه پر پرستنی نه خپل د شود و د پیر وې مخ، لوځ کړ ؛ او غمی ته یې وویل :

ـ رادې وړ ؟ . . . اوردې پیدا کړ ؟

ـ غم د پاسه غم دې ، په گل خن کی اورخلاص شوې و .

خیر زه به ورشم؛ گونډې لالا گل اورا کړې.

بخملی لالا گل کړه تیم په لا مس و رغله او غمی دلته د شمعی تتی رنا ته پیر تونو کی ډوب ناست و، او بیا یې په سړې پرستن کی ژنو یستی وې. شپه وروسته بخملی په داسی حال کی را غله؛ چې په تیم کی یې د ډبرو دسکر واو رزبانی وهلی اود کمچی سا ر په شان یې د بخملی او غمی لخوا نی ته د کینې او حسد ژبه څټله . . .

دغمی او ړه لیدلو خوشحاله شو، خونه پوهیده چې دا اور... دا خوښی به دغوی: ژوندانه ډډونه وسوزوی.

بخملی په ډیر احتیاط له اوره ډک تیم دګارا ژبه کونج کی کیښود. دګار اژ دواړه پټه یی جوخت و تړل او په اصطلاح دخپل مرګ خوله یی خلاصه کړه، دلته شمع هم کرار کرر دغمی او بخملی په یی وسیو او به کیده اوخپل زړه .یی ویلی کاوه، اوهلته بخملی اوغمی هم قدم په قدم د بی هوښې اونا بودې خپوتې ځانونه غورزول... چې شیبه تیر یده د ډیرو سکرود بخار څنډې د بخملی له صراحی او بخملی غاړې او د غمی خوار له پټ اور سیره تاویده اونشاریی ورکاوه. دواړو مینانو په ارامه او خوب خوب ځان د مرګ کومی ته ورانچاوه.

شپی لادسهارا علان نه وکړې چې دې دوه عاشقانود سکرو په بخار کی خپل خوږ ژوند فنا ته وسپارشو دواړه اوچې سپاشو دواړه مینان د ګلونود لښتو به شان چې د سنی بادوهلی وې زیړې بشړې بود بل څنګ ته غاړه غړې پراته وو... اوشمعی هم ددوې په مرګ تر سهاره ژړلی اوخپل زړه یی خوړلی ؤ.

سبا... په هغه شوم سبا د بریکوټ ټوټنه سپین ږیرې ږیرې راتول شول او دا دواړه ګلدستی یی، د بریکوټ دنوآبادې په مشهوره ادیره کی دا آسمایی په غیږ کی، خاورو ته وسپارل.

او په دې ډول دوه بی سزاره ډبوې سړې شوې.

میراثی پـــنه

* * *

PROPERTY OF ACKU 4611

دوزبین شنه دره کهچالیدلی وې نوورته به معلومه شی چې دا دره هم زمونږ دهیواد دنورو غرنیو درو په شان زړه راکښونکی هوا، خوږه فضا او دملغلرو په شان رنې او سړې اوبه لري. . . دوزبین دد ري هوادپغمان له هوا نه سړه اوله اوبونه ښې او به خوزدوري دي . . . دوزبین د د ري شاوخوا زه د کاوون غره او شاخونونې پلټنې و هلې ده چې دوزبین خلکو ته له خپل ځیکر نه او به ورکوي. د کاوون دغره تندې سپیره نه دي، په دې غره کې دجلغوزو، لرګیو او نښتر وځنګلونه شته دي چې دونو سیوري ښې هرسهار د کلیوپه با سواد با نډو په د یوالونولګیږي، دوزبین د د ري لوید یځ اړخ ته یوه سیمه د شینکی کاسی په شان وداته ده چې ((یخ ډنډ)) ورته وایی، یخ ډنډ د تګاوا وزبین څنګونوته پرته ده . . . په یخ ډنډ کې د توتا نواوغوزانوونې ډیر دي، ځاروبوسا تل د هغه ځاي د خلکو کسب او

دنده ده، چې ما زيګر شي اولهر په هنجوهنجو اوسا ګوسلګود کا وون دغره له شکر نه اوړي اووروستی سړي بخونی وړانګی په يخ ډنډ باندې داسی وغورزوي چې ته به وايې: داسيمه دلهر وړانګو په خپله زولی کې اخيستی اودآسمان لمنې ته يې له ځان سره وړي.

يخ ډنډ رښتيا هم يخ ډنډدي ، چې سړي بوه ورځ دې سيمې ته لاړشي، بيا يې زړه نه کيږي چې دې سيمې ته شا واړوي ... پسرلی اواوړي يې ډير خوږدي، خوژمسی يې لږ تر يخ غوندې دي .

ګل مکی دهمدې يخ ډنډ لوړه هڅکه مې ورته د يخ ډنډ لور وويل چې ګل مکی سور اوپلار نه درلودل ،اوديتيمې او يسيرې ترخيږې و لا ندې په دې سيمه کې ژوند ګاوه . هوراو پلار يې د ژوند دو ره ټيره کړي وه، اوپه خروار خاوری پرې پرتې وي ، خو ګل مکی دنښتر و دواړه نيالګی په شان وده کوله ... بې خونه يې کول او پخيدله ... خوچيرته اودچا کړه ؟

ګل مکی د يې له يا ګل و، نه يې بن پيژانده اوزه يې مالياړ درلود چې داو بواوروزنی نه يې خبر شی . ګل مکی چې يتيمه اويسيره شوه د يخ ډنډ يو کلی ملک سرور خپل کور ته بوتله چې خپل خاروي پرې وپيا يې اود کور کا رورته وکړي ... ګل مکی لا ته کلنه وه چې دولی لښته ږه يې په لاس کې وه ، د ملک سرور غوايو شا ته به پښې ا بله اوبا يلو هم روانه وه، ملک سرور ، ګل مکی ته يوازې دشنې رنګ شوي خا ستا نه يوا وړ کميس جوړ کړي و ، چې دا ما شومه تر پنجو پورې په کې پټه وه اوپه ځان کې يې دشنه کفن په شان معلوميده ... لوخ سر او لوڅی پښې نه يې په سروغر موکی د ملک سرور غوايې پيول . دخا ستا کميس يې د کوچنی اوما شومی ګل مکی نا زک پوستکی يې ورته سولاوه دسرو يښتا ن يې هم دخيرو له لاسه نه معلو ميده . په سر کې يې ريچې

او کښی دوسره زیا تی وي ،چی ما شومی نجلی به ترسپا پوري ورنه خوب نه شو کولی .

گل مکی، بی موره وه ، نوربی خوك و ،چی جا می او سر بی ورته وخت په وخت وینځلی واي ؟... چی بی موره نجلی به تیر ما زیگر، غوا یی د ملك کورته راوستل، د ما بنام ډوډي په وخت کی به د ملك میرمنی دسترخوان خورکړ ،له خپلو بچیانو سره به په یوه دستر خوان کینا ستله، خوورې بی موره نجلی ته به بی دلر گیویو کاسه کی کتغ وا- چاوه له ځانه لري دصوفی په سر به بی کینوله، ځکه چی ملك به تل ویل چی

دا بی موره بی پلاره چی زه وو یښم، اغیره کیږم او خوا می گرځی همد- غه وو، چی بی موره نجلی چاد دسترخوان په سرنه پر یښوده .د ملك میر- منی به تل د دیگی د ډیخ کتغ بسمیري نجلی ته اچاوه ... خو ما شومی نجلی په پټه خوله ډوډي لـ ـه ستو نی تیرولی :

کومه شپه چی به ملك په خپل کور کی چرگ حلا ل کړ، خپلو کوچنیانو ته به بی د چرگ ورنوزه اودسپنی غوښی ورکولی ،خو یتھی نجلی به دستر گو لاندي غوښوته کتلی ،خوله ویري بی غیر قدری نه شو کولی چه ما ته هم غوښه راکړي، ځکه ما شوم زړ گی بی پوهیده چی د یتیما نو او بسیرا نو په برخه غوښه نشته او باید دزړه غوښی وخوري د گل مکی د ملا ستی ځاي هم د غوا گانو داوخور ترخنگ و. په اوري کی به یی یوشلید لی پوزي ارخ لاندي و ، او په ژمی کی به د ملك دیا بو په ځمل پرته وه، خوبیا هم گل مکی غټیده .او دغه میرا ثی او بی خاوندہ نیالگی ډډ کاوه او سپوري بی کاوه ،چه د اختروړ- ځی به شوي د گلی کوچنیانو او د ملك ما شو ما نو به نوي جامی وا غوستی ، مینډو به بی ورته ستر گی توري کړي، سرونه او پښی به بی ورته و مینځل او تالو نه به بی خوړل خو گل مکی به ار یا زه دزیانه

کلهٔ یو کوچنی لباس ته کتلی او کله دبل . خصوصاً چې د ملک کوچنیانو به نوي جامې واغوستې ،اود اختر مبارکی له پاره به دخپل پلار کوتې ته ور تلل ،د ګل مکی د زړه په واړه منقل به د بې پلاري اوبې سوري سکروټی تازه شوي ... او زبانې به یې شروع کړي . ګل مکی به ډیر سر ، لوښې پښې شایدلی ټټر، د ملک د کوټې دروازه کې د کوچنی ډیره دارپه شان ولاړه وه. کله به یې د ملک یوه کوچنی ته ویل چې: فلانی جانډجامې دې مبارک شه او کله بل ته خود ګل مکی اواز دیوي یسمري خولې نه را وا ته هیڅوا ورته « سلامت» قدري هم نه وایه .

داختر په ورځو کې یتیمه نجلۍ له غوا پیونې پاتې وه، ځکه چې د ملک سرور کوچنیان یې په تال کې نو ل او زنګول به یې خیر، ګل مکی یاد یخ ډنډ دغه یې سړې لور ژوندي وه، نومجبوره وه. د ژوند انه هر حرکت سره سازښت وکړي . ګل مکی ژوندي وه. ژوند د هیڅ له پاره ژوند دنا بودی له پاره ، او ژوند د ډنډله پاره ګل مکی د ډیډیا شین بوټی او شین ګلو ، چې د هر چا له نظره پې نظر پاتې شوې و . د ژوندي وه ، خو د ملک دغوا ګانو له پاره ... چې غواوې وپیا یې ، غواوې او به کړي ، غواوې له لمر نه سیوري ته اوله سیوري نه لمر ته کړي . او د لوښلو په وخت کې خو سیان و نیسي د یتیمې ګل مکی همدغه ژوندو اوبس . . . نه له خپله سره. خبره وه او نه له بره . ګل مکی له و ړ کتوب نه پیغلو تې شوه دولس دیارلس کالو ته یې عمر ورسید ... په وچ ګو ګل کې یې وړو انار ګوړو سرونه اوچت کړل ، په شونډه وکې یې د پیغلتوب وړوبخر وبه الوتلو پیل وکړ ، په او بلنوستر ګو کې یې د پیغلتوب بریښناوی لړلړ معلومیدې ،وبیا هم د یتیمې ګل مکی به لښته په لاس کې وه او دغوا ګانو شاته به ړو انه وه.

د گل سکی هم ولی نجونی ستری شوی وی ، خو یوازی گل سکی وه چې بیا هم لښته په لاس د غوا گانو شا ته روانه وه . چې اوږی به شود یخ ډنډ سیمې په پټیو کې به واښه کم شول ، نو د غاړو یو خاوند انو به خپل غوایی غړه ته بیول . گل سکی به هم د ملک سرور غوا گانی غړه ته بیولی .

د گل سکی نظر ته هیڅ شی پنه نه ور ټلل ، حتی د الوی غړو نه او د اډیخ ډنډ شنه سیمه د ډیر نظره پیکه او بی خوڼه معلومیدل . یوازی دوه خیزه ورته گران او خواږه ، وو چې یوه خود ملک سرور برگی غواوه . د اغوا ډیره ارامه غواوه چې گل سکی به ورته وویل : مخه ... نو ټله به او که به یی ورته وویل : ودریږه . . . دریدله به . . . خود ملک توره غوا ډیره کټاره اوشیطانه وه . . . هرخواچې به یی سخه شوه ټله به او گل سکی به یی زوروله . برگی غوا او ته د ملک له پښی نه هم سنگینه اوپنه معلومیده ، مخکه د ملک پښی هم د کټارۍ غوا په شان یو ، ورځ له ډیر سره په رانه وچولی خبرۍ نه کولی ، او بل کوم شی چې گل سکی ته له برگی غوا نه هم گران و ، د مور پنه او گاولی وو ، چې د ی به تل د خپل زړه غوندی خپل تخرگ کی گرځواوه . چې مور یی مړه کیده د نا ویتوب له وخته یی د غه گاولی په سره کټوه کی ساتلی و ، چې بیا ورنه پاتی شول . د ځنکدن په وخت کې یی د ملک سرور پښی ته ور کړی و چې که بیا یی لور م گل سکی ژوندی وه او غټه شوه د اگاولی ور ته وسپارې ، نو د ملک له پښی یوه پنه ورکه شوې وه ، دا یوه پنه او گاولی یی ، گل سکی ته ور کړې و . گل سکی د مور په دغه میراث گاولی او پنی با ندې د مور سینه کو له کلة به یی په دواړو ستر گو کې ښو دله ... له پنی نه یی د نا نزکی په شان خه زړی توتی تاوی وی یو تکړی یی ، ورته په سر کړی و ، او له ځان سره یی غوا پیوانی ته وړله هلته به یی د مور پنی او گاولی سره . کله کله به یی دا کیسی ورته کولی :

مورجانی د ملک پښتنو ژبې پوهه. قاروه ما ته یې وویل چې غواګانې دښې نه نه دی مړې کړې.

تا به ویل چې پښه ورسره خبرې کوي، هغه ته یې ډاډ ګیرنه اوتسګن ور کوي، اویا ورته وایي چې :

ته یې موره بې بلاره نجلۍ یې ، زړه دی د ملک د ښځې ظلا مو نو ته ټینګ کړه .

نو ګل سګې به بیا دخپلې مور پښې ته وویل :

ـ بڼه ده مورجانی ، ځان په غلی کم . . . !

چې دښمنې به ګل سکې ځملاسته پښه به یې هم په خپل سروند کې ښودله اوورته یې په معصوم انداز وویل :

ـ مورجانی ، زه تاسره ویده کیږم ... د ملک لور هم له خپلې مور سره پرته ده .

دا به یې وویل او دمور پوزار یا پښه به یې په غیږ کې ټینګه ونیوله اخوا دیخوا به یې ښکل کړه ، لکه ګلاب غوندې بوی به یې کړه او دمور بوي به یې په دماغ ولګیده ، او د ورځې ستړي بدن او پریشانه حواس ارام کړل، اوویده به شوه .

ګل سکې ته دخپلې مړې مور ګاولی کټ مټ دخپلې مور په شان ښکاریده، یوه شیبه یې په ځمکه نه اینښوده، تل به یې دا پوزار او پښه په غیږ کې نیولی وه .

یووخت چې داوړې غرمه وه اودیخ ډنډله غره نړۍ تپ پورته کیده، پیغلوتی ګل سکې بیا د ملک غواګانې غره ته دځرلو پاره بوتلې ، غوا ګانې یې هلته خوشې کړې او دادغره دیوې وني دسیورې لاندې کیناسته او دمورله پښې سره یې خبرې کولې، چې کله یې ستړ ګې وغږ ولې بیا د ملک توره کټاره اونا ارامه غوانه وه، ګل سکې دمور پټه په ټخرګ کې ونیوله، او دغواد پیدا کولو په لټه وخوزیده، کټل یې چې توره غواد پرانک سمښې اوغارته روانه ده .

هغه د پرانګه غاړو، ډیرې غوا ګانې اوښارویې د اړ لې و ، ځکه
ګل مکۍ په چغو او منډو غوا پسې ورغله، چې ورنژدې شوه رښتیا هم د ملکۍ
توره غواد پرانګه ترحملې او یرغل لاندې وه... ګل مکۍ د غواد خلاصون
له پاره چغې او کو کا ړې جوړې کړې ، داسې چغې چې په ټولو غرو کې یې
انعکاس اواز انګې تیتې شوې . . . د پرانګه چې په ګل مکۍ ستر ګې و
لګیدلې غوایې پر ینبوده ، په دې بې حمله کړه ، خوښه و ددې چغو نور شپانه
او پونډه خبر کړې وو، هر شپون او پاډه وان یې د سرستې له پاره منډې
وهلې . . . د پرانګه غر یو اود ګل مکۍ چغو ټول غرلړزاوه .

شپنو، ګل مکۍ د پرانګه له حالقه او کام نه خلاصه کړه خو دا سې خلاصه
چې ما ړې سا په کې نه پکیدله . . . ګل مکۍ بیا هم د خپلې سورې پنډه په ټخر ګ
کې نیولې وه . . .

لالونې شپون په شا باندې ګل مکۍ د ملکۍ کورته را ورسوله .
په خوا له دې چې ګل مکۍ د ملکۍ کورته ورسوله شې، د هغه غوا زخمې کورته
ورغله، ملکۍ او د هغې ښځې چې خپله غوا زخمې ولیدله، له قار او غضب تور
سکاره وو چې کله یې ګل مکۍ را شې چې سر یې ورته د با درنګه غوندې وخوړې
. . . خو ګل مکۍ له غوا نه ډیره زخمې راغله... چې د ملکۍ انګې کې یې
قدم کیښود، د نړۍ لښتې غوندې د سپینو زرود تیر غوندې چې ځان یې په
خپلو وینو له پولې وه، د انګې په مخ و غورزیده . . .

ملکۍ ټوله کورنۍ له غوا نه تاوشوې وه، ګل مکۍ باندې یې پروا هم
ونه کړه، غوا خو یې شودې ورکولې، ګل مکۍ خو د رلود ل چې د ملکۍ کورنۍ ته
یې ورکړې . . . ؟ نو ځکه ملکۍ ژه خپله غوا له سلو ګل مکیو نه ګرانه و.
ګل مکۍ چې د انګې په مخ کې په وینو لت پت وغورزیده، یواړې د ملکۍ
پر ګې غواد هغې څنګ ته ودریده ، او د خلې پې وفاداری خدمتګارې له پاره
یې د کوندې ښځې غوندې د ګل مکۍ په ځوانې لمبه لمبه اوښکې تویولې...

نور په هغه لوې کور کې هیڅوک پیدا نه شول چې د ګل مکۍ سر له خاورو پورته کړي او په خپل زنګانه یې کیږ دی .

ګل مکۍ چې مړه کیده د ملک و ړه لوړې هنګ ته ودریده. ګل مکۍ د ځنکدن په حال کې دوسره ورته وو یل :

ملک صیب ته و وا یه ... چې ما خپلو

ډاسو کې ... پښه کړې ... او دا ز ما د سو ر پښه دی هم را سره یو ځای پښه کړې... چې د ځمکې په سر ژوند د کورنۍ نښه پا تی نه شی .

رښتیا هم ګل مکۍ او د هغې د سور پښه یو ځای قبر ته لاړل او د ځمکې له سره د دوی نښه ور ک شوه .

سوریابو
یا
قمرالدین

* * *

لنډه حلوایی پیره یی درلوده . دمخ پوستکی یی داناردپوستکی غوندی سور یخن و. وروځویی هم لکه گلابا تون غوندی رنګ درلود . دستر گورنګه یی د مس غوندی و. په سرکی یی ویښتان لږ وو. خصوصا دوچولی پاس ویښتان یی زړی خولی اوخولو توی کړی وو، اوچی خولی به یی لری شوه، سپینه توخه به یی له لری معلومه شوه ... شوندی یی لږدی وی ، نو ځکه یی غاښونه له لری معلومیدل. چی له لری به دی قمرالدین ولیدی ، نو تابه ویل چی خاندی... دخولی غاښونه یی ګندوشوی نه وو. خودزیړوجوارو شان به تل زیړ و .

قمرالدین ځوان و، شپږ مټ او بازو یی درلوده، غوښتن ور سپیږ یی درلود، اود بدن ډډی یی هم دچارتراش غوندی ډک و. خدای ورته ډیر شپږ صحت سلامت ورکړی و، خوورځ یی یوه وه چی شی یی اچوله ورته چپه کیده. پلار یی نه درلود، مور یی نه وه، اوداسی نور ... نه یی په اسمان کی

ستوری درلود اونه یی پهځمکه سوری، نه یی چا پلار پیژانده اونه مور... همسی یونیزه وړی و، چی له هر ځایه او بور اوړی و، خور اوړی یی و.

قمرالدین یونو کرو ، کله یوسره، او کله بل سره ، او مزد وری کی ان زمونږ تر کلي را رسید لی و . . . دلته له یو ز میندار سره نوکر شوی و .

هغه هم په یوه ګیله ... دقمرالدین مزدوري په کیله وه، نه یی له چا نه معاش اخیست اونه یی غله دانه قمرالدین په زړه کی پاک وه چی هر کور کی به نو کر شو ، هغه کور به یی دځان ګانه ، اودهغه کورغم وښادي به یی تول په ځان مربوط ګنل ، نوځکه یی له چا نه پرته له یوي خیټی دودي نه بل څه نه غوښتل .

قمرالدین چی د کلی له زمینداړ سره نوکر شو، دهغه ولی ور باندي سپک شول ، پولی به یی ورته وهلی ،اوکري ورځ به یی د ځمکی دخاوند په کار وکی ځان خولی کړ او چی ما زیګر به شو ، دولونیالګی اویا دونو بناخو نه به یی و هل، بناخو نه به یی په شاکړل او پسو نـه به یی هم سخکی کړل او کورته یه را رو ان شو .

چه ما بنام به شو، دودي به یی و خوړه، تر ما سخوتنه به یاد کور په کارو کی بوخت و ،شارو یوتدواچه اچول، شپه کی دوه ځله دهغو څارنه کول دا تول د قمرالدین وظیفه وه، کله کله چی به د کور د خاوند دخیښا نویا خپلو انو غم بنادي وه ، یا به یی قولیی مالی، اخیړاو کا ګل پیداشو ، نوبه یی قمرالدین ورته اړیکا ر او بیګار به نامه واستاوه ، یعنی په قمرالدین باندي یوازي د کور د خاوند کارونه نه ووبار، بلکی د هغه د خپلوانو اوخیښا نو کارونه هـم دده په غاړه وو .

دي په دي تولو کار وکی، په پته خوله بوخت و ، نه یی له کـور والانه شکایت کاوه، اونه یی دهغی له میرمنی او کو چنیا نونه

په تمره بیادکور والاکو چنیان ډیر شوخ وو، قمر الدین ته به په قار شول یا به یې په ډیرو وویشت اویا به یې کنځل ورته کول، خوقمرالدین به په وړین تندي اوسو سکه خوله داتیولی نا خوالی تیرولی ... ان چې دمیاشتی دوه ځلی به قمر الدین دکور دخاوند له خواهم وهل کیده.

بوه ورځ چې قمرالدین په پټیو کې پسونه پیول او دځمکې خاوند په په خولو پټیو کې ګرځیده، یو پسه په غنمو کې ګیر شو، او په غنم خوړلو یې پیل وکړ، دقمرالدین پسه ته پام شو، چې هرد یو غنمو کې ګډ دی، نوور پسې یې نارې کړې:

قمرالدین: (په وارخطایی (هری... هری ورک شه...) منله اخله) هری...!

له دې وینا سره قمرالدین له پټې نه یوه ډبره واخیسته او پسه یې ورباندې وویشت، تصادفاً ډبره د پسه د پښې غوږ څنګ ته له ستر ګې نه لږ پام به اجل ځې یې ولګیده او پسه ځای پرځای وغورزیده... دکور والا پسه چې په ځمکه وغورزید، لګه چې په قمرالدین باندې اسمان غورزیدلی وی. له ډیرې وډیرې نه یې په ستر ګوجال خور، سور رنګ یې دنارنج غوندې زیږ شوا ولة هیبته یې ژړا می په رچیدو شوی، اود کورخاوند خپل پسه ته چې پام شو، نو په ځمکه شتیږی، نولومړی یې پسه حلال کړ، او بیا یې قمرالدین ته کوتک واخیست ... ترهغه یې وواهه، چې قمرالدین له ښوپاتې شو، او پر مخ وغورزید، اوبیا یې په هلوهلو قمرالدین ته وویل:

سړی: (دوهلو په حال کې) چې مړی نه کړم، نه دې پریږدم! قمرالدین: (پر درد او فریاد) (ما نه سهو آ پسه ولګید... زه ملامت نه یم... رحم و کړه په ما رحم و کړه سړی: (دجنګ په حال) نه دې پریږدم، چې دخپل پسه غ ډې دې حلال نه کم ... (وهل او فریاد) په دغه ورځ دکور خاوندر ښتیا هم

غوښتل چې قمرالدین ووژني او دخپل پسه کسات ورنه وا خلي، خو نور کلیوال راغلل او قمرالدین یې دهغه له شره خلاص کړ. قمرالدین سر ساتي او پښې ما تي له هغه کور نه وو تا ویو ه بل کلي ته لاړ ...

قمرالدین، هلته هم په یوه نس او په خالي ګیډي مزدور شو. په دې کور کې له هغه کور نه زیات په عذاب و، ځکه قمرالدین یې دخپل کور له کار و نه پرته، بل بر ګر ته هشتکار کړی و، یعنې په ا ته مسته غله کې یه یې یو ټن قمرالدین ته ور کول، او قمرالدین هغه اجوره ټیر ته دهغه کور خاوند ته ور کول چې دې ورسره مزدورو . دهغه بل زمیندار دو هلو په وخت کې عیبې شوی و، چې چاري یه یې کشولې، یا به یې ګیډي په شا کوه، بې لاس او وليه یې خوږ یده خوده به داتول درد هضما وه، چې په سرو غرمو کې به یې کار کاوه، خو خوله به یې ټټه وه نه به یې شکایت کاوه او نه به یې له په یره کار د ستړیا حسوله، خو په د غه حالت کې هم چا ارام ته نه پریښوده، خصوصا ه د کلي ځینو شوخو هلکا نو خود ده نوم نه اخیست، ده ته به یې سوریا بوا یه، خود قمرالدین یوغوږ د بوال و او بل یې دروازه . . . دهیڅا خبر و ته یې غوږ نه و او په زوږ نه سر به یې دخلکو کار و نه کول .

قمرالدین چې د دوهم سړي سره نو کر شو، د کور سړي من چې یوه زبا نیازه او زبا نډر ازه شخصه وه، له قمرالدین سره چې وه .. . چې قمرالدین به هر کار کاوه، دا به ور ته غږ میدله . . . قمرالدین خو یو اخی د ګیډي مزدورو، نو مجبورو چې په دې دوسره یې انتها کارو کې خوله ګیډه سړه و ساتي . . . د غرمې ناري خود قمرالدین تل په ټټیو کې و . کله ډیره وه کله ډیره وه، قمرالدین دخپلې خپلې ګوزاره ور باندې کوله، خود شپې چې به کاسې ته کینا ست، یوه سړي یه یې په لاس کې غټه شوه، د کور سړي منې به ور باندې سترګې برګې کړې چې :

پېغله: نس دی وخوره قمر به. . . کهډوډی زماده ګیله خوستاده ... لږ احتیاط کوه !

قمرالدین به له شرمه نور هم سوروا وښت، ژر به یې دلاس سړی نیمه کړه، بیا به یې په کاسه کې وغورزوله، اونیمه نوره به یې په لاس کې پټه ونیوله او په شرم به یې دکور میرمنې ته وویل :

قمر : (په نرمه) بی بی جانی ، کاسه خو مې نه ده خو ړلی خو ډوډي خـــورم !

دښځې به یوا ورته یوڅیري دوه شول. په توندي به یې و ر ته وویل :پېغله: (په تو ندي) چې کاسه خوري ولی خاوري نـه خوري ... لږدي سړي وړه کوه، خوله به دې ور سره وشلیږي !

دقمري چې سړی به یې په لاس کې وچه پاتې وه ،پېغلې ته به یې وویل

قمر ي :بی بی جانی ،خوله زماده ... کهو شلیده ، پر وا یې مه کوه !

پېغله :(په قار) چوپ شـــه یا بو ...

قمرالدین باندې دیا بو لقب ایښو دلو، دیر پدتا ثیر کړې و،خو یو مز دور سړې و چاسره یې جنګ کړې وای ... چې چا به ور ته د نا بو اوازو کړله قهره به لکه سره بتې غو ندې شوه، خویو اوسیلی به یې وکیښ ،نور به یې هیڅ و نه ویل .

دقمري به تل دکار جا مې په تن وې . چه هرچا سره به مزدورشو له سپینې خا متانه به یې جا مې ورته جوړې کړې، خوهغه دکارجا مې اود کار له پاره ... نه ددې له پاره چې د قمرالدین ټولی غوښې ور باندې پټې شی .دکمیسه لستونې یې تر لیچو پورې و ،اود پرتا گـه پا یڅه یې تر زنګنو پورې ... پوندې اومتې به یې تل لوڅې وې ... ان چې کمیسه ته یې چادیوه غران دوه سپینې تښې هم نه کینولی ،

تل به‌لوڅی پښې، لوڅی ستې‌او خلاص ټټر ګر ځیده . چې‌د شولود هال وخت‌به‌شو ، په‌قمرالدین یه‌اختر شو، ځکه چ ی‌توله ور ځ به د ځټوپه ټټیو کې ګډو پوڼه‌ی‌به‌ښې ترزنګنو پورې خټوورته ټـټې کړې وې، اود لمر له‌سو زیدو نه‌په امن و ...

یوکال چې‌دا وړې وخت‌و ، او لمر په تول ژنګر هار اولغمان دښې ځوندې ارولی‌و ،ځکه څه‌چې اوبه ښې‌هم ورته توډې کړې‌او سړې کړې‌وې ،خصوصاً د شولو زارو ځکو اوبه خود سموار داوبو په‌شان سړې‌وې ،هرځوك په‌کې نه‌شو ژنوتلی ، اودغر سو لمر هم د انسان ماغړه جوشول ،پدغسې تګنده غرسوکې کارکول ، دهـیڅوچا په‌توان کې‌نه‌و ،یوازې قمرالدین اودده په‌شان ځونور خوار یکښ بزګر ان لګیا ووپه ټټیوکې ښې‌تیارې کو له ، په‌دې امید چې‌که ګونډې زمینداره ښې‌و رته آفرین ووایی .

قمرالدین دزمیندار وآفرین ته‌د پر خوشحا لیده .له سهاره ترماښامه چې‌به چاپړې کارو کړ، خوچې ماښام به چا قمرالدین ته‌آفرین ووایه ،دده تولې ستړیا به‌ور باندې ور که شوه .

داځل هم‌دې داوړې په‌سره غرسه کې په‌ټټې کې لګیاو ، کار ښې‌کاوه چې‌ګو ندې آفرین به‌و اورې ،خو هلته دده‌د کور خاو ـ ندې دده‌د ګیډې له‌پاره دشیطانې نقشې جوړ و لی .

دقمرالدین ګیډه به‌ټول کلی‌کې مشهوره شوې‌وه ، اوهـر چا به دده ګیډه مثال راوست، زیاتو کلیو الوبه ویل‌چې : ګیډه دې داسې ده، لکه‌د قمرالدین ګیډه ... یا به ښې‌ویل: څه قمرالدین خونه ښې‌چې دومره زیاته خوړې . قمرالدین مسکین په پوې ګیډې نوکرو ،اود همدې ګیډې له‌پاره ښې‌دا دومره سپورې ستغې قمـر ـ ولی، خودغه تشه ګیډه هم‌دچا وربانډې پیرزو نه‌وه چې‌له سهاره

ترغرمی اولهغرمی نهترتیر ماښامه یی کار کاوه ،هیڅا نهویل چی قمرالدین دیر کار یگر سړی دی ، یاد قمرالدین قدرکار دیوان هم نهشی کولی ،خویوالمی دده گیډه مشهوره شوی وه، دادرسته وهچی قمرالدین بههره غرمه بولینگری نری اوگره او هر ماښام ځلور دوډی خوړلی ،خوکه قمرالدین پهشان کار بل چا کولی ،نوبهیی په شلو دوډیو اولسو غوریو اړیمی همنه واې تریخ شوې، خودقمرالدین گیډه دهرچا دسترگو ازغی وه، په تیره بیاد زمیندار دمیرمنی. چیقمرالدین بههره سړیله ستونی تیروله ، هغی بهفکر کاوه چیسر یی ورتهخوړي. میړه یی هم له ښځی نه کم نهو، هغه تههم د قمرالدین گیډه دروې او بلا گیډه ښکاریده ، و یریده چی تول کور یی ورنه ونهخوري.

چیدکورخاونده به جومات تهورغی، لهلمانځهنه دمخه به یی هم دقمرالدین دگیډې خبرې کولی اولهلمانځهنه وروسته بهیی هم د هغه گیډه کلیوالوته غوږ ولیوه .

قمرالدین بیچاره بهد جومات په وروستی کونج کی گوته کړې ناست و. خپل سر بهیی لهخجالته داسی زوړند کړې و، چی زنه بهیی پهنامه لگیدله ، کله کله به یی لکه دلیونی غوندې سرو ښورا وه، اولهځان سره به یی ورو تو یهوویستله. دوږي تو یه، دومره ورو به یی وویله چی یوالمی بهده واوریدله اودجومات بروزو اودیوالو .

خیر په هغهورځ قمرالدین پهتکنده اوسره غرمه کی لگیا وچی د زمیندار پتی دبزگرلهزوې سره تپهاری کړې که گوندې دکورخاونده رتهآ برین ووایی ،خودلتهپه کورکی دکورمیرمنه ناسته وه دگیډې په باره کی یی خپل خاونده تهخبرې کولی ، ښځی خپل خاونده تهوویل :ښځه :سړیه، داقمري نهدې لویه بلاده ، داگیډه چیدې لرې اخر به داکورسمیره کړې .

سړې :خدوکم ښځی، اوس خوهغه نشته . . . کهدوډې زیاتهخورې؛ کارهم دیر کوې .

بێخه : چی کار هومره ډیروکړی، چیډوډی ډیره وخوری، موږته پکی تاوان دې دکورخاوندچی دبێخی لهخولی نهدتاوانخبره واوریده وارخطاشو،بخکهچیلهتاوانهډبروبریده،اویادربێتیایی هم دقمرالدین له گیډې نههم گتیه کړیواې . . . نوخپلی بێخیته یی وویل :

سړی : (پهوارخطایی) بێهنوچیقمری موږ تهتاوانرسوی، او ډیرهډوډی خوری چاره خهده ؟

بێخه : پهچا رهیی زه پوهیږم ، اوس دغرمیډوډی تهرا ځیایا بهیولنګړیڼری او ګره رانه غواړی، داځل یېپهډ وډی کی جمال کوته ا چوم .

سړی : (پهوار خطایی) او ، بێخی ، ګرمی ده ، جمال کوتهبهیی سړکړی . جمال کوتهګرمهده .

بێخه : هیڅ بلایی نهوهی ، هغه سوریا بو مرګ دو سره ژرته وژنی ، یواځی اشتیهایی ورته خرابوی ، اوله دی زیا تخو را ك نه یه پا تی شی .

سړی تهد قمرالد ین پهبیاشتهایی اولهډو ډی نهیه پا تی کیدو کی ګتهوه ، نوبیدخپلی شنطانی سیرمنیخبره ومنلهاوبێخیتهییووبل :

سړی : کهجمال کوته ورکوی ، پهاند ازهیی ور کړه چیدر نهسړ نهشی !

چیغرمه تمره شوه اوساسپنیزلومړی وخت شو ،قمرالد ین پهختیو ککړ ، لوڅی پوندی ، خلاصی ګروی چی چاری بیهمپه اوږ ه وه دزمیندار کور تهراغی . پهلاره کی ډیرخوشحالهډ وچیڼن له کاره ناوختهر اځلم ، ګونډی دځکی خاوند ور ته آفرین وو ایی . . . قمرالد ینچی انګړته رانوتبێخی ورتهله لری غږ کړ :

ـ قمریه ، همالتهکینه ، داده ډوډی دی درو ړم !

دکور سیر مني دختونو په لنګري کې قمرالدین تداوګره نري کړه ، دلر ګوکا شوغه يې په کې واچوله ، انګړ ته يې ورته کښته کړه . قمرالدین د انګړ په چوترہ او صوفه باندې په سپیرو خاورو کې پټې ووهلې . او له لنګري نه يې پښې تاوې کړې ، خو غوتې نوش پیاز يې هم له ځان سره له پټيونه راوړې و . يو څښتې به يې له اوګرې نه څښتله او يوه سړي به يې په پیاز ونه کوله . که څه هم اوګره ترخه وه ، خو دې دو سره وړې اوسټړې و ، چې د اوګرې په ټریخوالی ونه پوهيد . او بیا د پیاز و تر یخوالی هم د جمال کوتې تر یخوالی له منځه وړې و .

نیمایي ډوډۍ يې لا له ستونې نه وه تیره شوې چې په کولمو کې يې يو نرۍ سوخت احساس کړ ، خو هغه نا زولې نه وه ، يو مزدور کار و . د کولمو سوخت يې بیا بیزه وګانه . چې ډوډۍ يې وخوړه افرین يې هم وانه ورید . خپل زور پوزې يې په ترخ کې لوله (تاو) کړاو بیرون وواته چې د کوسې ونې سیوري ته يوه ستر ګه خوب وکړي ، او ما سپینې قضار بیا کار ته لاړشي . . . . ده چې دهنجه چنار نیالګي لاندې پوزې وغړ وه ، نور يې نود کولمو سوخت دوباره زیات شوی و ، چې دې يې ارام ته پرې نه ښود . . . دخولې او له لمنې شو . هرچا به چې ليده ویل به يې چې قمرالدین کو لرا نیولې دي .

څوک څه خبرو چې قمرالدین د زمیندار نا ترسي سیر مني ده ته جمال کوته ورکړي ده ؟ . . . قمرالدین د مسافرو د سړي په شان په سره لمر کې پروت و . له اخه ټوخه غوږ یدلی و ، هیڅوک يې نه وچې دي سیوري ته کړي . سور پوستکی يې د انجان غونډې تورو او بټ ، مازې سا په کې تکیدله ، نور هیڅ په کې پاتې نه و . اخر يو کلیوال پرې ورحمیده ، قمرالدین يې په شا کړ ، د چنار د سیوري لاندې يې وا واچاوه او په خوله يې په سنده کورته لاړ يوه کتوه شروسپي او تروي يې

راوړی ، اودده په خوله کی بی‌خالی کړی . دغه شروسیی دده دوا شوه ،شیبه وروسته بی‌ستر گی‌رنی‌شوی ، د درد په‌حالت کی‌بی هغه زاړه کلیوال ته دومره وو یل :

ـ ماخه کړی وو ، چی زه‌بی‌ووژلم . . . ؟

له دی وینا سره بیا دقمرالدین دستر گو تور لاړل ، او سپین بی راغلل‌او بی‌هوشه‌شو. زاړه کلیوال‌ترساپامه دهمدی‌چنارلاندی پرستا ری وکړه .

په‌قمر الدین خدای ورحمید ،له‌سر گه‌خلاص شو ، خو چی سبا شوقمر الدین‌له‌دی کلی نه بیا هم‌چوپه‌خو له‌وخو نحیده، خو موږ پری پوه‌نه شوچی قمرالدین‌څه شو؟چیر ته‌لاړ. مړدی‌او که‌ژوندی‌دی ؟ اوس هم په تشه گیده‌نو کردی‌او که‌مر گ ور سره کومک کړې دی؟ اودی‌بی دژوند انده‌له ناخوالو اودنا کسا نوله‌پنجونه خلاص کړی د ی ؟

دادیری ملنگ

* * *

داوړې توده وړځ وه ، دلمر له تندی نه‌سور اوربا د یه .
پاس ئی‌فضا سره کړی وه ، اولا ړندی بی څمکه ... دځمکی له مخ
نه لکه بتی په شان تاو اوجل پورته کیده . کله‌کله به‌له شود
یاړو پټو اووچو داګونو نه‌تود باد راوا لوت ، چی د سړی ځیګر
اوهډ ونه به‌بی سوزول . زه په دغسی سوزنده اوتکنده غرمه کی
دهغی پښتی په‌نړی لاره روان وم ، چی د یو ی لوبی ادبړی شمال
ته‌د اژدهار په‌شان کوړی کوړی پرته‌وه ، تندی وار خطا کړی
وم ، حلق اوستونی می‌وچ و ، اوژبه می‌په خوله کی‌نه چلیده .
دغرمی مزلونه ډیر خطر ناکو ، نوځکه په لاره کی پرته له‌ما
اوپښتی له سیمسار واوکر بوړو نه‌بل هیڅوك نه لیدل کیده . زما
ستر کی هم‌ډیروخولو سوزولی ،او داسی راته ښکاریدی، چی ګونډی
په‌ستر ګومی چال پروت وی . ځینی وخت به‌سی دلاری لوبی ډبری
هم‌نه لیدی ، پښی به‌سی ورسره ټکر شوی . بی اختیاره روان وم

او دبو غږپ او بو یسې می ساتنګه تنګه کیده . کله چې دغو نه سرته ور سیدم ، اومخ په زوړ شوم سترګی می په یوی لویی ادیری ولګیدی ، چې ښین او بېر پنجه چنار په کی غلی او آرام ولاړ و ... زه چې هم ستړی وم هم تږی ... نورد مزل کو لو وس راسره نه وو بی اختیاره می د ادیری دچنار سیو ری ته ځان ګړندی کړ ، په خپلو خیالاتو اوداو بو په تلوسه کی ډوب وم ، په تندی می خپل خادر سیوری کړی اینښی و ، اودلمر له وړ انګو نه می په کی ځان پناه کړ ی و . کله چې چنار ته نژدی شوم را ښکاره غږیشو :

ـ څوك یی ، و لی غږنه کوی ؟

اوه، زه یم اکا ... سلام ا لیکم !

ـ والیکم... ستړی مه شی راځه دلته کینه! زه دهغه له ست سره سم ورغلم او ترځنګه یی کینا ستم، زما څو اس گر می او تندی دوه ره گډوډ کړی و، چې شاوخوا می هیڅ پا م نه و . په یی پروایی می ورنه پوښتنه وکړه :

ـ اکا، او به نه لری؟ ژبه می له ډیر ی تند ی و چه و چه کښیر ی :

ـ ولی نه د لته وگوره، دوه چا تی د ی ا و بو نه ډ کی د ی . وبی څکه !

ـ چا تی ؟ زه خو بی نه و ینم :

لږ په قارشو، راته بی ووبل :

ـ ولی ږ و نه خوبه نه بی ؟ په هم دې چو تره کی دی .

دستر گو خولی می پاکی کړی وسی لیدل چې رښتیا هم دوه د ختو لویی چاتی په چوتره کی ترستونی پوری خښی شوی وی او څنګ ته یی یو سور خټین گندول هم اینښی و. ما داو بو څښلو ته هڅه وکړه چې هغه ښه را ته ځیر کړ :

ـ پیدا دی کړی ؟ . . . ودی ایدی ؟
ـ هو آکا ، دادی او س یی ځښم .
چی او به سی وځښلی نو ما زاړه سړی ته وویل :
ـ ډیر تږی شوی وم ، اکا '
ـ دی ګرمی کی ماران هم تږی کیږی . . . را لمړه شه یه دلته دمه وکړه .
ـ زه هم ددمی له پاره را غلی یم ، آکا !
ـ زما څنګ ته ناڅدی کینه .
ـ څه !

کلهچی سی او به وځښلی په ستر ګو سی رنا شوه ، نیمڅونه سی عادی حال ته راغلل، لاړم سپین ږیری ته سی مخامخ خادر وغوړاوه ، او ګینا ستم . سپین ږیری دسپینی خاستا زوړ اوږد کمیس اغوستی و ، ږیره یی دزما نی څپو سپینه پاغونده اړولی وه او په مخ کی یی ناووته او ګونځی سازی شوی وی ، لوڅ سر ناست و ، خود سر ویښتا ن ډ د و ړ و او ګرد و نو با ندی د ا سی سپیره شوی و چی د تور اوسپین توپیر یی چندان نه شو کیدای، یوه زنګانه ته یی د با دا سو یووچ لرګی پروت و، اودا بل ته یی یوزوړ کچکول چی دنولا دونړی ځنځیر یی په دواړو شوکو کی بندو، معلومیده .

ادیره له زړواونووتبر ونوړ کهوه ، اوڅای پرڅای سپینی اوښنی جنډی په کی لکی شوی وی، تازه می دنظر و اګی دسپین ږیری دمخ کاسی ته واو ښتل چی دستر ګو اودستر ګولانډی باندی برخه کی یی زاړه پر ـ هاروڼه دي، وپوهیدم چی دغه پرهاروڼه دیوی پیښی نمونه ده ، نوهغه تږی می زړه نا زړه وویل :
ـ اکا، یوه پوښتنه می کوله . . .

ـخوشحالیږم . . . تراوسه یوالمی ناست و م . . . ځان راته گونګه معلومیده .

ـمعلومیږي، چې ته ږوندې نه ، لکه چې چاږوندکړې یې. . . دستر گو شاوخوادې پرهار وڼه وینم . . . !

زاړه سړي یو سوړ اوسپنی وکیښ، اوشروع یې کړه :

ـپرهار وڼه . . . هو . . . دا پرهار وڼه زما دزړه پرهار وڼه دي چې په ستر گو کې می ښکار ه شوې دې .

ما په ډیر تعجب سره وو یل :

ـڅنګه؟ وڼه پوهیدم . . . !

ـوسی وویل چې دزړه پرهار وڼه می په ستر گو کې ښکارې . . . دا پر هار وڼه زما دسینې، زما دې وسی او په پاې کې زما دګناه پرهار وڼه دې ـستاد ګناه؟

هغه په ډیرې سا یوسی سره وو یل :

ـهغه به داوې چې دز ږوپرهار وڼو پښتنه وڼه کړې .

ـزما سوداشوه، ته باید یولاروی په سوداواندیښنو کې ډوب نه کې .

په زړه تعجب یې راته وو :

ـته ددې ځای نه یې ؟

ـنه اکاز له یوې لیرې سیمې نه راغلی یم . . . اوس خپل کور ته ځم .

هغه یوهه سوسکی وو، او یا یې را ته وویل :

ـهغه شوه، چې ددې ځای نه یې، زه به هم کیسه درته وکم .

ـخو مره به خوشحاله شم . . . !

ـګوره چې چا ته دې له خولې وڼه وځی . . . ځکه چې . . .

ـته باور وکه چې زه اسانت کاریم . . . !

ږوند بوډا لومړی خپلې ږندې ستر ګې دا دیرې شاوخوا ته واړوې، خو یوڼه یې هم هرې خوا لکه کړل، بیا یې راته وو یل :

ـشاوخوا ، خوشوک زه معلومیږی ؟

ـ کله خوک راغلل، زه دی خبروم . . . بی غمه اوسه!

ـ بنه، نو کیسی ته غوږ ونیسه اوبنه بنه راته کوه !

ـ غوږ یم . . . غوږ یم درته .

ـ کیسه داسی وه، چی زه لاډیر کمکی وم چی له پلاره یتیم پاتی شوم ، او کله می چی بی او کنې لاس و پښې نه خور، مور می هم د حق په لوری لاړل، د مورله سره گډ سره هم زه بی کسی شوم او هم بی وسه ، زسوې په کلی کی د ما سل اکا په نامه یو مشهور شتمن سړی و، هغه له ځان سره کړم . . .

ـ بنه وا یه اکا !

ـ دوه ډی بی را کوله او ما د هغه غوا یی او هار وې پیول، سر بنه دی خه خوږوم، زه زلمی توکی شوم . . . چی خو سره لوبیدم، هو سره د ما سل اکا کار ونه هم را باندی زیا تیدل، ژړنده می ور کوله، د بزگرانو په سر می امر ونه کول، با مونه، ورته ا خیږول . . . لنده دا چی خه کار نه وچی ما ورته نه کاوه ، یو وخت د اسی هم راغی، چی ما سل اکا مړ شو، له هغه نه دوه زلمیان زامن، دوه لونی، چی یوه بی گن ځیره او بله بی ور بلی نومیده پاتی شو . . . و ر بلی ما شومه وه .

د ما سل اکا میرمن ډیره مهر بانه ښځه وه، زه بی بیا هم په خپل کور کی وساتلم، او د کور نه د باندی واکداری بی ما ته را کړه .

زه چی د ده خبر وته ځیروم، نو په ما بی غږ و کړ :

ـ غوږ دی دی؟

ـ هو، اکا . . . غوږ می دی !

زاړه سړی بیا په پسته ژبه راته شروع کړه:

ما هم په ډیر شوک او ذوک د اکا رونه کول . . . په دی کور کی می شپی او ورځی د یر خوږ تیریدی، ان تر دی چی د ی کور کی پاتی شوم، چی

زماعمر (۳۴، ۳۵) ته‌ورسیده، تردی‌زمانی‌پوری دوسره‌اسوده‌وم، لکه‌چی‌انسان‌دخپل‌سورپه‌غیرکی‌پروت‌وی.

هغه‌ددی‌خبرو‌کولونه‌ورو‌سته‌لږغلی‌شو،او‌بیا‌یی‌له‌یوه‌ا‌وسیلی نه‌وروسته‌داسی‌و‌ویل :

خوچی‌د‌سپږی‌ورکاوه‌ی‌راشی،نووزرونه‌شنه‌کړی،زماد‌ورکاوی خت‌هم‌له (۳۴) کالونه‌دو‌روسته‌راغی

هغه‌بیا‌یوه‌شیبه‌چوپ‌شو،خوما‌ورباندی‌غیرکړ :

ـ‌بنه‌اکا، بیانو‌څه‌وشول؟

ـ‌وشول ، داچی‌څوپوری‌زه (۳۴) کالوته‌رسیدم ، وربلی‌هم‌له (۱۲) نه (۱۳) کالوته‌پښه‌کیښودله . وربلی‌په‌ما‌شو‌سوال کی‌چندان‌بنکلی‌نه‌وه ،نه‌می‌خوښیده،ډیره‌کینه‌می‌ورسره‌درلوده،خوچی دیارلس‌کلنه‌شوه، یعنی‌د‌پیغلتوب‌وړمی‌یی‌اندامو‌نه‌ورته‌وغوړول بیانوهغه‌پخوانی‌وربلی‌نه‌وه . . . سپینه‌خولگی‌یی‌لکه‌پو‌څه‌داسی وه، اوسری‌شونډی‌دانارو‌دغوتی‌په‌شان‌بنکلی‌وی ، نری‌ملاته‌یی نښتروسرونه‌تیټول‌اوسروبار‌خوگانوپی‌د‌بدخشان‌له‌لالو‌نوڼه‌زیات ار‌زښت‌درلود . . .

په‌دی‌وخت‌کی‌دزاړه‌سړی‌ستونی‌ښند‌غوندی‌شو ، خو‌ژر‌یی غاړه‌خلاصه‌کړه‌او‌بیا‌یی‌وویل :

ـ‌څه‌ووایم، دهغی‌بنکلا‌ته‌دچین‌ما‌چین‌بنا‌پیر‌ی‌هیڅ‌نه بنکاریدی .

هغه‌بیا‌غلی‌شو ، اوچه‌ډیره‌شیبه‌غلی‌شو. دا‌سی‌غلی‌شو چی‌ما‌فکر‌کاوه‌نوره‌کیسه‌راته‌نه‌کوی ، نوچه‌دی‌وخت‌کی‌ما بیا‌ورباندی‌غیرو‌کړ :

ـ‌مه‌غلی‌کیږه‌کیسه‌کوه‌اکا . . . !

ـ زه د دې پښکلا په جادوکی بند شوم . په رنوستر گومی ورته نه شو، کتلی، محکه چې ویره راسره وه ، دهغی دسور ویره اودهغی دو ـ رونو ویره . . . خویبا هم هغه را ته گرانه وه . . . له دغا نه اوله جهانه . ته باور وکه چې هغه به کله دچاد واده تگ ته دغان سینگار کړ په هغه و رځ به زه د سینی په تنا ر ه کی لمبه کیدم او ایره کیدم به .

سپین ږیری سړی نورغلی شو ، لکه چی د خبرو کولووس یی نه درلود، خوساور بانډی بیا غږوکړ :

ـ څه نوبیا څه و شول ؟ . . هغه یی بل چا ته ورکړه ؟

ـ نا . . . په کیرو وږولارو . . .

درانده سړی په سخ داوښکو بارا نوڅه راښویه شول ، اود او ـ ښکو سیلا بو نه یی دگر یوانه ناوو نوته راکښته شول ، بنا یسته شیبه یی وژړل ... اوسلگی سلگی شو . خپلی او ښکی یی د کمیسه په خوکو وچی کړې اوبیا یی را ته په یلك ستونی وویل :

ـ هغه یی بل چا ته ورنه کړه ... هغه سین یووړه ... ما په ډیر تعجب سره تری پوښتنه وکړه :

ـ سین یووړه ؟

هغه ژړا غونی شو، اوراته یی وویل :

ـ نا . . . په سین کی وا چول شوه، هغه هم زما دلاسه .

ـ تا واچوله؟ و لی ؟

هغه زما په خبر وکی را گډشو ، اووی ویل :

زما سینه ورځ په ورځ له ور بلی سره زیاتیده ، ان تر دی چی زما له ستر گو یی خوب هم وړی و، تولهشپه ه به نا ستوم، دهغی دسینی غم به سی د تمبا کو په چلم غلطاوه . زه پوهیدم چی ور بلی زما لاس ته نه

راځی، څکه‌چې زه دغرې نوګروم ،راتدې هم زېکا ریده چې وربلی ماته را کړې . . هغه باید یوې زلمې واده کړې‌وای ... دا سې زلمې‌چې‌پدې‌شته اوجا یدا دې لرلای اودور بلی‌مخې وځی... پر ته له دې‌هغه‌د یارلس کلنه‌وه‌ا'وز ماعمرله (۳۴) نه‌ا'وپتې‌و، خوزه‌په‌هغې مین‌وم ... مین‌څه چې‌لیونی یې وم‌کله‌سې‌پر زوکیده چې‌وربلی د بل چادکو رخراغ شی ... زه چې‌د هغه خبرو‌ډیر‌حیر ان کړې وم، په بډه سې‌ترې پوښتنه وکړه : نواخر ؟

هغه‌بیا راته وویل :

ـدغونا امیدیو ، زه‌ورځ‌په‌ورځ زورولم .

ما بیا ورته وویل :

ـهغې هم‌درسره مینه درلوده !

هغه‌بوسو ر'اوسبلی وکړیش ا'وبیا یې وویل :

ـنا... څکه‌چې هغې لا مینه نه‌پیژ انده، اوپر ته‌له دې ز ما او هغې‌ترمینځ‌دځمکې‌ا'وا سمان قدرې‌لرې‌و'لی و ... یوه‌ورځ دوربلی تروراناروغه شوه. سور بې‌خپلې‌لورته وویل :

ـنه پوهیږم ،چې خوربه سې‌خنګه‌و ې ،

کوربې‌هم لرې‌دې ... لورې‌ته جا سې‌یدلی‌کې

وربلی‌په حیرانتیا سره‌خپلې سورته وویل :

ـولی سورې ، خیریت خو دی ؟

سورې ورته وو یل :

شپه به‌ور کره وکې ... سبا به ماته دهغې د جوړ ناجوړ خبر راوړې ... همدا اوس دې‌جا سې‌بد لی کې .

وربلی په‌وېرې سره وو یل :

ـدسین اوبه زیاتی دی سوری ... دا به ...
سوریی دهغی خبره لنده کړه ورته یی وویل :
ـزانگو نشته ... هغه دی قسمی به‌هم در سره لاړ شی چی‌په زانگو دی پوری باسی .
ـلنده داچی دور یلی سورزه له خپلی‌لورسره کړم ، ترڅو هغه په زانگو کی‌له‌سین‌نه ځیره کم . زانگو‌به‌زه پوهنی ، دغه دسین‌زانگو کټ‌ستهغه ز نگو‌په‌شان ده‌چی‌کوچنیان په‌کی زنگوی ، خود‌لیرلو‌یه‌ده ، دسین زانگوله‌لرگی نه جوړه‌شوی اوسنځ یی‌په سنزری دکټ په شان اوبدل شوی دی .
زوړ سړی غلی‌شو ، خوزه چی‌دهغه‌نکل ته‌ټوی وم‌ورته غږ‌می کړ
ـبچه کیسه دی‌وا ربه وار خوږ یوی !
هغه بیا شروع وکړه :
ـدسین دواړو غاړوته دوه لوی‌لا هاړی ود رول شوی وو چی ددواړو لاهاړو په‌سر وکی‌له‌سین‌نه لس‌دواس متره اوچت دسنزری غټ پړی‌تړل شوی اوزا نگو په هغی پړی کی زوړ ځله وه ، پـه مینځ کی‌یی دوه دوه تنه کینا ستل ، زا نگو به‌یی دسین له‌یو سره یل‌سرته راکښو د له .
ماورته په‌ډیره وو یل :
ـبچه‌نو تاسو هم‌په دی زانگو کی کینا ستی ؟
هغه را ته وویل :
ـته کیسی ته‌غوږ کیږ ده ... زه‌ا وور یلی چی په هغی ورځ د هغی دترور دپوښتنی له‌پا ره‌و خوزیدو ، په‌هغه‌لا ره‌روا ن شوچی دغنمو دپولو دپاسه دسین‌لوری ته‌ځنه رسیدلی وه...د لاری شا و خواد غنمو شنو بوټو اودولو اوسپید اروڼیا لګیو نیولی‌وه ...سین‌زسوو دکلی نه ښایسته لری و.وربلی په‌دی‌و ړځ‌له پخوانه‌ز یاته ښکلی

شوی وه... دسپین اتلس په‌جا سوکی‌بنا پیری غو ندی‌بنکا ریده اوسره سالو بی‌دمخ‌سر خی ور زیاته کړی وه ... پخمان‌سنه‌ورته هیڅ‌هم نه‌بنکا ریده. هغه پاکه وه...ما سره‌بی‌په لاره کی خوږه مرکه شروع کړی‌وه ... خوزه‌د مینی اوشوك په دریاب کی‌داسی ډوب‌وم چی‌ژبه می‌گو نگه‌گو نگه‌کیده، خوروان‌وم ، سرمی‌کښته وه،هیڅ می‌نه ویل ... زه‌مخ کی‌وم ،هغه راپه‌سی ... بنایسته شیبه چی‌موږ سزل‌وکړه ، هغی را ته غږ کړ :

قسیم‌ماما ، زه‌ستړی شوی‌یم لږدمه نه کوو ؟

اوه، ستړی شوی ... راڅه چی‌سیو ری‌ته‌کینو ... دغه دسپیدارو سیوری .ه د ی !

ډیره‌ښه‌ده.

زه‌اوور بلی‌دوه په‌دوه‌د سپیدارود څنگله سیوری ته‌کینا ستو ... ماستر گولاندی دهغی دسرو غمبو روتما شا گوله ... وارپه‌وار مینی‌اوشوق غلبه‌را‌باندی‌کوله ،آخرطاقت‌رانغی ، هغی‌ته‌می‌وویل :

ـ‌ور بلی‌یوه‌خوله‌به رانه‌کی ؟

ور بلی له‌حیا نه‌او یا شاید له‌وبری نه غلی شوه او تکه‌سر ه شوه‌هیڅ بی‌ونه‌ویل اوسربی کښته واچاوه، خو ما خپله‌بی‌حیا بی‌بنکاره کړی‌وه،هغی‌راته‌له‌قا ره برگ‌بر گ‌وکتل ... ستر گی‌بی‌را باندی وویستی خوپه‌خوله بی‌بیاهم خه ونه‌ویل . لږورو سته‌بی‌پله دوسره راته‌وو یل :

ـ‌راڅه‌چی ځو،ساله سین‌نه پوری باسه!

ـ‌درڅه!

موږدوا ړه‌بیاد سین‌په لوروخو زیدو. داخل نوور بلی‌هم یاله‌قا ره اویاله غمه‌گو نگی‌شوه، په‌توله لا ره کی بی‌یوه خبره‌هم له‌خولی‌نه

وزه وتله ، یوالحی زه‌ووم ، چی ویری اوهیبت می‌دزړه انگړاته رنگاوه . . . ویریدم چی‌وربلی زمادسپن ستر گی‌نکل خپلی تروریا خپلی‌سورته‌و نه‌کی . په‌هغه صورت کی‌زماسر گډماته بدی وهلی . په‌دغوچرتو نوکی‌ډوب وم . . . اخرمی داسی‌چرت ووا‌هه ،چی‌باید ور بلی‌و مړی . . . څنګه ، اوپه څه‌ډول ؟ . . په‌دغوچرتونوکی ډوب‌وم ، چی‌سین‌ته‌ورسیدو ، اوپښه‌داسی‌شوه :

ـ(داوبوشرهاردی) وربلی داده‌زانګوهم دی‌غاړی‌ته‌ده ، چټکه راڅه !

ـدغه دی‌درغلم .

ـراڅه زانګو ته‌و خیژه !

ـداد ی وختلم ، همدلته کینم ؟

ـنا . . . لږوړاندی کینه ، چی‌زه‌د زا نګوپړی کش‌کم. سالډڅا نه‌سره وویل :

ـ همدغه‌یی ځای‌دی ، دسین سینځ ته‌چی‌و رسید و، باید زانګو پړی په‌چاکو پړی‌کم ، ترڅوزه‌او د انجلی دسین سینځ ته‌غو زارشو . . . زماخولا سپوزده ده ... وربلی خامخاسین‌ډ وښی ، هیڅوك په‌ما نه‌بدګومانه کیږی .

ـپه‌دی وخت کی‌وربلی راته‌غږوکړ :

ـکش‌که زانګو ، ولی‌ناست یی ؟

ـ پښه‌دی . (لکه‌چی کوم‌شی کشوی) داد ی او مړ سین سینځ ته‌راغلو .

په‌دی وخت کی‌هغی راته‌په تعجب سره وویل..

ـ ولی‌دی زانګوو درولې؟

ـ ماورته په‌ډ یرقار سره‌وو یل :

ـ چاکو باسم . . . پړی غوځوم ، او دو اړه به دی سین ته‌غورزیږو !

هغی‌په‌وار خطا یی‌سره‌وویل :

ـ ولی ، دغه دپاره قسیم ساما !؟

ـ ماورته په قارسره وویل:

ـ ماته ماما مه وایه (لکه چې یوشی پرې کوی) هن.

په دې وخت کې ورښلی چغې کړې :

ـ ما . . . ما . . . !

سپین ږیری غلی شو ، یوسور اوسیلی بې هم وګیښ ، خوسا ترې پو ښتنه وکړه :

ـ هغه دې سین کی وغورزوله ، څو مره بې رحمی ؟ . . .

سپین ږیری په ډک ستونی راته وویل :

ـ په دې ترتیب ورښلی دسین نا وې شوه . . . دهغې سړې ټوله اوبو وویست اوزما په بې رحمی هم څوک خبر نه شول ، ټولو ویل چې قسمت ډیښه کړې وه ، چې د زانګو ږې وشلیده ، خوزه پوهیدم ، چې ګنا هکا ردهغې قسمت نه وګو اکې زه وم چې هغه مې په سین کې و غورزوله .

ـ ما په ډې ږې بې صبرې سره هغه ته وویل :

ـ اوه . . . داسې کار څو هیڅوک . . .

سپین ږیری زما نه خبره و ټیوله اووې ویل :

ـ پوهیږم ، چې دانسان له عا طفی نه لرې کارو ، خوزه مجبو روم ... هغه مې لا مس ته نه شوه راتلا ی او نه زماد وړوه... دغه نا اسیدې وه ، چې زما زړه کې بې دور ښلې په با ره کې دکومې او کړکې اور بل کړې و . . . کله چې ورښلی په همدې اد یره کې خاور وته وسپارل شوه ، نور نو ماته هم سنا سب نه و چې بې غمه ژوند وکړم . . . دهغې ګناه مې په خپلو ستر ګو بار کړه ، اوخپلې ستر ګې سې ګنهګاری و ښلی محکمه دا ټوله ګناه دهغې مخ ته زما کتل و

... مادهغی دوینو په بدله کی خپلو ستر گوته سزاورکړه .

لومړی ځل چې په دی ادبره کی ځان ته دنا ستی او ملا ستی ځای جوړ کړ ، بیا می نو ډیراو ربل کړ ، په دی اورکی می داو مینی دوه اوړه ده سیخان کیښودل ، او داشی سره شول چې د سکرو تو رنګ یی اختیار کړ . . . هغه می

په دواړو لاسونوکی پورته کړل اووی ویل :

ـ اوس به نو تاسو هم په دی سیخا نوو سوزم اوړندی به سو کړم تاسو ګناهکا ری یی ... ددی له پاره چې سبا می بیاد چا په شکلاه ین نه کړی ، اورا باندی کوسه پاکه اوسعصومه نجلی وزنه وژنی ... باید زن سوړندی کړم .

په دی ډول می ځان ترمر ګه رونه کړ ، چې د ادی پرها رونه یی اوس هم ګوری !

زه دړانده بوډادی نکل دومره فکر کی وړی وم چې نور می هیڅ نه شوویلی . یوځل بیا می دختو په کښه ولی کی او به وخښلی ، اوایله می هغه ته دو سره وویل چې :

ـ زه نوځم ، دخدای په امان !!

د ۱۳۴۹ کال د جدی میاشت وه او دژمی وچه ځله شروع شوی وه ، لاندی ځمکه منجمده او کنګل وه، او پاس د فضا تندی له یخه تر یوو دسپینو او تورو ریځو کاروانو فضا نیولی وه او په ځمکه د سپینو واورو ځادرونه غوړیدلی وو... دلمر ستر گه په هفتو چاڼه لیږله . د سړ کونو مخ کنګلونو نیولی او د ونو له بڼاخونو هم دیخ او کنګل گونگری داسی راژ ړیدلی وی چې له لرې د قندیلونو گونگروسان پرې راته . . . دار - غندی سوړ شمال هم د کابل په بنارخولی لګولی او داسمایی د غره تورلړ مون بی سړاوه . . . د ځمکې واوره د ارغندی شمال، دلارویا نو په مخ او سر باندی پاشله . دیخ او سارولې د هشته او هیته په رڼا ورځ په بنارکی شوک پلی نه شو ګرځیدای . . . کله کله به له لرې کراچی وانان لیدل کیدل چې په پوره سختی بی دواورو او کنګلو نو زړه سوری کاوه او خپله کراچی بی په کی کشوله ... او یونیم مسافر هم لیدل کیده چې ځادربی غوړیوته تینګ کړی وو، او د بدن هډوکی بی د ژمی شمال دلوڅوونود ځانګو په شان لړزول اولاره بی وهله . . .

د بنار موټرونو ته هم ځنځیرونه اچول شوی وو او په پوره احتیاط بی د سړکونو په سینو لاره وهله .

هره خوا چوپه چوپیا وه . چاچی لرله د تودو بخاریو تر څنګ پلان پراته و . . . او چاچی نه لرله د نیم من لرګو . . . ګټلو

په سخ وغوړ اوه اودار غندې شمال بیا په کا بل کې کوکې او چغې شر وع کړې اودګز رګاه سیمې ونې غنې یې لړزولې...

واورې بیا په اور یدو پیل و کړ، ا ود بورې اوشګو په شان په ټول ښار پاشل کیده. دکورو نو کړ کیو اوارسیو با ندې وړ یعنې پردې رامکښته شوې وې دهر کورله بامه دډبروسکروا ود خمړیودلر ګیوتورې لوخړې او تور دودنه جګید ل... او سرله ما زیګره بخارې بلې شوې ... دښاهرو ګړې په ډیره خپل کورو ته روان وه حتې دښار وړه موټر ـ ونه هم ګراچو نوخواته خوزول شوې وه.. په ښار کې آرامه آرامې وه، یوالحې به داسما ښې دغره په سر کار غان لیدل کیدل، چې لحا نونه یې د ګدر ګاه باغ اودچا ردهې سپدا روڅنګلو نوته رسول.

په ښار کې هرچا دو سره سوړه لحان ته پیدا کړې وه چې خپل سر په کې ننباسي. یوالحې فقیر ګل یا فقیر یسمان و، چې بې اوره او ښې کوره په ښار کې پاتې و ...

په دغه وړځ چې فقیر دو اورو اودشمال شورولید، نوله لحان سره یې وویل:

ـ دا ننني یخ ادسخو ررا ته ښګا ري، دانسان په غوښوخوله لګوي ... نه پوهیږم چې نن شبه ډډ نصوارو په غرفه کې څنګه تیروم؟ پرون شپه هم نژ دې وچې له یخه وچې لر ګې پاتې شم . . . دمورمې دې یاد په خیروې، چې راتلم، راته ویل ښې چې:

ـ زویه . . . خوسمحه خدای روزې رسان دې، یوه سړې وچه لمده به پیدا شي چې موږ یې وخورو . . . سبن ژمې ډیر سخت ژمې دې.

ـ سورجانې . . . دکا بل ښارلوې، ښار دې دوسره تود لحای به پیدا شي چې زه په کې شپې تیرې کړم، چې لارنه شم چاره نشته، ګرد اوړه په کور کې نشته، چې زه کارونه کړم، ډوډۍ به له کومه شي؟ زویه، له ولږې سره سازښت کیږي، خوله یخه سره نه کیږي.

وی ریم چی خدای مه کړه یخ د ی وزنه وژنی!

ـ مورجانی (په موسکا) که کا یل کی له یخه سرم په للندر کی له ولیږی سرم، که زه هلته کار وزنه کړم، دلته به دری واړه له ولیږی مړه شو.

ـ خیر زویه چی څی، نو مور پسی بلا، خوځان ته دی یو توده کوته پیدا که . . . که دورځی کار کوی نو شپه خودی توده وی!

فقیر گل په همدی چرتونو کی روان واو توفان او شمال دواړو په گډه خولی لگولی، دځمکی مخ په واورو ښه پلک شو ی وهغه خپله رسی په اوږه باندی سمه کړه او دځان سره ښی ورو و ویل:

ـ مور بیچاره سی له بیا ره خه خیره ده، چی یوه توده کوته پیدا کول خه چی یو سطل اور پیدا کول خومره گران کار دی؟ خیر . . .

فقیر گل په داسی حال کی چی د یخ له زوره لړزیده ښا یی د ځان سره و و یل:

ـ دا توفان وار په وار زیا تیږی، اودی واورو داسما یی غره مخ هم ور پټ کړ، دځمکی په مخ نور ځای نه پیدا کیږی، دشیر دل ما ما دی کور ودان، چی د نصوار و غړ فه خوښی دشپی له خواز ما په اختیار کی راکړی ده، که دا هم نه وای ما به څه کولی؟ . . . ترجمې پورې کار کوم، هر څوچی می وگټلی، نور نو مجبور یم چی کور ته لاړشم، د ی یخ سره ځل کول او تینګار سخت کار د ی.

فقیر گل یا فقیر ریسمان ړښتیا ویل، سار واو یخ دخلکو په غوښو خولی لگولی، واورې هم وار په وار شدت پیدا کا وه او دارغنډی لیونی شمال د اسما یی له غره سره سره جنګا و ه .

فقیر ریسمان هم له کلا ت کیدك نه کو تی سنگی یا سیرو۔
بس سید ان پلو روان و ، چی لحان دنصو ارو په غرفه کی پنا کړی
اوشپه بیا په کی تیره کړی. لمرهم دور یخو جنا زو دغرب دغروښو
شا ته پنا کړی و ، او دما پام د تور تم پرده د کابل سپینو واو۔
رو له پاسه د تو ر ی کیږدی په شان خوره شوی وه ، او ښار بی
غواو پرده سکوت ته راکش کړی و . . .

سرغی هم خپلوخا یوته ورغلی وی ، او کار غانوهم د پشه
خانو وښو او د سپید اروپه پنا خونو کی لحا ن ته لحا یونه نیولی و .
بوا لحی فقیر ریسمان و ، چی په پلی لا ر ، د و ا و ر و په تندی
ر و ان و ، او لحان بی د شیر د ل سا ما د نصوا ر و کړ کی او
غر فی ته ر ساوه . . .

شیردل سا ما د فقیر گل دسیمی سړی و ، دی بی پیژ انده ،
نوځکه بی ده سره مرسته کړی وه ، دشپی له خوا بی دغه د نصوارو
غر فه د هغه په اختیار کی ور کړی وه ، چی فقړ به په کی په
غلا غلا خپله شپه تیروله . . .

خیر ، فقیر گل چی دیخنی زور اوسورولید ، سخا سخ دنا۔
نوایی دوکان ته ورغی اودهغه د دوکان ترخنګ په داسی حال کی چی
تول وجود بی له یخه ړپیده ، ارا ده ود ریده . پردی وخت کی د
نا نوایی ورته پام شو ، اوو رته بی وو یل :

ـ څو څ ی اخلی ؟
ـ نا . . . لږ اور سی په کار دی .
ـ اور په لمنه کی وړی ؟ اور په څه شی کی اخلی ؟
ـ اکا . . . دا د ی تیم سی ور پسی راوړ ی دی .
ـ درن اوغانی درنه اخلم .
ـ درن او غا نی ؟

فقیر گل ، ټوله ورځ لس او غاني ګټلی وی ، ټوپه تش او وانډی
د ری اوغاني ورګول ورته سخته خبره ښکاره شوه. خوا خر
مجبورو سارې وو اوله سا پوسره جنګ کول د هیڅا په توان کی
نه‌و. مجبور شوچی درې او غانی اورځان ته واخلی .

هو، او . . . چی ځان پر ټود کړی او خپلی سړې غوښې پر ی
تودی کړی، خوخبره نه‌وه، چی پدې ټاورکی ده ته سر ګټ نیغ ولاړدی ...

خپل تیم کی یی د ډ ر ی اوغا نی اوله نانوایی نه واخیست اود
نصوارو غرفی ته ورغی، هلته شیر دل ساما و: ته دا ډ ټ ظار وچی د ی
غرفی ته ډنډ یاسی ، چی هو ك ورانډ ی د ډله ګوسان ونه کړی .

فقیر ګل یا فقیر ریسما ن د نصوار وغر فی ته ډنډ وت، له شیر دل
ساما نه یی خدا ی په امانی وا خیسته ، د نصوار و د غرفی کړکی
یی کښته کړه اود او ر تیم یی دغرفی په سینځ کی. ...لوسړ ی یی خپلی
پښی له چمو سوند راوو یستی تا به ویل چی د ریتوی یی وار په وار یی بدن
تود یده ، یخه یخه خو له یی په بدن ر اتله، زړه یی هم قرار قرا ر ه و یده
او سر یی دغره غوندی دروند یده .

هغه نه پوهیده چه څ.ورانډ ښوی دی، خودی داور ګاز نیولی و،
او کرار کراره یی ور ته ستونی ته زندی اچوله ، اود سکرو او ر
وار په وار دسړ ګټ زولی ته را کښوده. . . ړه ړه یی کتل خو غړی یی
سست وو غیږ قدرت یی نه شو کولی. چی سا عت پور ه کیده . فقیر ګل،
سکرود بانجان غوندی زیړو اړاو ه، اود سړ ګټ لمن ته یی وغورځوه
وه ... چی سپاڅو شیر دل ساما د نصوار وغړ ه خلاصه کړه، فقیر ګل
یی سړ ولید، وارخطا شواود ځان له ویړ ی یی هغه له غرفی نه راوو یست او په
لاره کی یی دهغه سړی دو اور ود پاسه وغو رزاوه ، . . . شیبه
ورو سته چی په ښار کی د ځلکو تګ ړا تګ زیات شو ، د فقیر ګل په

سړی خلك را پند شول ، دسما فرسړی جیبو نه یی تلاشی کړل ، چی پته یی ورته معلو مه کړی ، خوهغه دانښه په ټوله محمکه کی نه در لوده ، چی دی په کی و پیژندل شی . . . نوپه جیب کی به یی څه در لود ل ؟ . . . یوالمی او و ه او غانی ، او یوه پر نجی گو ته او گوتهی یی له جیبه را و وته چی ده خپلی یتیمی خور ته اخیستی وه ، او دجمعی په ور خ یی ورته وړله . . .

لارو یانو دا معلو مه کړه ، چی فقیر گل سکرو وژلی دی او گا ز خفه کړی دی ، خودو سره یی ونه شوکړ ای چی هغه ته خو ستره کفن واخلی ، نوپه خپلوجا مو کی دعلی ا باد دغره په زړه کی خښ شواو دژمی له واورونه په ا سان شو .

لس دقیقی په میوند کی

* * *

دلمر تودو وړا نګود میوند په‌ډاګ او دښتې باند ی خولی لګولی
وې‌اورو نه یې‌پر ی بادول . دسیو ندد‌ښتې‌د غلیما نولهخوادخونی
اژدها غیر ه‌غوره کړې‌وه چې‌ډیر مظلوما ن اوبی د فا ع کسا ن
یې‌په خپل‌حاق کې‌تیرو ل . بیرسرونه ،کو ده بریتونه اوله ګله
نا ز که‌بشر ی به‌په خپلو وینو لمبید لی . لحمکه سر ه‌تبی‌وه ، او
آسمان هم داور ګوښه‌وه، اوپه میوند‌یې‌داسی‌اورو نه‌شینه‌لی چې‌لا‌
ندې‌تلی‌سوزید‌لی‌اوپا س سرونواو کوډپرو له‌تودو ښې‌او ګرمی نه
جوش کا وه . له بلې‌خوا انسان‌و ژونکو اوخون اشا موتو پو نه
غړمبید ل‌اودتو پکواوازو نود میوند‌دښته‌له ژوله،ا و دلمر مخ په
دوداولو خړو باند ی تورشوی‌و .

په دغسی تورتم او ماتم کی داوغان بچیانو اوغانی سیون پیری پیغلی اوشاز لمیان د خپل وطن له پاره . . . دخپل اوغانی ننګ اوعزت ګټلولو پاره جنګیدل او په خپلو خپلو اوویښو کی لمبیدل، نه په ګرمی شوک پوهیدل، نه په ولیره، نه په ژند ه . . . سر ګ هم یوعادی بنه اختیار کړی وه ، هیڅوک تری نه ویریدل . . . تریخ مرګ خورشوی و. هرشوک د سرګ له پاره په ورین ژندی او پراخ وچولی روان و .

دسیوند په دښته کی که له یوی خواد و بیتو باران و ، له بلی خوا لږ پ لږ داو غان سر تیر ودې هلو نواوا زونه هم د دښمن د تو پونوله اواز ونوسره اوچت وه ، چی شا زلمیان یی ، د جنګ له پاره را ابل. داجګړه فیصله کښه جګړه وه. د تباهی او نا بودی بویونه دهر یخوا اوچت و و . په دی جګړ ه کی یه یاد اوغان پا یښت او بقا ربښی له بیخه ویستل کیدی ، ا و یا به د برغلګرو او ادمکشانو د د ی ا و ر په مینځ کی بیا ژ ند زرغو نیدی .

همد غه خبره او غا نی سیون پیرو ځه چی د او غان کو چنیا نوهم در ک کړی وه . او غا نو ته دو ه اسر ی پا تی و ی ، د خپل لوی خدا ی اسره او دا و غان د با تور بچی سرد ار محمد ایوب خان د تو ری ، و طن د و ستی او میړ انی اسره . . . پښتا نه متل کوی چی ((سل دی وسره سردی مه سره)) تو لو وطنو الو د خپل مشر د سر خیر ونه غو پښتل ، ځکه چی د وطن د دښتو او غرو ستر گی د و طن د کونډو وستر گی د هغه په لور کیږی وی ، د هغه چا په لور چی لښتی شملی یی اسمان سره ډغری وهلی اولښتو کوده بریتو بی د غلیما نو په ستر گو د یری او بیم پر دی غوړولی . د وطن په د ی با تور زوی وطندار ان راټول وو ، او د سیوند په دښته کی یی د نړی له زورور قوت سره زور ازما یی کوله .

په دغه جگړه کې، د زر ګونو اوغان سرتېرو په ډله کې شاهباز اکا هم شامل اوداخل و . وایي چې شاهباز اکا د کشک د سیمې دیوبز ګرز و. چې په خپله هم په بز ګرۍ کې لوی شوی او پوخ شوی و . زوی یې چې په پالیز کې پروت و ، دوه میاشتې دمخه د هیواد دغلیمانو نوله خوا پالیز کې وژل شوی و .

وایي چې ظالمانو دده زوی سر په برچه کې دهندوانې په شان توسبلی و ، له ځیما یې پالیز نه یې لا وړی نه و ، چې د ځوان پالیزوان کګړه ځمکه وچاوده او په کې ننوتله . په هر صورت اصل کیسه داده چې دوه میاشتې دمخه شاهباز اکا ځوان زوی د هیواد دښمنانو نوله خوا وو ژل شو ، او دوه میاشتې ورو ورسته زوړ شاهباز اکا ملاوتړله او د سرکې اوسرتېرې میدان ته وروتنوت . شاهباز اکا ګردې ګنه پیرزه درلوده ، چې مې اوو ریچې پاسه وبرنج وه . د پیرزې ویښتان یې لږ غټ اوږه وو . ځیرې یې غټ ساخت درلود، پوزه یې غټه چګه اوسنا سپه سپېر سې یې درلودې . زنه یې هم پراخه اوغوښنه وه ، خو شونډې یې له زنې نه نسبتاً لرې وې ، وچولی یې پراخ و ، او ورځنې یې ډکې او بېرې وې . غوږونه یې هم پوخه لوی اوغوښن وو. چې پوکې یې یوبوتور ویښته هم لیدل کیده ، سپېر سو کې یې هم سره بخون و ویښتان ووچې سرونه یې د پوزې له سرونه را و ایستلې وو د یې جګ واو ډډ یې هم بدنه و ، خو د زمانې ناخوا لواو بې جا ره ګپو یې د بدن غوښې او به کړې وې ، اوملا یې لږه کړې و په شوې وه . تل به یې ابله اولوڅې پېښې ګړ ځیده ؛ نو ځکه یې د پښو د تلې او پوستکې ینه اوښتې وه ، اړه اړه اوچاودې چاودې وې . هرچاد شاهباز اکا د پښو پلوڼه پیژندل ، ځکه چې لکه د ربړ د تلې په شان یې په ځمکه کې خطونه اولیکې جوړ ولې .

په دومره غربت او بیچاره کی کی بیا هم شاهباز اکا دغیرت تو-
ته اود میرانی نمونه وه ، چې زوی یې دوطن غلیمانو له خوا ووژل شو
دده له ستر گونه اوښکه قدری هم تویه نه شوه ، وچې خوک به ور ته د
فاتحی له پاره راتلل نوده به ورته و یل :

ـ ستاسودی کور آباد وی ، چې ما سره ځان غمشریک بولی، خبره
داده چې زما دزوی په فاتحی باندی زموږ غم نه خلاصیږی ، موږ ته
لالوی غم پروت دی ، هغه له تولو غمونونه دروند دی ... دوطن غم
... وطن د غلیمانو په لاس کې پریوتی دی چې از اد نه شی ، او موږ
خپل واک نه شو ، له غمو نونه نه شو خلاصیدای .

شاهباز اکا ، یوه ورځ دخپل زوی فاتحه واخیسته له اوچې سبا
شو ، په خپله دسرتیرو په ډله کې ورننوت . سبا عمومی قیام و . قیام
دزور گیرو په ضد داستعمار گروپه ضد ، قیام د اشغا لگرو په ضد او
بلاخره قیام د باطل په ضد .

شاهباز اکا ، سبا له سرتیر واود ملت د با تورانو په ډله کې
د میوند په سحاذ ورننوت ؛ خوله یوڑی او مشک سره . د شاهباز اکا
داو یوڑی دچا خبره د شاهباز اکا همزولی و . د یر پخوانی ژی ؤ .
نوې چې شا هباز اکا واده کړی و ، دغه ڑی یې دخپلی ناوی له پاره
اخیستی و ، چې له کار یزه په کې اوبه را وړی ، اوس نو دڑی د عمر
هم اخری ورځی وی . دوه دری یو نده دڑی یا مشک په اړخ لیدل
کیدل او دوه ، دری په دا بله ډډه کې . د ڑی د غاړې
په برخه کې هم یو فړې د ستنی سوم په شان سور ی لیدل
کیده ، چې او به ورنه داره داره روانیدی وی. شاهباز اکا یا د تووره په لاس
اخیستی یا بې چقه ځی تو پک په غاړه کې وای، خوستر گویی چندان کار نه
کاوه ، اود توری دچلولو او په کار ولو زورهم په کې نه وپاتی، نو
سرتیرو ته او به رسول ورته هم ثواب او هم خر ما . خپرد شاهباز

اکا ، وظیفه شوه ؛چې مرچلونو ته به سر تیرو تیرو ته او به ر سوی ، لکه په سل گونو پېښلوا وپښو چې او به وړ لی .

شاهبا ز اکا ؛ به هم خپل ژی په اوږو سپور کړ، له کا ریزه تر مرچله به د گولیو په باران او د تورو په پرتا کی روان و، او د سر تیر و و چ حلقونه به یی تا زه کول ، زوړ شاهبا ز اکا ، دایمان په قوت د وطن د ستی په قوت له خپل ولس سره د مینی په قوت ښه ر ته ځوان شو؛ تا به ویل چې بې بو- کی ده دستر گو رپ کی به له کا ریزه نه د جگړو میدان او مرچلونو ته ورته اوله هغه ځایه کا ریزونو ته ورته . شاهبا ز اکا ته د مبو ډ نه په ډاگ او دښتی کی د او بو قیمت معلوم و. دی پوهیده چې د جگړی په وخت کی سر تیری چې هو سره بار و تو، گولیو او وسلو ته ضرورت لري هو سره او بو ته هم احتیاج لری ، نو ځکه یه د گو لیو په باران کی خپلو وطنوالو ته او به رسولی ، خو هغه لمحی، هغه شیبی هم را ورسیدی چې شاهبا ز اکا ، یا بودا مشکی دلمان له پاره سنجولی وی. هغه شیبی د سر گ شیبی وی . د و یری او بیم شیبی وی، او بلاخره د د هشت او ترور شیبی و ی چې له ز ا ړه مشکی نه یی حوصله غوښتله، مقا و مت یی غوښته او د سر نڈرا زه کول غوښتل د اهغه شیبی وی، چې د جگړی محا ذ تو د و. د دښمنا نو تو پونو او تو پکو زمو ږ د وطندارانو په زړونو او سینو کی لاری کولی او گو گلونه یی ورته سوری کول. دلمر و ړانگو هم په تول سیوند با ندی او ږو نه شیند ل او د مبو ند شگی او کا نی هم د و سره سره او گر م و و ، چې د پښو ا بلو او پښو لوخو وط نوالو په تلو کی ساچمو او با رو تو په شان ور ځو تل. په دغه سره تشو ا و سره ښځه د او غا نی شا زلمیا نو د سپرا نی او غیرت ا زما یش او ا ز مینبت ؤ. هیڅا دهیڅ درد احساس نه کا وه . تولو سره یو د ردو - هغه د وطن د ردو ا و د قام د ردو ، چې د تولو سر تیر و په زړونو او مغزو کی پروت و . په دغه ډ له ، په دغه ا ز مینبت کی شهبا ز اکا هم شا مل و

شاهباز اکاکه سپین پیری و ، حوصله اوطاقت یی نحوان و. دادو مره سختیوته یی وزین تندی نیولی و، اوخپلی او به یی چاولی .

دالحل هغه سنگرته روان و، چی هلته دوه سرتیری په وچ حلق اووچه ژبه جنگیدل، اوده لیدلی و و. له ده نه یی په لپه او به غوښتی وی . نه یی ورنه دنیا غوښته اونه یی ورنه سره اوسپین زرغوښتل یوازی یوه لپه او به . . . چی د دوی حلق پری تازه شی ، نحکه د بودا مشکی بیره وه چی سنگر ته نحان ور سوی

کړو په ملا یی مشک اوژی لا پسی کړو په کړی وه مشک یی په ملا سپور و، اودی ورنه لاندی د زور آس په شان زغلیده. پایخی یی بدوهلی وی ، او بزن لینگی یی له ورایه معلومیدل .لس دقیقی لاره به لاپا تی و ه چی بودا مشکی نحان د هغو دوو تنو سر تیر و سنگر ته ورسوی چی د تندی له لاسه یی ژبی راوتلی ؤی او په تریخ حلق جنگیدل. بودا مشکی چی خو گامه نور سخ په سنگر ورغی ، د شا له خواد دښمنا نود تو پکو تر ډزولا ندی و نیول .

بودا مشکی د دښمن د تو پکو ډزو ته سینه وا ړوله . . . د ښی له پاره چی د دښمن گولی د ده په مشکو اوژی با ندی و نه لگیږی، مشک به یی سوری کړی . خپله سینه ، د خپل مشک له پاره سپر کړه او به شا شا سنگر خواته روان و ، او لکه مست زمری د ښمن ته د اسی غږ میده. په دی وخت کی د هغه د خولی د اسی غږ هم وخوت:

ـ ظالمانو! دومره مې پریږدی چی زه دا او به خپلو تیرو و رونو ته ورسوم، زما زړه سوراسوری کړ . . .خیر مشک اوژی مې لاسوری نه دی ، په سړینی به هم دا او به سنگر ته ورسوم .

بودا مشکی د ښمن د ری گولی په سینه وخوړلی، گو گل یی دوینو چینه وه دوینولښتی تری راروان شول او د ډیونه تیری شگی یی او به کولی؛ خو بیا هم روان و، چی مشک او به خپلو تیرو سر تیر و ته ورسوی.

دخوزخمی بودا مشکینه یی درندی شوی وی ، هر گام یی چی له لمحکی جگاوه، دومره زوریی حساوه لکه چی د میونه غر و نه خپلو پښو پسی راکشوی په دومره زحمت او تکلیف زخمی او تپی بودا روان وچی خپل مشک سنگر ته ورسوی .

دلسو دقیقو لاره، دلسو کلولاره شوه . دگولیو په باران روان و، چی بله گولی د ده په مشک ولگیده نژدی وچی د مشک تپولی او به دد میونه دتیرو شگواو کانو نو څخنا کځ شی . بودا مشکی ، دتندر غوندی لمان په لمحکه وغورزاوه .

له خپلی ملا یی مشک خلاص کړ، خپل زوړ لنگوتی یی دوه لایه کړ، څه یی د مشک په یوه سوری کی اوخه یی په بل سوری کی وساندله او د مشک سوری څه ناڅه ورباندی بند کړل، خوزور مشکی خپلی سینی ته کتلی هم نه وچی دری لایه د دښمن په گولیو سوری ده، اوویني تری روانی دی .

بودا مشکی ته له خپلو وینو د مشک او به قیمتی اوارزښتنا کی وی نو لمحکه د خپل زخمی کوگل نه زیات د خپل زخمی مشک په غم کی و ، او خپل تپونه یی هیر وو . . . خیر ، هغه غوښتل چی بیا جگ شی او د لسو دقیقو منزل د ستر گورپ کی وکړی، خو دا لمحل یی بدن مجال نه درلود ؛ چی له لمحکی جگ شي . بدن یی سستی وکړه ، د سینی د تپو نو سوی یی زیات شوا و بیا پریخ غوزار شو . بودا مشکی عزم کړی وچی سړه هم شی او به به سنگر او مرچل ته خپلو تیرو سرتیرو ته ورسوی . . . زړه ته یی قوت ورکړ، خود پښو مابی الوتی وه، پښویی کار نه کاوه ، مجبور شو چی په سینه لمان مرچل ته ورسوی . داو بو مشک یی په شا بار و . بودا مشکی به خپلی دواړه څپړی اولاسونه شگو کی خښ کړل او خپله سینه به یی ورپسی راکښو د له او کش به یی کړه . د سینی په تپو کی یی شگی د ساچمو په شان ورننو تلی . او د بودا مشکی په وینویی لمان ته رنگ

ورکاوه ، خوتهپی اوزخمی بوډا روا ن‌و، چی‌نوروته ژو نه وګڼی او دو طند ارنو حلق دتند یله پنجو نه‌خلا ص کړی .

دګولډو بار ا ن وارپه وارشدت پیداکا وه، اودز خمی بوډ ا بدن وا رپه وارکمز ور ی‌کیده ،اودسر ګټخواته نژدی کیده . هغه په‌سینه خښیده‌اوله ځان‌سر ه بی‌ویل:

ـ ظالمانو . . . او من نژدی . . . نژد ی شوم . . . . شکر دی . . .دوه ګامه نورهم پا تی‌دې چی سنګرته ورسیږم، اوه ارمان چی له پښو پا تی یم‌کنه اوس‌به سی‌د خپلو سرتیر و ببیا نوحلق‌تا زه کړ ی وا ی . . بچیا نو او به . . . او به سی . . . راوړ ی . دسنګر نه‌سپین ږیری مشکی‌د چاا واز وا نه ور ید .و ار خطاشو . خیال ته‌و رغلل ،لکه‌چی سرتیری یا تندی وژلی اویاغلیمانووژلی . په‌وار خطا یی ورپسی چغی‌کړی .

ـ بچیا نو! . . . ولی. . . ولی ه . . پەتلسو . . . هم را غلم . . . سپین‌ږیری‌ز خمی‌مشکی کوښښو ګړچی‌په سینه باندی چټک چټک‌و څپیږی اودچینجی غوندی خپل‌تګ چټک کړی . دده اودسنګر ترمینځ دوه ګامه لاره پا تی‌وه، خویوز خمی‌سپین ږیری‌ته چی‌داو بو مشك یی هم‌په‌شا وی،دوګامه تګ ددو کلو مز لدی. سپین ږیری شاهباز دری‌ګو لی‌په سینه لګید لی‌و . په سینه څښیده . په‌یو ګام تګ‌کی‌یی هم‌د سینی غو ښی د دښتی شګواو کانوو ړلی . شا ه با ز اکا بلا خره سنګر ته ورسید . . . هغه سنګر ته چی او من نو دوه تنګی زلمیان د دو و تنکیو ټیا لګیو په شان هم زخمی او هم تږی پراته‌د ی ، او د د وار وستر ګی‌دشاهبا زاکاخواته کیږی‌دی .

دسنګرد واړه تږی تویان دخپل بوډا مشکی‌په شا و به وینی ، دواړه غواړی چی‌له‌تپی مشکی‌سره مرسته‌وکړی خپل‌سروزه

لهځمکی‌نه یوه‌لو یشت جګ کړی خو په سر و ند و کی بی سستی را شی ددواړو سرونه په‌شدت په‌ځمکه وغورز یږی . . .

خو ، اخر سپین ږ یر ی مشکی ځان سر چل ته‌را ورساوه ، هغه‌هم پدداسی‌حال‌کی چی‌دخولی‌نه بی‌و یکی هم وینی روانی شوی وی ، اوساش اوبر نج ږیره بی‌ور باند ی‌رنګید له ،خوچی‌سنګرته راغی ، سترګی بی‌پهد وه تیرو تپیانو ولګیدی . هغوته بی‌وویل :

ـ بچیانو ! ... دادی . . . اوبه . . . وخښی . . . داده او من . . . موږ . . . ژمرو .

په‌بی روحه‌لا س‌او سنګولو بی مشك له خپلی سلا نه‌لری کړ . داسی حال کی‌چی په‌سینه پروت و ، خپل سر بی یوه لوبشت له‌ځمکی نه‌جګ کړ ، اودمشك غاړه بی‌هم‌او چنه‌کړه اود یوه‌تپی خولی‌ته بی ونیوله ، او په لړزیدلی اوازبی ورته و و یل :

ـ وخښه . . . هه . . . او . . . به... اوبه‌می ... را . . . وړی د ی .

هغه‌سرتیری چی‌مرګ ورته ټیغ ولاړو د ستر ګو توربی تللی‌و ، او یوازی سپین بی‌معلو میدل او لکه چی‌د خوب په ټشه کی‌وی . . . یوډا مشکی ته وو یل :

ـاکا! . . . زه . . . زما نه . . . او . . . اودلی . . . ږیر تیری دی . . . . لو مړی بی . . .

د هغه په خو له کی خبر ه ټیمګړ ی پا تی شو ه او لکه چی سا بی ورکړی وی. دهغه دخبرو نه‌چی‌داسی‌معانو میدله‌چی‌له‌ځانه‌بی‌حقدار ، خپل دسنګر پل‌اند یوال ګنلو . یوډا مشکی ور باند ی یوه شوخو د هغه سا بیا ختلی و ه .

یوډا مشکی ته هم نورسر ګ مهلت ور نه کړ ، غو ښتل

بی‌د مشلك خوله دژو ژدی سر تمر ی په‌حلق کی‌ور کښته کړ ی ،
چی د مشك غاړه بی‌هغی خواته تاوو له ، خوله سا بی هم‌خپل خدا ی
ته‌ور تسلیم کړه ، او مشك هم د ده له لا سو نو نه خو شی شو ،
سنگر بی‌ور ته او پاشی کړ .

د ر یم سر تمر ی خوله ژ به د مشك خو لی ته اوږ ده کړه ،
چی گو ژدی ورباند ی‌لمده به‌بی کړ ی ، خود خو لی نه بی دژ بی
سرلا راو تلی نه‌و ، چی نفس بی وو اته .

ما ښا م چی د جنگ بس ا و ا و ر بند اعلان د د وا ړو ډلو
د‌مخوا وشو ، اوغا نی‌نور سرتمر ی‌د خپلو توپیا نو اوز خمیا نو تو-
لو لو په لټه کی شول ، او چی دی سنگر ته را غلل ، دشا هپا ز
اکا مړی بی‌له دوه نورو سر تمرو سره چی‌مشك بی هم خو ا ته بی
رو حه‌او بی نفسه پر و ت و ، مو نده کړ ل ، ا و له ځا نه ځه
بی یو و ړ ل .

په د ی ډ و ل د میو ند د جگړ ی محا ذ په لسو دقیقو کی‌هم
هوډا مشکی ته دا ستان اوکیسه و گټله .

دمزارډیوه

* * *

دبهار جنوب ختیخ ته‌دیوه هسك غره په لمن گی‌یوه لویه ادیره وه چی‌دیری تنکی اوڅوانی هیلی‌او پیغلی هوسونه په کی ترخاورو لانډی پراته وو ، اوچی دچار شنبی ورځ به‌شوه ، د بهار دلری‌او نږدی کوڅو اوبانډو نه‌به ورته نر او ښځی ور روانی‌وی ، اوله سویرو خاورو (قبرو) سره‌یه بی‌کلاه گیلی مانی اوکلله سانډی‌او ویرونه کول ، اوتوله ورځ به‌بی دسړو ترخنگ واړوله. خپل زړونه به‌بی‌تش کړل ، اودستر گو دکاسونه یه بی‌او پښکی ورته‌نذرانه کړی اوبیرته به‌ورنه روان شول .

ما ته‌هم ادیره گرانه‌وه ، څکه‌چی دښکلو پیغلو اوڅوانانو کلی اوبانده‌وه . چی‌چار شنبی به‌شوه زماد وزرو لانډی به‌هم سگروتی شوی بی‌ارادی به‌سی دادیری لاره وڼیوه . نه پوهیدم چی‌په څه شی ځم ؟ اودچا زړو هډو کوته‌د مغفرت لاسونه اوچتوم ؟ ... یوگونگ احساس‌و ؟ چی‌زه بی‌هم ادیری خوا ته کشولم .

یوه‌چار شنبه چی‌د عادت له سخی ادیری ته ورغلم ، دیر تږی شوم . ما ته معلومه وه ، چی‌دغره لمن کی چینه ده . اوخپله تنده یا ید هماڅته سړه کړم . ورغلم اوڅان می دغره چینی‌ته ورساوه

لیه لبه اوبه می‌و خښلی ، خوله می‌په لستونی‌وچه کړه اوبر ته مخ په ادیری راوخوزیدم ، خوقدمه له‌چینی لری‌شوم، سترګی می‌په‌خلورو تیټو دیو الونو ولګیدی ، چی‌یوه‌وړه کودله هم‌په کی و دا نه وه له‌کودلی نه ګونګسی‌غوندی اوچتیده له‌ساند ونه دا سی معلومیده ، چی کومه تنکی ملغلره دځمکی‌په غیږ کی ور که شوی ده د ځوانانو سرګ ډیر تریخ‌دی ؟ او هرځوک‌غواړی چی‌دځوان سړی‌له داستانه ځان خبر کړی ، چی‌ور باندی وژاړی ، اویالږ ترلیږه دا فسو س سرورته وښوروی . ډیرځنډ‌کیده چی‌مانه ووژړلی . زړه می‌له غمه پرسیدلی‌و . غوښتل می‌چی دزړه غمجنه بوخښی خالی کړم ، نوځکه می‌دغو خلور وتیټو دیوالو نوکی سرور د ژنه کړ .

ددیوالو نوپه مینځ کی‌چی دیوه واړه انګړ ښه‌یی در لوده ، یوقبر جوړو ، چی‌شاو خواته یی‌دګلو ګیډی ایښو دل شوی وی. ځینی ګیډی تازه اودځینو نورو ګیډیو دګلانو سرونه زوړند شوی وو . داسی معلومیده چی‌شپه پری تیره شوی ده ، ځکه سړاوی دی دګلانو له‌ګیډیونه بر ینښیده ، چی سړی یا زلمی دی اویا پیغله . څنګه‌ته‌یی ودریدم اوداحترام لاسونه می‌په خپل‌ناسه کینبودل شیبه لانه‌وم‌ولاړ ، چی‌له کودلی‌نه یوپوخ سړی ډبرسر اولوهی ښی‌په‌ژړا راووت‌اوما سره‌یی غاړی واچوله . زه‌هم پوه‌نه‌شوم ، چی‌څه‌تاثیر وښایسته شیبه ماالو پاخه سړی یودبل غیږ ی ته‌داو ښکونذرانی او جنا ری ردا وبدلی کړی ، ترهغو سوچ سلګی سلګی وو ، چی زما زړه سوړاو دپاخه سړی اوښکی وچی‌شوی . پاخه سړی‌زه دغم له تو دی غیږی‌نه خوشی کړم ، پهلمه وسترګو یی راته کښته پور ته‌و کتل اوبیا یی قبرته ګوته ونیوله او ما ته یی وو یل :

ـ ته‌د محبت اند یوا ل یی ؟

ـ نه ، ا کا !

ـ زما زوی محبت جا ن دی نه پیژاندہ ؟

ـ نه ، خواوس غوارم ، چی وینی پیژ نم ؟

ـ محبت خوږ بنه زلمی و ... ناڅوانه نه و ... کا شکی تا لیدلی وای

ـ ډه ده اکا ، چی نه می دی لیدلی ... کنه اوس به ډیر ورپسی زوریدم زما له دی خبری سره د ډاخه سړی په ماش او برانج ډیره بیا غوتی غوتی او ـ ښکی راوځخیدی ، خو زما زړه د تلوسو په تناره کی وارپه و اروریتیده او تنده می زیاتیده ، چی بایدد محبت او ډاخه سړی تراژ یدی واورم ، نو می هغه ته و و ویل :

ـ اکا ، محبت ستا زوی و څه وخت سړ شو ؟

ـ زویه ، رانه زما کوډلی ته ، چی زه دخپل ځوانیمرګ زوي کیسه درته و کړم .

ـ ډیر به خوشحاله شم .

کوله چی کوډلی ته ننوتلو ؟ پاخه سړی راته و و ویل :

ـ رانه دلته په سطرنجی کینه . . . سطرنجی زړه ده ، چی ته . .

ما د هغه خبره ونیوله او ورته وی ویل :

ـ اکا ، زړی سطرنجی بانډی لوی شوی یم .

په دی وخت کی هغه څه غلی خوندی شو ، او زما ستړ کی یوی ځوانی نجلی ته واوښتی . د نجلی وضع هم غیر عادی وه . توری اوږدی جا مې نی تر پنجو پورې اغوستی وی ، او اوږد تکړی بی په سر و . دسر په ګو رو ویښتا نو کی بی د زمانی د ناخوالو وړی له ورایه معلو میدی ، خو ښکلا ته یی د ډیر د ګلو ګیدیو ، خپل سرو نه زور ند کړی وو . د نجلی په سړ او اوږدو ستر ګو کی د کهکشان زلق او باق له لیری معلو میده . او د څنو کمندو نو بی د یا غی زړونه هم را ګیرولی شول .

نجلی زما له را تګه سره اوچته ده ځا یه را پاڅیده او په ټرلو شونډو و بی له

ماسره روغبړو کړ. کله‌چې زه کینا ستم پاخه‌سړی نجلی‌ته مخ‌واړاوه:

موسنان‌واړه خوینده‌ی‌ورونه... دازلمی‌زما زوی اوستاورودی. نجلی‌دسړه‌ها شاره‌دپاخه سړی‌خبره تاییدکړه. نورې‌نو خپلی‌سترګی دزړې سطرنجی زړو نقشو نو ته چې دزمانی له نظره هغه هم غورزپدلی‌و، وتومبلی اوخه‌سړې‌دخپل سړه‌زوی کیسه‌په ډیرغم‌سره دا سی‌پیل‌کړه:

ـ ما په‌زاړه‌شارکی موچی‌گړی کوله. د خلکو بوټان می‌هم ګنډل او هم‌رنګول، اوله‌دې‌لا ری نه‌می کورته پر ی لپه کپه برابرواله. هغه‌وخت داکسب‌د و سره‌دچا زده نه‌و. زه‌هم‌زلمی وم کار می ډیرکاوه ا و ګټه‌می‌هم‌زیاته و ه. دورځی‌می لس افغانی ګټلی... خوارزانی وه‌په‌لسو افغانو می کورته‌پاو غوښه‌کیده او،هم‌دوه یادر ی افغانی‌ر امره‌پس انداز‌پاتی کیدلی. خومودە وروسته‌می دیوی‌کو ژدی‌ا وو اد ه‌پیسی وګټلی... دماسا دلور سره‌می‌واده‌وکړ.

هغه یو لنډاوسیملی‌وکیښ‌ما ته‌داسی معلومه‌شوه‌چې سړی‌ته دتیر وخت‌ا،ود ځوانی‌خاطرې‌را په‌یاد شوی‌دی. هغه‌ما ته‌مخ‌راواړاوه، او دا سی ې و و یل:

ـ څه وخت‌وروسته‌خدای‌راته‌زوی‌راکړ. مجنت‌جان درته‌یا دوم زوی می چې په د نیاکی دلوسړی ځل‌له پاره‌سترګی‌وغړولی، سورې له دنیانه سترکی پټی‌کړ ی. ماشوم زوی ماته بی‌سور ه پاتی‌شو. څه‌و ، نیا بی‌ژوندی‌وه. هغی‌ته سی‌وسپا ره. ماخپل زوی ته یوه سپینه واخیستله. زما زوی دسپینې‌په شودوغټیګی شو، ان‌چی‌دوسره لوی‌شو، چی‌ماته‌به بی له‌بازاره ډوډی را وړله اویا‌به بی دسو چی‌گړی په کار و نوکی راسره مرسته کوله.

پوخ سړ ی چی‌کیسه دی ځای‌ته‌را ورسوله، د غم‌لوخړ ی بی‌یاله

خولی نه وو تلی. بنا یسته شیبه په نا سعلوسوچرتونو اوخیالونو کی ډوب و
چی ما پری غږوو کړ :

و لی چوپ شوی اکا ؟

هغه یوسوړ اوسپلی وکیښ او سمد ستی یی وویل:

ـ نو بچیه، مجت چی شی او کیږی لا مړو پیژانده، نو په شو ونځی
کی سی شا مل کړ. ما به بیا هم د نورو بوتا ن جوړو ل اورنګو ل ،
خو خپل زوی ته به می پر ی قلم او کا غذ برابراوه . مجت هم ډ یر
هوښیا ر هلک وو، خپله غږیی ورته ښه سعلومه وه، نو ځکه یی په ډ ډ ډ ر شوك
خپل درسونه لوستل. څه سر به دی خوږوم، زسا نه تیریده، او مجت هم
د زلمیتوب میدان ته گام په گام ورنژدی کیده. یووخت داسی هم راغی
چی مجبت ما ته دپو هنځی پری لیك راوو ړ. ما هغه ښکل کړ. په سنه ه
لاړم ، په نجارا و تر کا نی سی ورته چوکات جوړ کړ. یوپسه سی واخیست
د خپلی کوشی سپین ډیری سی میلما ته کړل ، او بیا د ی د و ل می د خپل
زوی د پری لیك شیرینی کلیوا لوته ورکړ ه .

د پاخه سړی په مخ اوهلته د هغی نجلی په مخ بیا د اوښکو رودونه
سا زشول . نجلی د خپل تکری پیځکه خپل ستر گوته ئیولی وه او پاخه
سړی خپله خیر نه لمنه. بنا یسته شیبه بیاد اوښکو با رانونه اوریدل.
د کوډلی له چت زه د سجبت تر اژدی با ندی گردونه باد شول، او ژړل یی .
ما هم خپلی او ښکی وچی کړی او په خپگان سره می وویل:

ـ بچه، اکا بیا څه وشول ؟

هغه په ډ ك ستونی وویل :

ـ زه یو غمجن پلار وم. کورسی هم وران و. د اخلی پخلی می شوك نه وه
. په دی لټه کی شوم چه خپل زوی نه وا ډ ه وکړم. د هغه ډولی په کور کی
کښته کړم، او د زړه د غم لمبه پری سړه کړم . په دی و خت کی د هغه

ستونی بیارادِ ك شو ، ستر گو ته بی‌بیا خپله خیرنه لمنه ونیو ه ، اووبی‌ویل :

ـ هغه‌د چاخیره چی‌غم غمجنوته پیدا دی .

هغه‌بیا لږغلی غونډې شو . لګه چی ستونی بی ډك‌و ، اوخبری بی‌نه‌شوې کولی ، خوزه هم‌بی حوصلی وم ، نوحیرانی سره‌می تری پوښتنه وکړه :

ـ څه ، نوبیا ستازوی واده ته ...

هغه‌زما خبره ونه‌وله اووبی ویل :

غوږو نیسه ، ماغوښتل چی زوی ته‌می دهغه درور لور پاطمه واده کړم ، ځکه چی‌پاطمه هم‌بی پلاره‌وه ، اوهم زماد زوی ور سره‌پته سینه‌وه . ترور بی‌هم خپله لور ، په‌یوه خوله زمازوی ته په‌تامه کړه . ماته‌بی دسمال راکړ . ولوږبی هم‌رانه وانه خیست اوراته بی‌وویل چی‌په یوه ګنډ ول شربت بی‌نکا وتړه . زه دیر خوشحال شوم . زوی‌می لاخپرنه‌و ماژر خپل‌زوی اوهغه ټاوی‌ته جامی‌وا خیستی . پتامی می‌وا خیستی . زه څه پوهیدم ، چی دخپل زوی . . .

دهغه ستونی بیاډك شو ، خبره‌تری نیمګړی پاتی شوه . زه‌هم دهغه په‌غم په‌خپل ځای‌باندی میخ شوی وم . په‌دی وخت کی‌هغه خپلی اوښکی پاکی کړی وی‌او ماته بی‌پام شوې‌و چی‌دیو بی‌روحه کالبوت په‌شان ناست‌یم . په‌دی وخت‌کی هغه په ماغږ وکړ :

ـ په‌چر تونو کی مه‌دو بیره ، غوږونیسه . ماد خپل زوی له خواښی سره‌د پنځشنبی شپه‌نیته کیښولەاود دواړو په‌دی سلاوشوه چی‌باید په‌همدغه شپه ، دمحبت اوپاطمی نکاح وتړو کښته پورته کلی‌ته می‌سړی واستول ، چی دو ستان خبر کړم . سړی می بدرو کړه هم‌وا ستول . غم‌لږلی بدرو ، زماد اکا لورده . بدرو یوه

یغله لوردر لوده . دغده دلته ناسته ده‌اونوم یی‌شم ده . شمو رسا په‌زوی باندی پته مینه‌وه ، خوله شرمه یی‌نه‌ساته هغو یلی‌شو اونه‌سورته چی زه پری‌هیڅ خبر نه‌وم، اونه زما زوی بری خبرو

هغه بیاخپله خبرنه لمن خپلوستر گوته و نیوله او پاڅ یسته شیبه ئی‌و ژړل ورو وروبی زړه تش شو ، خوهمدا سی غلی پاتی شو . لکه چی غم یی زړه ستړی کړی واو غوښتل یی دسه وکړی ، خوزه یی صبره وم ، غوښتل‌سی چی‌کیسه تر پایه پوری واورم . هغه همد اسی ساته کښل او خه یی‌نه ویل ، خوسا ورباند غږ وکړ:

ـ ښه ، نو بیا یی په شمع خه بلا نازله کړه ؟

هغه په دا سی حال کی‌چی ستونی یی‌لاډکو ، وویل :

ـ دی‌نجلی چی واور یدل ، محبت له پاطمی سره واده کوی آسمان بی له‌سره او ځمکه‌یی له پښتونه تښتیدلی‌وو ، دمحبت‌دواده په شپه شمع هم‌واده ته راغله ، خوپه گیلاس کی‌یی زهرا چولی وو ، اوچی کاله یی په محبت باندی دواده په‌وخت کی سترگی ولگیدی ، نوای چی دهغه پولی‌زما کورته راغله نو یو دسبا رکی نه‌وو وسته دوستی‌د شربت په‌نامه دزهرو هغه گیلاس چی . . .

سړی له دی‌خبری سره خپل‌سر په زنگنو کیښود بیا یی‌د اویکو قافلی گریوانه ته‌و خوزولی . ځوانی‌نجلی‌هم شا واړه ولی‌او دغم سا ندی یی‌وبوللی ، او زما په زړه کی هم دغم او تلو سو لمبی راپورته شوی . سوې دری واړه بنا یسته شیبه غلی وو ، هیڅ سو سره نه ویل ، خونا څاپه زما د خولی نه ووتل :

ـ ښه ، ا کا بیا نو . . . ؟

ـ بیا نو شمعی‌په خپلی‌خولی‌وویل، چی زه په‌د محبت‌باندی مینه‌وم ، خوله دی کیله چی پښتنی حیا به‌سی سخی ته در یدله ، هیڅا ته آن چی محبت ته‌سی هم‌نه‌شو ویلی . او چی پوه شوم له هغه نه

بی‌نصیبه کیږم، نو دمحبت مرګ ته‌سی ملاو تړله .
په‌دی‌وخت‌کی ما دهغه‌خبره‌ونیوله او په‌بی‌صبری سی‌تری پوښتنه وکړه

ـ‌څه ، نو بیا شمع څه شوه ؟

ـ شمع ، لحان قانون ته وسپاره هغه‌اوس‌دخپلی سزا په انتظار شپی‌او ورځی تیروی ، او زه‌او دمحبت‌ناوی ، پاطمه دلته دمبحت په‌قبر دمرګ شپی شما رو .

کله‌می‌چی دهغه کیسه تردی‌ځایه واوریدله ، نور نو ما ته هم دبیا ژړاتوان نه‌و پاتی . له پاخه سړی‌او دادیری له‌ډیوی‌یا پاطمی سره می‌مخه مینه وکړه او بیرته ادیری ته راغلم .

اوبوراوړی

* * *

دشکسپیر ، دوینالـه مخی ، چی ویلیی : «ژوند یوه زامـه ده ، چی ژوند لهخوا تهشیلیږي» اویاد گویته خبره چی : «ژوند داستان دی او هرژو ندی ترهغه ژوندی دی ، ترهغو خپل تراژ یدی اویا کمیدی داستان سرته ورسوی ». واقعاً چی ژوند یوواقعیت دی او هرژوندی دخپل جوړښت او کیفیت پهاندازه ددی واقعیت پهانجام کی پا تی ژوند یوته داستان پری ایښی دی ، چی البته دغه ټول داستانونه هرچا ته ورپه یاد نه وی ، اوعلتیی هم شاید داوی چی دیوه ژوند داستان دبل دسینی پهصندوقچه کی پهټه خاوروته کښته شوی وی پههر صورت ، لهدغو داستانونو څخه یویی دغهدا ستان دی ، چی سپینی ترور وربا ندی «اوبورا وړی» نوم ایښی دی . سپینه ترور ، مادری څلور کاله وړاندی پهخپل کلی کی لیدلی وه . سپینه ترور اصلاء زموږ کلیوالـه نه وه ، بلکی هغهد وزبین دسری کلا وه ، او

زموږ کلیوالو وز یوښی ترور هم بللمه . داښځه داویا ، پنځه اویا کلنوه ، خو خدای دو سره صحت سلامت ور کړیدو ، چې له ډیرو ځوانو پښځونه هم تکړه معلومیږه . سږه یې سږدل اکاهم زورسړی و خودهمت نه ځوان و . ده به زموږ د کلی «پاده» نیولهاو له دې درکه به یې هره شپه دخه ای په ټاسه دخپل پاده وانې ډوډۍ تولو له او خپله گوزاره به یې کوله .

چه ډی یاددی چې سږدل اکا به خپل خټین « پتک » غاړې ته او خپل کوتک به یې په ولې کیښود ، خپل غټ سپی « بخمل » ته به یې هم ناری کړې ، اود اوړې په سو زنده لمر کې به یې خا روی څرته وخو زول . د سږدل اکا ، کیسه به پر یدو ، یوازی سپینه ترور به یاده کړوچې څنگه پښځه وه ؟

سپینه ترور ډیره خنده رویه اوخوش خلقه وه . پر سږه پر دی ډیری کیسې یې هم زده وی، نوځکه د پرو کلیو الو پښځوراغو ښلته اوتر نه یوشپو پوری یې ډیری کیسې کولې .

یوه شپه چې زه لا هغه وخت دولس کلن وم، سپینه ترور ، زما سورهم میلمه کړه . زما مو رهم کونډه وه ، اوپرته له موږ خوما شوما نوټه زموږ په کور کې دخرپ اوترپ بل څوك موجود نه و . زما دخوشحالی له پاره کله کله سپینه ترور راغوښتله.

خیر ، یوه شپه چې زه هم د سپینې ترور کیسوته وینا ناست وم سپینې ترورلومړی د کیسې په سر کې وخند ل او بیا یې وویل .

ـ تاسو تول څنگه زما خولی ته غوږ غوږ یې . . . خیر، زه به هم تا سوته داسې نکل وکم ،چې ستاسو په درد وخوری .

هغې خپل نکل داسې شروع کړ :

ـ ما او ريد لې دې چې خوشاله چا سره نيکۍ وکړې ، هغه
اروسره نيکۍ و يې ، اود چا چې مرګ نه وې را غلى هغه نه مړى .
ـ داد ې زن شپه زړه همد ې متلونو په منلو سره يو ټکل
درته کوم، چې ما په خپلو ګنهکا روستر ګولیه لې وه . ټکل داسې دې
چې ، زمونږ په وز ين کې يوه کورنۍ وه ، چې د دې کورنۍ مشر ياد
کور دپلار نوم ګوربت و . ګوربت ديوه وچ خوږ په غاړه ځان ته
يوه بانډه اباده کړې وه ، او خپل ژوند به يې په کې کا وه .
سپاشتى ، کلونه . تيريدل . يوه شپه . . .
په دې وخت کې سپينه ترور ، پرنجيږى اووايې : « خدايه رحم
وکړې ، چا به يا ده کړې يم ، » اويا خپل ټکل داسې شروع کوى :
ـ خبر ، ټکل داو ، چې يوه شپه ماسخټن لمرلو يدو خوا ته
يوه توره وريځ پيداشوه ، اودټول وزيږين اسمان يې پټ کړاويوه
شيبه وروسته تالنده او باران شروع شو ، اوداسې پيښه وشوه چې :
ـ ګوربت دتور موري زن شپه ديرپا ران اورى ، نه چې سيلاو
رانه شى .
ـ ګومان نه کوم ، ځکه زما زنه يادږى ، چې سيلاو راغلى وى .
ـ ته خبره نه يې ، خد اى دى وښې زما انا به ويل چې يوه
شپه په دې خوږ کې ديرزورور سيلاو راغلى و ، ديرکورو نه يې ړنګه
کړې وو ، او ديرمالونه يې هم وړې وو .
ـ هغه نويو کا ل و ، او دکال يوه شپه وه ، د اوړى باران
دى اوس ګوره چې درنګه ساعت ته ودريږى .
ـ او ښځې ګو مان نه کوم ، چې دو مره ژرو دريږى .
ـ نو څه غواړې ؟
ـ ما ويل راځه چې له کوره ووځو . کورد خوږ ترځنګه دى

که سیلاو را غی ، کور خو به ژنگ کړی ، موږ یه هم یو مسی

- : پریده ، پریده ، پهدی باران کی موږ چا کړه لاړشو ؟

دلته خونړ دی کورونه هم نشته .

- : خیردی دیو پاڼ لاندی به شپه سبا کړو . هلته به سړه نه شو ، خو دلته به سیلاو موږله ناڅاپی پیښی سره مخامخ کړی .

- : اوس غلی کیږه . له پیښی نه تیښته نشته .

پهدی وخت کی دا شوم دژړا اواز پورته کیږی اوښځه خپل میړه ته وایی :

- نه گو ری چی هلك هم ژاړی ، نا روغ هم دی ، که پهدی باران کی وخو زیږو ، هغه به نور هم نا روغ شی .

خوښه دی ، گوره چی باران شیبه پهشیبه ز یاتیږی . کله چی نکل دی ځای ته راور سید ، سپینی تروریو اوسیلی وکیښ ، اوبیا یی موږ ته وویل :

لښه داچی د گوربت پښځی مستی وکړه اودخپل میړه خبره یی ونه منله ، پهدغه شپه ډیر زور سیلاو له غرو نونه را کښته شوه ، هر څه چی یی مخی ته راتلل ، خپلی گیلی کی یی اچول . پهدغه وخت کی د گوربت خړه بانډه لهخړو دیوا لونو سره دد ی خړاڼ دهار کوسی ته ور غله .

سپینی تروریچی کیسه تردی ځایه وکړه ، ستونی یی له غمه ورغی خپله سیمه ورته یاده شوه او سپینی اوښکی یی پهد وړ وغمیو روړا شویه شوی . د تیلو څراغ ته دا سی معلومیدی چی تا به ویل دسیما بو بهیږدی . هغی خپلی اوښکی د گوتو په څوکو پاکی کړی اوبیا یی خپله کیسه داسی پیل کړه :

خیر ، خدای دی هغوی وبښی ، کومه کیسه اوپیښه چی زما اود نورو

داریانی وړوه، هغه دوړوکی تور پیښه وه . دګوربت ماشوم زوی هم پهدغه شیبه خړواوبو په سخه کړی و، خوهغه یی وژلی نه و . اودغه ماشوم دشپی کلیوالو، د سیلا وی دښکو په وخت کی له اوبو نه روغ رسته راویستی و. تابه وبل چی خړسیلا وهم زړه درلود اوهغه یی دیوی مهربانی مور په شان په غیږ کی نیولی و.

ـ خیر ، دخدای کړه وو ، چی دغه ماشوم دسیلا وهچو وچی ته کړی و ، او دخلکو گوتوته ورغی . وړوکی تور ، کلیوالو سر کښته پښی پور ته کړاو کوسی خړی او به چی یی په خولی ور ننوتی وی ، هغه یی بیر ته د خولی او سپیر مو له لاری قی کړی . دوړوکی تورد سوراوپلار مړی یی سوزله کړل او هغه یی خاورو ته وسپارل ، خو کوچنی تور ، عظیم اکاله ځان سره کور ته یووړ. دعظیم اکا په کور کی نا رینه اولاد نه و . او ښځه یی هم لکه ده غوندی زړه شوی وه ، اوله او لادپاتی وه ، خوتورور ته خدای په خړو اوبو کی ورپه گوتو کړ . هغه د تور له پاره یوه لنگه ښزه وا خسته او تور یی د هغی په شو دو ساته . عمر دی تیر یږی تور خدای بوتکی گړاو بیازلمی شو . سیلا ورا وړی تو ر ، داسی چپه زلمی شو ، چی په کلی کی یی انډول نه پیدا کیده . تور په کاروبار کی هم له نورو کلیوالو نه ډیر تکړه و . اگر که عظیم اکاد خپل نیالگی سیوه و نه خو ړه اوهغو کاله د سخه مړ شو ، خو په اوبورا وړی تورباندی د عظیم اکا سپیره کور ودان شو ، او اوس یی له ډیرو کلیو الو نه ژوند ښه شوی دی .

سپینه تر و ر یوه شیبه غلی شو ه او بیا یی نا څاپی له خولی نه و و تل :

ـ هو ، رایاد شو ، دتور هسی نوم تورو . خیره یی دومره

رو بنانه اوښکلی وه ، چی دشپی په تیاره کی به هم دا ور بلکی په شان سعلو سیده . . شه سی یاد دی چی تو رسره دسار و پی سینه پیدا شوه .

ـ سارو په هم بی‌جو ړی نجلی وه یوشپه زسوپ ورغوسی ورک شوی و و . زه دهغو دلټولو لو له پا ره له کوره و و تم ، بنا یسته لر ی لاړم کتل می ، هلته د یوه پاټ ترخنګ گو نګسی دی . زه ړوسبی وو بریدم ، چی دپاټ لا ندی غرشه کوی ؟ . . . اخر ورغلم او دیوګټ شاته پنا کیناستم اوغوپ سی و نیو ، کتل سی چی تور او سارو په سره داسی خبری کوی:

تور : داوړانډی ادیره وینی ؟ دوی هم یووخت زسوپ غونډی وو.

سار وپه : هو، یووخت به سوپ هم خاوری کیږو .

تور : چی داسی ده نوشه ضرورچی انسان داسی په ژوندانه بوخت وی ، چی خپله ریښتونی وظیفه وزنه هیره شی .

ساروپه : درسته ده ، خوانسان تر هغه پوری له دغه را زپیښی نه بی‌خبر وی ترڅو چی په کی گیرشی .

تور : نه گوری ستا پلار له سورسره خه نا دودی پیل کړی دی ، کله سرکی ته‌وایی چی نه بی‌ورکوم او کله د پیسوانی بانی کوی .

سار وپه : چاره خه ده ؟ اوس هغه داسی کوی .

تور : (او سیلی کوی) زه هم نه پوهیږم ، ترخو به زه اوته په دی توره شپو کله له یوه پاټ او کله له بل پاټ لاندی گورو . اخر به سړی په سوپ پوری وخاندی (په جدیت) سار وپی زه ډارن یم؟

سار وپه : څوك وایی چی ته ډارن یی ؟

تور : زما خپل زړه راته وایی ، محکه چی دایو کال زما اوستا سینه په غلا غلا تیره شوه او ما په دی باب هیڅ ونه کړل .

سار وپه : دسینی په کارو کی زور ازمایی په کار نه ده . ستا

څه فکر دی چې باید څه وکړی ؟

تور : ما ته زړه‌هواری وویل چې په زوردی ګورته راولم .

ماروپه : دزور کارپه نه‌دی ، زه‌هم کولای شم‌چې همدا زن شپه درسره لاړه‌شم ، خوګټه یې څه ؟ . . . کورا و کلی به‌ټول را باندی بدووایی .

تور : (اوسیلی کوی) کور اوکلی هم په عجیبو دو دونواخته دی ته ګوری داولور په‌ما او تاځه ناکردې تیروی ؟

ماروپه : ته بیخمه اوسه ، زما سور راضی شوی ده ، ګومان کوم چې پلارې هم غاړه کیږدی ، صبرپه دی .

تور : ماروپی ته‌چې‌کله دلته‌زسالید وله پاره‌راځی سور دی نه خبریږی ؟

ماروپه : نا . . . ما سره ښه‌ترور سرسته‌کوی . زه چې کوسه شپه له‌تاسره وعده داره‌شم ، په‌هماغه شپه ښه‌ترور سادسیلمستیا په بانه کورته راغواړی .

تور : وپوهیدم . یعنی ته دترور له‌کوره راځی ؟

ماروپه : (خاندی) څه‌وکم . سینه اوښان هم‌په‌ګونډه‌کوی .

تور : او تورخوږیا بالکل لیونی کوی .

ماروپه : (په ویره) ویږیوم ، توره !

تور : (په‌اړیانی) له‌څه نه ؟ دلته خوهیڅوک نشته .

ماروپه : ویره ویږیوم . له‌ادیری نه‌ویږیوم .

تور : (په‌اړیانی) نوری شپی خونه و یږدی ، نن شپه . . .

ماروپه : (خپرې نیسی) نن شپه‌می‌مړی‌ستر ګوته‌نیغ‌نیغ کیږی.

تور : خبرو پاندی راپه ، څنګ ته می جوخته کینه .

ماروپه : (په هیبت) هله ، هله ، تینګه می ونیسه ، چې

ویریږم ، ځان دی رابانډی ږسټن کړه .

تور : مه‌ویږه . دلته خوخوك نشته . زه خودر سره یم ولی ویږیږی ؟

مارو‌په : ډډه‌مې په غیږکی ډډه کړه .

تور : دادی ما نیولی یی ، مارو‌پی . دادی‌په غیږکی می ډډه کړی یی ، لکه‌پوستین غوږه ی‌در نه‌تاویم .

مارو‌په : (په‌زوره خاندی) .

تور : (په‌مو سکا) هی چلباز ی ، نږد ی‌و چی‌له ډیره غمه می زړه چاود لی‌وای .

مارو‌په : (په سو سکا) ماتو کی‌و کړی (په شوق) اوف ، خومره توده غیږه دمینی‌او پاکی توده غیږه !

تور : (په شوق) خو سره ږستی څنی اوله ور ږښمو نه رنګینی کو څی ؟

په‌دی وخت‌کی سوینه تروړ بیاغلی شوه لکه چی څه یی‌په فکر کی ګرځید لی‌وی ، خوبیای بی‌اختیا ره کیسه دامی‌شروع کړه :

ـ تور او مار و په په سیاشت کی‌یو ځل‌یا دوه ځلی ادیری دهمدی‌پان‌څنګ ته‌راتلل اود رنګ‌شیبه یی‌د مینی په پاکی بقی کی‌خپل‌ځانونه ژمنی‌کول . اخر دخدای کړه وو ، دمار و پی پلار دجنغو زی‌له ونی نه‌ولویږد ، اوسږ شو . !ومارو په‌دغی سور ، تور ته‌و اده کړه . اوس نوڼه پوهیږم چی‌هغوی به‌څنګه‌وی ؟ خوکوم شی‌چی زه اریانه کړی‌یم ، هغه‌په یو خږسیلا وکی‌دیوه واړه ماشوم ژوند ی پاتی کیدل دی . یوبل وخت‌به یوشه ټکل‌در ته‌وکړم .

دسوینی ترور د دی کیسی په پای کی ما بانډی خوب غلبه‌و وکړه . د چرګی بل‌اړخ ته‌چی زماد ملاستی ځای‌و ، ورغلم‌اوخپل لمنی‌بانډی وغزیدم . سوینه‌تر وراو زما بو‌ډی سورلګیا وی غوری بی‌کولی ، خو موږ بیا ویده شوی وو ، اود هغی شوی‌نوری خبری زماد خوب په‌څوکی نا بودی شوی .

غنی ملنگ

* * *

خپلی سینی نه‌هم زیږی اوبه‌اوهم خوږی دانی ور کوی .
دچپلیار دسیمې حلق هم په هغه‌لنده کی‌سیند تازه‌دی ، چی‌دسوین غره‌له‌ستر گونه بهیږی اودچپیر اواگام تنده هم ساتوی .
دچپلیار پسرلی له‌نشو ډک پسرلی دی . دلته دگوگنارو گلونه اوربادوی‌خمارساتوی ، اوژوندته‌مستی‌اوخروش‌راولی . داهم ویل کیږی‌چی‌دسوماتاریخی بوتی‌دسوین غره پەشملە کی‌هر پسرلی‌توسپل کیږی ... نوچی‌پسرلی کی‌دسوسادبوتی‌خوږاوزړه‌راکښونکی‌بوی، دننگرهار په تولو سیمو ، په تمره بیادخوږیانو، شینوارو‌چپیر، اگام اوچپلیار په تندئ باندی، دپسرلی وږی شیندی، نوځکه د دی سیمو په پسرلی کی نشی شنی کیږی .
خیر، خپره په غنی‌ملنگ کی‌وه . غنی‌ملنگ هم‌دچپلیار په‌یوه‌بانده کی لکه دزرونوروسا شوسا نوپه‌شان ستر گی‌رونی‌کړی‌اودچپلیار په‌طلایی خاوره کی‌یی خاپوړی وکړی، چی بوتگی‌شو، خپلی‌دو ه لنگی‌غواوی به‌یی یاسیر زاعظیم‌داگ کی پیولی‌اویا یی‌دسیند‌دغاړی‌په کښلو کی .
دچپلیار سیمه‌هم‌اوغانی‌سیمه‌ده‌دلته‌هم‌لکه‌د نوره سیمو‌په‌شان کوچنیان خپل‌خاروی پەډله ډیرشکل‌پیاتی.
غنی‌هم‌چی وږوکی‌و، غولکه (لینده) به یی غاړه کی پر ته‌وه، غواوی به‌یی‌سخکی‌وی، چی‌دخړخای ته‌به‌یی‌سال‌بوته، په خپله‌به‌یی واړه‌کانی تول‌کړل اودسرغیو‌پەو یشتلو‌به‌یی‌پیل وکړ، چی‌غرمه‌به شوه‌اود اوړی تاوده‌لمر‌به‌دچپلیار‌له‌ځیگره‌افسون‌اوتوداوسیلی‌پورته کاوه ، غنی به‌بیا خپلی غواوی‌دلوشلو‌له پاره کورته راوستی غنی هم د زسا ن په خپو کی لاهوو ، او دغو خپو لخا ن سره سخ په وړانډی راکښود . غنی‌له کوچنیوالی‌نه زلمی شواو په شوندو‌کی

بی‌دځوانی توری‌لیکی‌پکاره شوی ، چی‌کوچنو و، غنی دومره‌پکلی نه‌و، خوچی دزلمیتوب‌په بازارکی‌ورګډشو، دغنی رنګ‌اورخ کی‌هم‌بدلون راغی . رنګ‌کی بی‌اوغانی‌سرخی وزغلیده همسورورشور او هم‌بی دنېټر په شان غاړه و و پسته غنی دومره‌ځه نه درلودل ،چی‌یوه پښه په بله‌واړوی او ژوند وکړی،مجبور وچی دی هم‌د ډیر و نورو زلمیا نو په شان یا د ځمکی زړه‌سوی‌کړی او د بډګری له لاری لږه‌کیه پیدا‌کړی‌د سپین‌غره‌له‌لږمون نه د لر ګیو ګیلی راویاسی اوسو کړی پری برابر کړی .

دغنی پلار مړ شوی وه ، یوازی یوه بوډی مور ور ته پاتی وه چی هم د ده د زړه دسه ځای وه ، او هم بی دکور لوګی پر ی جګیده . غنی لګیا و خواری مزدوری بی کوله ، چی ځه وګټی ، ځان ته‌پری کوژده- واده و کړی ، او خپله زاله ودانه کړی خو هغه د هوښیارا نو خبره ژوند دحوادثو بوخټی ده دغنی ژوند هم په حادثه کی گیرشو ، داسی حادثه چی د غنی د ژوند رنګ وخوند بی پیکه کړ ، اوله غنی نه غنی‌ملنګ جوړ شوه

نکل داسی وه چی یوه ورځ غنی له غره نه ستړی ستو ماڼه راکوز شو ، غو ښتل بی ځان کورته‌ورسوی، خیلی‌بوډی مورته، چی‌دغنی‌راتګ‌ته‌بی خپل‌غوږونه‌اوستر ګی‌لاری‌ته‌پټره‌داری کړی‌وی. غنی‌په‌لاره کی ډیرتیری شو، ځان‌بی دسیندغاړی ته‌راورکړ،دسیند هغی‌غاړی ته‌چی‌گودرو، اوکا نوبوتود ستو‌ونه‌پیغلو‌په‌سویلو‌پوڼه‌وخولی لګولی، اودلمنو وړمواواتنوته بی‌غنی اوسرونه غووزول. داګودر دبانډی په‌گودر مشهور ؤ .دبانډی گودرخو پښتو لنډیوکی هم‌یاد کړی‌و . خوله غنی‌نه هیرو .

غنی‌چی‌دی گودرته راغی، خپل ستړی زړه‌او خپل ژ و ند بی‌په کی

لاهو کړ، وایی چې :

هلکه ر و غ به لیو نی سی

که د بانډی ما زیګری دی ولیدنه

غنی‌چې ما زیګر کی‌د بانډی ګودر ته راغی، په‌لاره‌لاره کی‌یی‌ستر ګی دچاد سپینو سرو ټډو بربښنا بوول. غنی‌ځای په‌ځای میخکوب‌شو. دی‌لاد مالوچوسرو ټډونو په‌تما شاو و چې‌دهغی پلود ګودرسره‌ویږی دهغی‌له منځ لری کړ، اود سپین‌سخ بخر کوبی دغنی ستومانه زړه ولی پولی کړ. غنی سرجانه و لیده. سرجانه د بانډی د کلی سپوږمی وه :

د خدایږکته‌یی‌سپین غر هم‌سلامی ولاړو. دسرجانی دښکلا زانګه آن دپخیږدری‌ته هم رسیدلی‌وه. دسرجانی تنکی شونډی په‌شود و ډیری جوړې‌شوی و ی، هغه‌دچاخبره چې‌پوزه‌یی الف‌وه، ا وتنکی شونډی‌یی ډیر «ب» په‌شانی دغونډی زنی په‌ټندی پرتې‌وی. دهوسی غونډی‌غږ یی‌درلوده، چې‌دسپینوزرو هارونه داژدهارپه شان غیږه تاوه کړې‌وه. سړاوی‌نظر کی‌یی‌سستی غلی‌شوی وی، او له ستر ګویی بخړ ی تویدل. ښکلایی سحرانګیزه اونظر یی جادوګړۍ نولحکه‌دسرجانی په‌ډیودیدن‌سره غنی خولا پریږده، دسپین‌غره‌نښترو هم دهغی ښکلاته و رسیږونه ټیټول.

غنی، هوکی . . . ستړی غنی هم‌دسرجا نی دښکلا په ټقی کی ورنښوت، اود ګودرپه غاړه دهغی په لیدوسره وچ پاتی‌شو.

سرجانی‌چې‌غنی‌د ګودر په‌غاړه زیږنارنج ولید، په‌وار خطا یی خپل پلوسخ ته کړ او په غنی‌یی غږ کړ :

ـ نه‌شر ډیری چې دنجونوسیل ته‌ولاړیی ؟

غنی‌چې‌ترا وسه پوری دسرجانی دښکلا پرتشوکی بانګساره‌وه،

دسرجانی پەغبر سر ەیی جتکەوخوڕە ، اوپە وارخطایی وویل :

ـ سیل نەکوم ، تیریم . . . اوبە خبنم .

دسرجانی پری زڕە وخوڕیدە. وڕوهیدە چی پەبد و نەدی ولار ، یونیری لاروی‌دی ، نوبی خپل سی‌جام پە اوبوکی غوپەکړ ، اوغنی تە بی‌غبر کړ :

ـ راشە اوبە وخبنە !

غنی لکەوزرساتی سارغە ، چی نەبی ستړگو کارکاوە او نە بی پښو ، پښە ټولی اوپەویرە سر جانی تەنژدی‌شو ، پەداسی حال کی‌چی لاسونە بی‌لەهیبتە لړزیدل د سرجانی لەپستوخپرونە بی سی‌جام واخیست اوپەولارە بی سرباندی‌وا راوە . دسرجانی‌ستړگو دگودرلە اوبوسرەلوبی‌کولی ، اوغنی پەدمەدمە اوبەخبلی ، چی ناخابە سرجانی‌دگودر پە اوبوکی بوە خیرە ولیدە ، چی دگو در پە او بوکی بی لا سبو وهلە . داد غنی خورە وە . غنی خو هم بدمخوان نەو ، خود سینداو بود دی خیری تە لە حدە زیاتە بنکلا بښلی وە . غنی‌چی اوبەو خښلی ، جام بی‌بر تە سرجانی تە و ټیو ورتە بی وی و یل :

ـ وا خلەجام دی . . . شادەشی !

سرجانی لەشرمە جام د غنی لەلاسە وانە خیست ، هغە تەبی وو یل :

ـ همد لتەبی پرخمکە کیږدە.

غنی جام پەخمکە کیښود ، پەخپلە لەگو درە وخوزید . خوخپل زڕە اوخپل ژوند بی دگودر پەاو بوکی لاهوکړ . لەدی ورخی‌نەوروستە غنی‌بیا هغەغنی نەو، فکروذکر کی‌بی‌سرجانەوە کەبە پر وت و او کە بە نا ستو ، سر جانە بی پەستړگو کی‌ر غږیدە.

د مرجانی مینه د غنی په زړه کې د یو ټوپ بانډۍ د چنچې په شان ور داخله شوه ، او کرار کرار یې خوانی وړ ته خوږله . غنی لکه د چتا ر د پانې په شان د بهلتانه په سنې زیږیده ، او له ژوند نه یې زړه سړید ه . مرجانه د بانډۍ د کلي د یوه شتمن سړي لور وه . غنی پوهیده چې که دده له مینې نه د مرجانی کورنۍ خبره شي ، نو د مرجانی ژوند به په دارشي ، نو ځکه غنی په خپله مینه کې پټ پټ سوزیده . د کلي هر چا به ویل چې غنی کوم نا علاجه رنځ نیولی ځکه وار په وار زیږیږي او رژیږي. او غنی ته هم معلومه وه چې اخر به یې د مرجانی مینه د اغرور غوکړي .

غنی به هره ورځ له سها رنه بیا تر تیر ساخستن پورې د گودر په غاړه پروت و ، چې مرجانه به یې له لرې ولیده ، د پلو شمال ته به یې خپل گو ګل خلاص کړ ، او د خپل سوی زړه تا وو نه به یې ور بانډۍ سړول. مرجانه هم کرار کرار و پوهیده چې غنی یې د زلفو په کمند و کې بند یوان دی .ددی زړه هم د سوم غوندې ور بانډۍ ویلی شو . په بانه به یې له خپل مخ نه پلو لرې کړ او د خپل مخ وړا نګی به یې د غنی په لیو نی نظر وړا شلی . غنی به هم دهغې د مخ په ژند اره کې محوا وبې هوښه شو .

په میاشتو میاشتو مرجانی د خپل مین تیری زړه ، په پټه پټه او به کاوه ، خو ګټه څه وه؟ مرجانه هم پوهیده چې له غنی سره د ددی کوژده د ځمکې او اسمان دومره لرې خوده. غنی هم ددی په بدل چې د مرجانی په د ید ن بانډۍ یې زړه د سه پیدا کړی او ارام شی ، لا به د وصال په تناره کې بر ته شو او په وجود به یې د غم اوانه یښتولو غوږ و ګرځیدې. ترڅې چې غنی، ملنګ ګ شو. ژوند یې پر یښود او د مرجانی په مینه کې هر څه ور نه هیر شول. ځان، مال او بوډۍ سور .

جانی یې وشلولی ،بیر سر اولوخی پښې اوږې اوژمې د بانډې د
ګودر پهغاړه پروت‌و. اومې‌نو غنی، ملنګ‌و . په‌ملنګا نودهیڅا
کلنګ‌نه شته، هیڅا ورته هم‌هیڅ نه ویل . دزمانې له قیده ازاد
شو. یمغمه‌یه له‌مر جانی سره غږیده، خوپه لیو نتوب کې . . . او
په لیونی احساس کې. د مرجانی‌سره سینه‌هم ورسره وارپه‌وارزیاتیده،
چې‌یوه‌ورځ به‌یې‌خپل غنی ملنګ په ګودر کې‌وژنه لیدپه‌ستر ګو‌به‌یې‌دغم
جال‌خور شو ،وبه‌ویړیده چې‌چاوژلې‌نه وي، اویادکلې‌نا‌پرا ما نو په
ډېرونه وی و یشتلی .

مرجانه همچې وروسته بیاتول کلیوال‌پوهیدل، چې‌غنی د مرجانی
ملنګ دی ، نوځکه مرجانی هم دهغه ډیرخیال ساته‌غنی د ګو د ر
ملنګ و.د ګودر کانې‌یو نې‌هم‌له غنی ملنګ سره‌اشنا شوي‌وو .

غنی‌ملنګ چې‌به‌نه‌وه، ګودر‌به داسې‌سیمه معلومیده، چې‌تا به‌ویل
دکودر ګا تې‌به‌غنی ملنګ پسې ژاړې،او مرجانې‌به په‌اوبلنو ستر ګو
دغمسند ره‌زمزمه کوله :

دادګودر غاړه پرې نه دی
وه‌ملنګه‌یاره، کیږده‌قدم‌ورو

غنی‌ملنګ به‌یوازې‌ما زیګرټ ګودرته‌نه راته، بلکې شپه‌او ورځ‌به
په‌ګودر کې‌ډیره‌و. تر‌څوکلیو ال‌چې‌غنی د مرجانی له‌پاره‌د ګو در
غاړه‌اجاره کړې‌ده .

د مرجانی ورونو، غنی‌ملنګ ووا‌هه اولیونی غنی یې‌له ګودره
منع کړ. غنی‌خولیونی‌و، دلیونیا‌نوخای خویادسیند غاړه‌وی او یا
داوبو ... نوغنی‌سم‌چې‌له ګودره وشړل‌شو ، نود زیارت مخه‌بې‌ونیوله
د(صاحب‌جی‌بابا) زیارت‌نه‌دخپو خلوردیو الونه تاودی‌اود غرو ـ
ونې‌لکه‌دهیټنا کو کیږدیو‌په‌شان په کې‌لکې‌وی. دالحای دغنی‌ملنګ

دپاره غنیمت ؤ، ځکه چې له کلي لرې و. مرجانه چې وپوهیده چې مینې یې له ګودره شړل شوی، خپل سنګي بې ساتې کړل او د کور په ځلورو دیوالونو کې یې ځان بندي کړ، خو د غنی سلنګ مینې دهغې وینې په جوش راوستې وې. د غنی سلنګ پاکه او بې ګناه مینه وه، دا بې هم آرام ته نه پریښوده. کله کله به په پټه پټه داوړی په غړ سو کې زیارت په نامه له ورو وته او د خپل غنی سلنګ دیدن ته به ورغله. غنی سلنګ اګر که لیونی و، خو د خپلې معشوقې مینې بې هیڅ په خاطر کې نه وو پاتې، خو یوازې د ګودر خاطره کې بې لا په لیونی احساس کې پاتې وو. مرجانه به بې خواته کیناسته، دوه درې ایشیدلی هګۍ به بې د یوې غامینې ډوډۍ سره په مخ کې ورته کیښودې او بیا به بې په خپل سسی جام کې او به ورته ورکړې. یوه شیبه بې ورته اوښکې توې کړې او بیا به بیرته ورته وخوزیده. غنی سلنګ به له تندې سره کیده، اخوپه بل لوښې کې به یې او به نه ځښلې، پرته له سسی جام نه، ځکه چې غنی په لوسړې وخت کې د مرجانې دلاس په سسی جام کې خپل زړه ډوب کړی و. هرځوک چې وایي (صاحب جې بابا) زیارت ته راته ځه بې ځان سره، سسی جام هم راوړه ترڅولو سړی غنی سلنګ ته به کې او به ورکړی، او بیا زیارت وکړی.

مرجانه چې به هم د غنی سلنګ دیدن ته راتله، خپل سسی جام به ورسره وو. او د غنی سلنګ ټنډه به بې پرې ماتوله، نوځکه بې په دغه ورځ هم په خپل سسی جام کې او به ورته ورکړې. غنی سلنګ چې او به وخښلې بیا په خندا شو:

ـ مرجانې . . . زیارت . . . زیارت ته . . مه راځه !

هوکې، د غنی سلنګ خبره چې زیارت ته مه راځه، د غنی فکر خراب و، عقل بې کار نه کاوه، چې مرجانې وپوهوی، چې زیات ته راتلو کې بې د غنی سلنګ، سرګ پروت دی، او مرجانه د غنی په نیمه خبره نه پوهیده.

غ ی یه تل و یل چی زیارت ته مه راځه!

دغنی خبره بیا وروسته نجونو په داریاوکی داسی و یله :

بی بی مرجانی زیارت ته مه راځه

اگر که غنی ملنګ به تل و یل چی زیارت ته مه راځه، خود سرجانی زړه کړله ورته صبر پیدا . وا یی چی مینه پته ده پاتی کیږی، سرجانه بیا رسوا شوه، چی سرجانه په غلا غلا، د غنی ملنګ د لیدو له پاره زیارت ته ورځی د سرجانی ورونو ته دالوی پیغور پاتی و. هر کلیوال به ورته پیغور اوتانی ورکولی، چی په خور بی غنی ملنګ مین دی هغه وچی د سرجانی د ورنود غضب اور تود شو .

بله شپه چی غنی ملنګ په خپله کوډله کی پروت و، د سرجانی ورونو ، د هغه کوډلی ته اور واچاوه . . . هوکی، اور. په هغه شپه چی غنی ملنګ کوډله د اور کام ته ولویدله، رنا یی پیرولر و کلیو ته هم تیته شوه. کلی، کور کی شور شو چی زیارت کی اور لګیدلی دی . هر چا خ په زیارت منډی شروع کړی ه آن د کلیو ښځوهم داو بو سنګی په ټخر ګ کی ټیولی وو ، او د اور وژلو په نیت خ په زیارت را وخوزیدل . کلیوال و پوهیدل، چی د غنی ملنګ کوډلی اور اخیستی دی. اور د بوتو اورو. په ډیره بیړه بی تولې کوډله ایری کړه. تول و پوهیدل، چی غنی ملنګ ته خپله خپل ژوند او خپلی هستی ته اور اچولی دی. ریښتونی قا تل چا وته پیژا نده . تول کلیوال بیرته له افسوس سره د غنی ملنګ له اړونه وخوز یدل خوله کلی زه د کټ او کفن سر شته ور ته ر او نیسی او هغه پکی خوندی کړی . چی اد یره له کلیو الوخالی شو . ، سرجانه چی تر او سه د سپیر کی بوتی تیاری ته نا سته وه ، په منډه او اوند یښنو سره د غنی ملنګ د کوډ لی ایرو ته را غله او په بی اختیاره بی غږ کړ :

ـ غنی جانه ، . . . غنی . . . غنی !

دغنی چی تول بدن سوز یدلی‌و ، او ایله ساه په کی تکیده ، مرجانی ته‌و ویل :

ـ مرجانی ، . . . اوبه . . . اوبه !

غنی ملنګ چې د کوډلی په‌او رکی لکه‌ها ژجان برته‌شو ی‌و ، خپل ورو ستی نفس بی‌خپلی‌مرجانی‌ته‌سا تلی‌و. اود هغی‌د دیدن‌په انتظار و .

مرجانی حمله کړه ، غنی‌بی‌د اور له‌ایرو راو ویست ، او بیا بی په‌خپل سینی‌جام کی‌ور ته‌ا وبه وڅیولی ، خوغنی ملنګ‌د مرګ په کومی کی‌و ، اوچی مړ کیده ، دو رو ستی محل له پاریی خپلی‌مرجانی‌ته ویل :

ـ مرجانی ، خوښ یم . . . چی مړم . . . محکه‌چی‌ته‌هم راڅه خلاصه . . . شوی . . . مرجانی . . . مر . . .

غنی ملنګ‌ته نوهمدو مره بخت بس‌و ، چی‌ساه‌بی د خپلی مرجانی په غیږ کی و بیسته .

وایی چی‌غنی ملنګ سیا خاو روته و سپارل شو ،خودوه دری سپاهتی وروسته مرجانه هم‌لیونی شوه ، خه‌سوده ژوندی‌وه ، بیاهغی هم‌خپل ځان سر نوشت ته‌وسپاره .

وایی چی‌ا وس‌مرجانه او غنی ملنګ‌په یوه‌اډیره کی‌خښ دی ،او کلیوال هره‌چار شنیه‌د دو اړو سیمو ز یارت ته‌ور ځی ، اود خپلوزړ ونو مراد ونه‌ورڅه غواړی .

زندانی نجلی

* * *

یوه زمانه د کابل په شترخانه کی د لالا فیضو په نامه یونجار اوسیده ، چې ژوند یې د شترخانی اوشو بازار او کوچه اهنګرانه لرې زیا توکوځه والوته ښه و .

په هغه زمان کی د کابل زیات کورونه ، په خټو کاګل او اخیږوو ، بومیی په دیوالونو کی له لرګی لیدل کیدل ، خو دلالا فیضو د کو تو دیوالونه تول سیم ګل وو ، او فیروزه یی رنګونه یی ور کړی وو اورسی یی هم د دیوالونو په شاو نګ درلود . او د کوتو چتونه یی تول سطح وو . لالا فیضو په خپله نجارو . د چتونو په سطح کی یی ډیر ښه نقش او نګار کړی و. هره کوته کی یی یوه دلرګی دیوالی الماری درلوده ، چې د المار یو شاو خوا چوکاتونه یی د لرګو په ګل کاریو رنګین او ښکلی شوی وو . کوربی دوه پوړیزو ، او په انګړ کی یی ښه

خاه درلوده، چې دشترخانې زیاتره ښځوبه دلالا فیضو نجارله کوره اوبه وړې .

لالا فیضو رڼتیا ډیر خسیس سړی و . په ژمی کې به یې شلغم جوشول خو ړ ل به یې اوبه اوړې کې کچالو . په سیا شتو کې یې خورد غوښه خپلو کوچنیانو ته نه ټپکاره کوله . هر خوپیسې چې به یې ګټلې په خپلې چرسي اسیانې کې به یې چولې ه او ترملا به یې تینګې تړ لې اوچې دسوداخیستو غږیده یې واورید ، لالا فیضو به یې ورته له اسیانې نه نوې نرۍ لوټونه شمارکړ ل .

دد غسې خسیس او شوم سړی په کور کې صفور او زیږیده ه خاپورې یې وکړې، اوبیا پیغله شوه . صفورادلالا فیضو نجار دریم اولادو . دوه اولادونه یې دمخه هم شوي وو ، خوسړه شو ی وو ، اوله صفورا نه وروسته دوه زامن اویوه لور بله هم د لالا فیضو په کور کې پیدا شول ، خو صفورا، صفوراوه .

صفورا اوږده سره ښکن ویښتان درلودل، چې ډنډو وریځوبه شان یې خه دمخ به پرولو راپریوتې وواو څه یې دملا پد تیرخواره شوی وو . ګرد ګرد ډغمان دمنو به شان یې غوښن غوسپوری درلودل ، اود سرخې دقوطی په شان یې وړه خوله درلوده زنه یې هم لنډه اوغوښنه، دمخ پو ستکی یې دوسره پوست اوښوی وچې ګوته به دې پرې کیښودله ، تا به ټوپل چې ګوته دې په سر سر وا اویا هندا ره لګیږي. ستر ګې یې هم د توشلی اوسریو غوندې ګردې ، خوتورې اوبورې و ې . کله کله چې به رابې را نجه ور پورې کړل، وهغه دچا خبره چې دوه ستر ګې یې به دوه بلاوی شو ی ، او سړی به یې خو ړ ، سینه یې ډ که و ه ، ملا یې د میږ ی غوندې نرۍ او ډ ډ یې د ما لوچو غو ندې پوست او ډ ك و .

له سینګا ر ه سر ه یې سینه وه . تل به یې لا سو نه او پښې

په نکریزو سره کړی وواوپه غا ړه کی به یی د سلغلروده دری واړه لړو نه پراته وو، چی ددی غاړی وړانگو سلغلروته یی خاص خونداو رنگ ورکړی و. دصفورا پکلاته دلالا فیضود کوردیوالونه هم اوبه کیدل.

دلالا فیضو شاگرو، چی په کریم استالفی مشهوروه دکریم ستالفی پلار اولالا فیضو اشنایان وو. هر وخت به چی دکریم استالفی پلار گابل ته راته، لالا فیضو ته به یی شینکی کاسی اوغوړی د سوغات په نامه راوړل اودانگورو اوتوتو په وخت کی به یی کجاوه حسینی او کشمشی انگو رلالا فیضو ته راوړل همد غه اشنایی او دوستی وه، چی دکریم پلار خپل زوی لالا فیضو سره شا گرد کړ.

همغه وخت چی کریم استالفی لاپه زلمی نه وه، دښځی نوم و رته مسخره غونډې ښکاریده، خوچی خومره دزلمیتوب جوش او خروش ته ور نژدی کیده، هومره یی مترگی دصفورا، په سروغوسپرو کی خښیدی او اوبه کیده به. کریم استالفی هم ډیر ښکلی زلمی و. دچندرو په شان بی نرۍ ونه وه د سلالەخو النه، خود پښو له خواوړدو. پوزه یی دووو روځله مینځه دباس شوندی ترسرحد پورې د تیر غوندې پرته وه. سپرمیونی با دامی با دامی بڼه درلوده، سرینی نرۍ او بیخ بی لپلان غوندې و. په ټنډه کی یی دری وړی کرښی معلو میدی، چی دکار په وخت کی به لکه لښتیو وپه شان خولې ډنډ وی اودسیماب غوندې به په کی زغلیدی. د مخ پوستکی بی سپین و، خود کار پد وخت کی به چی ستړی شو، د تگا و د انا رو په شان به سورشو. زنه بی لږ اوږده وه، خوبده نه معلومیده، دشونډو د پاسه بی نرۍ برښتونه داسی معلو میدل، چی دوو سنگر یا نو بچی یواو بل ښکلوی.

دصفورا له وړو کتوبه له کریم استالی سره سینه وه، خو همغه سینه تنکی وه، چی دوی ځوانان شول، دوی سینه هم پخه شوه.

صفورا او کریم استالی هره شپه دډیدی لاندی ددووجوړه کوتروپه شان خپل غومبړونه وهل او کله به سره تونګه په تو نګه کیدل .

یو وخت دا سی وشوه ، چی لالا فیضو ته د اسلم دزوی .جر گه راغله . اسلم قصاب پنځوس زره اوغانی ولورهم په لمان وسانه .

لالا فیضو ورسره وخلهاودسه شښې په شپه ئی دستمال ور کولوو عده ورسره کیښودله . یعنی دوه شپی وروسته . صفورا خبره شوه ، چی دوه شپی وروسته داسلم قصاب دزوی خوراک کیږی، نوځکه کور ورته تنورشو . لګه سارچی چیچلی وی ، کله به دبام سر ته وختله او کله به انګړته راکوزه شوه . ماښام چی کریم استالفی بیا داری بوره اووړی دړی په بوجی کی په شا کړی وی ، او کورته راغی ، صفورا ورته دلوبی دروازی ترخنګ ولاړه وه چی سم کریم استالفی ستړی یستوسانه په دروازه راننوت ، صفورا ورته په بېړه شروع و کړه :

ـ کریمه ! سبا نه بل سبا ، ساد اسلم قصاب زوی ته ورکوی، یا می نو ښه شپه چاره وکه ، اویا نو سرله ژن شپی نه زسره کورته را نه شی ،

دصفورا له دی وینا سره د کریم استالفی په مغزو کی دشړنګ اوازو شواودغم زنګونه په کی وغږول شول. بوجی په شا شخ لکه وچ لرګی پاتی شو . مغزو کی یی نورطاقت نه وپاتی چی خه په کی وسنجوی ، لکه سړی نه چی اوازخیژی ، ایله دوسره یی صفورا ته وویل :

ـ نو څنګه وکم صفورا ، چاره ته وسنجوه ؟

لکه چی صفورا په شپوشپو خپل پلان سنجولی وی ، اود لمان په بارہ کی یی فکر کړی وی ، یی له خنده یی کریم استالفی ته په چټکی وویل :

ـ ژن شپه باید له دی کوره وتښتو. لمان استالف ته ورسوو .

صفو را ، خبره وکړه ، خو دا سی ښکاره شو ، لکه‌چی دیوال ته‌یی کړی وی . دکریم دخولی نه‌هیڅ ونه‌و تل . صفورا بیاور ته په تونډ ی‌و و یل :

ـ څوه شوی ؟

د کریم زنګ کون شو ی و . نو ر تر ی غیږ نه شو پو ر ته کیدای . په‌پته خوله لاړ ، داری بوره‌یی دخسوپه کوته کی‌خالی کړه ، اوله صفورا ندد سیخه په‌ز ینه پامن وخوت ،اوخپل خلیفه‌ته یی‌وو یل ، چی‌لرگی یی‌راور سول . اوبیا په پټه‌خوله ، خپلی کوتی ته‌چی د لالا فیضو دا زنګړ په خولی کی و ه راغی ، خپل سر ته یی دواړه زنګو نه‌اړم کړل اوپه خپلو اوږ دو او نا امید و هیلو کی و ر ک شو .

د لا فلایضو څخی‌ور ته‌په کا سه کی کتغ اود ستر خوان کی ډوډی‌را وړه ، ترهغګ یی‌ور ته کیښو ده ، خو کریم استالفی دخپلوانډ یښنوپه‌لوڅرو کی‌دوسره ورکړو ، چی‌د لالا فیضو دسیرمنی په ټنګ خبرقدری هم‌نه‌شو . هغه‌وخت یی‌له زنګنو نه‌یی سر راپورته کړ ، چی لری اونژ دی چرګانو په‌با نګونو پیل‌و کړ . کله چی یی‌د چرګ او زواو رید ، غوږو نه‌یی‌لك شول اوسغږ وی‌په کار پیل‌وکړ . خو لکه برقی انسان گونګ اوکون له‌کوتی راوو وت . خپلی زړی گاولی یی‌په لاسو کی ونیولی ، او دزینو په‌پورې یوکی دپریښنا غوندی وخوت او هغی کوتی ته ورغی چی صفو را په‌کی او سیده صفو را په هماغه ځیمه شپه ایښه مخ ته ایښی وه ، په ستر گو یی سلایی کشو له او پدلنډه زنه‌یی خال سپراوه .

کریم استا لفی ، چی ورځنوت ، هغه یی په اینه کی ولیده ، زړه یی وغوښتل چی خوله پرې خښه کړی ، خو په‌بدن کی یی وړه‌او لړزه‌ورځنوتلی وه . وروبی د صفورا په‌وچولی‌خپل لړزیدلی شونډی

کیښودی او ورته وی ویل :

ـ د تیښتی وخت دی .

صفورا ، له ډیره وار خطایی نه ټکری هم هیر کړ. لوڅ سر اولوڅی پښی د پلار له کوره شینګړی شوه . په دی فراړ ناوی او زوم باندې کابل د اسمان ستوروانوراو پلوشی شیندلی. او د شترخانی کوڅو ر ته خپله سینه پر اخه کړی و ه ، چی د و ی پر ی و ز غلی خو چیر ته لاړ شی او چا کره لاړ شی . د کریم استالفی کور خود کو هدامن دغره په لمنه کیږو . هلته ور تګ دو سره اسا نه کار نه و . اخر یی د عبدالله جان زرګر کور ورپه زړه شو . عبدالله جان زرګر هم د کریم استالفی د پلار اشنا و .

دو ی چی په همه شپه د زر ګر کور تخته پل ته ورغلل ، زرګر په لوړ ی محل کی د دو ی ډیر شه در ناو ی وکړ ، صفو راته یی خپلو کو چنیا نو او کریم ته یی خپل زوی سره ځای واچاوه ، خوسباد وخته چی کریم غوښتل استالف ته لاړشی، عبد الله جان زرګر دوی دا ستالف دتګ نه منع کړل اوپه پټه یی حکومت ته رپوټ ورکړ. لمر لا داستایف په شمله نه ولګید لی چی صفو را اوکریم استالف دکابل ولایت ته بو تلل شول . د کابل په و لایت کی دسود خور لا لا فیضو د پیسو او خسیس توب له امله صفو را د ښځو په زند ان کی او کریم استالفی د نارینه وپه زندان کی کینول شول. کریم استالفی به پریږدو په زندان کی هرڅه خی پری راځی؟ خوکیسه به دصفوراوکړو:

صفوراچی لوړی محل له پاره قدم دزندان په محریم کی کیښود، دښد یخا نی دسر پرست قوما ندان ویښته دهغی ښکلا ته زیره شول، زړه ئی غوښتل چی نیغه صفورا په غیږ کی وزیښی،

خوله نورو زندانی ښځونه وویړیده. صفو را قوماندان هغی کوټه کې واچوله کوم ځای کې چې شاښې بندی پرته وه. چې دی ټینګ همته او ناځوانه قوماندان دهغی لمه خبره نه کړی وه. اوهره شپه یې دهغې په لمنه داغ لګاوه. دصفورا ستر ګی چې په شاښې بندی ولګیدی دوارې تری پوښتنه وکړه:

- خور کی ته هم بندی ئی؟

- چې نه وای داظلم خانه ساځه کولای؟

- سړیه دی شته؟

- زه کونډه یم، وایی چې تادی خاوند وژلی دی.

په دی وخت کې دصفوراد ستر ګو نیغې دشا ښې په ګیډی ولګیدی. په تعجب یې ور نه په بنده ژبه پوښتنه وکړه:

- دا . . . ستا؟

شاښې یې له شر نه ستر ګی کښته واچولی، نوربې هیڅ ونه ویل. دوسره یې له یوه سیلی سره وویل:

- بیا به یې وهځ نی.

- په دغه ورځ دشا ښې ستر ګی په کا سوکې نغوتی وی. سا یې لنډه لنډه کیده، درد یې ټول وجود نیولو، اوپه سخ کې یې تور توردا غونه پیدا شوی وو. ایله دوسره یې صفورا ته وویل:

- بنده چې راغلې، که زه ناروغه شوم ته به سی...

شا ښې، لاخپله خبره نه وه تماسه کړې چې دبند یخانې سرپرست قوماندان په خندا او لکه مست لیوه رانغوت. په داسی حال کې چې خولې یې په لاس کې نیولی وه، ددوی دکوټې ورته پرانیست او ور داخل شو، اوپه خندا یې صفورا ته وویل:

- هر کله سیلمنی، دزندان کوټه په تاوتا شوه.

صفورا هیڅ ونه ویل اوشا بی‌بی خپل ناروغی ستر گی د صفورا په شکلا ورځنی کړی‌او و پوهیده‌چی قوسا ندان له‌صفورا نه‌څه غواړی ؟ قوسا ندان یوڅل بیا له هوسه ډ کی ستر گی د صفورا په‌پستو خپرو خبری کړی ، له‌ځان سره موسکی شواووی ویل :

- بیا به دی خدست ته‌راشم .

له‌دی ویناسره ، سرپرست قوسا ندان لاراوصفورا دشا بی‌بی ترځنګ غلی کیناسته. کله‌به‌یی د زندان‌چت‌ته کتل او کله‌به‌یی ځمکی‌ته . نه‌یی چت‌لیدی شواو نه‌ئی د ځمکی رنګ ، ځکه‌ټوله کوته‌کی‌یوه د نورتلو دووازه وه اوهغه هم‌دبا ندی له‌خواپری کولپه‌وه ، اوپیره زار ورته‌ولاړو . اویوه زړه کړکی‌یی‌دچت لا ندی درلوده ، چی‌د اوسپنی سیخونه په‌کی لګ شوی وو . دا لا په‌همدی چرتونو کی وه ،چی شا بی‌بی ورته وو ویل .

- او نجلی ، ځان ته‌دی پام کوه ، د ا پندیخا نه‌ده .

خوصفورا ددی‌تورې کوتی هیبت دوسره ګنګسه کړی وه‌چی هیڅ یی د خطر احسا س نه کاوه . شپه چی شوه ، په‌شا بی‌بی درد غالب شو، دوسره درد چی هغی به خپله لمنه کلو له کړه او تر غا ټولا ندی به‌یی و نیو لـه ، چـی چـغه یـی خوک‌وانه وری . صفورا هم لکه‌مړ بانه دا یی‌د هغی شا ته‌د ډغوندی ناسته‌وه . لکه‌چی‌یوی حادثی‌ته انتظار وباسی اوترو ړه‌وه ، چی‌شپیی تیریدی ، د شا بی‌بی له‌ټری‌بدنه‌د درد اوغم تودی‌لمبی‌لاپسی تودیدی .

شا بی‌بی له ډیره درده په خولوکی اوبه‌او بده ، اود ستر گو ګاتی‌یی د سر په کاسه کی خښیدل .

بند یوانه شا بی‌بی د سرګ او ژوند په پولو کی لوڅی پوڅی کولی‌او صفورادو ړه‌او ډی په‌خپلو پستو خپرو کی تینګی نیولی‌وی .

د شا بی‌بی عقل او هوش در دونو وژلی‌و ،خویوازی سخته‌سا بی

پاتی‌وه ، چی‌ددی په‌لوغړنه اووریته سینه کی گنبته پورته کیده .
کله به بی په دردکی مورستر گرته ودریده ، کله پلار ، کله به بی‌خور
او کله نور کلیوال ، خوچی په سده شوه ، وبه پو هیده ، چی‌دزندان
دتورچت دلاندی دصفورا غیرکی پرته ده . په‌دغه غورز و پرځوکی
بی‌ناڅا په‌له خولی وویل :

ـ صفورا !

بنديوانه‌صفورا ، لکه‌وبده څاپیری په‌دی‌باندی‌خوره‌وره
راقیچه‌شوه ، خوداهغه‌وخت‌و ، چی‌دشابی‌بی ساه‌له‌سینی نه‌وتلی‌وه .
اودبنديوانی سورله‌گیډی نه‌یوتنکی بی‌گناه شوم دبنديخانی‌حریم‌ته
قدم کیښود .

بنديوانی شابی‌بی ، خوساه‌ورکړه اوڅان بی‌دبنديخانی‌له
گناهونونه‌خلاص‌کړ ، خوخپل‌ما شوم‌اوتنکی صفورا بی‌گناهکارانوته
بوا زی پر ښبوده .

صفورادزړی دابی‌په‌شان ، ما شوم‌دبنديخانی له‌غولی نه‌پورته
کړ ؛ اودسړی سورپه ریتاړی‌اوشلید لی‌خپونی‌کی بی‌غونډه‌کړ .
ما شوم ژړلی ، له‌خپلی سورنه‌بی شودی‌غوښتلی خودسور ستړی‌سابی
دخلورم اسمان نه‌هم تیره شوی‌وه .

صفورا سجبوه وه ، چی‌ما شوم دسړی سور سینی ته
و غورزوئی، ترخو دماشوم دشرم ژړاخپه‌کړی.

د صفورا بدن دشابی‌بی بی‌روحه جسداودبنديخانی تیا ری
وارپه‌وار زیږوا وه .دهیبت، دهشت‌او وهم کندوته بی‌راکشوله.
دویړی‌په سروغوسه‌رو تودی خولی راماتی‌شوی .بدن بی‌په‌لړز و
شو ، او له عقله بیگا نه کیدله . کله کله به‌بی زړه غوښت ،
چی سرله‌د یوال‌سره تر هغه‌وجنگو ی‌ترخوبی ماغزه له‌سره توی

شی. اسمان تر ی لری و، محمکه ورته تنوروه نه پوهیده چی څه و کړی په چر تو نو کی ورکه وه ، چی دبند یخا نی دوازه خلاصه شوه چی تیرسا سخوتن و ، په ټول زندان کی دسکوت لو گی تیت و ، کله کله به دزندان د پیره دارا نود (خبردار) ، اوازاو ریدل کیده .

کله چی د کوتی دروازه خلاصه شوه، صفو را دبهرون رنا یی ته دسر پرست قوماندان ناولی څیره ترستر گو شوه. لکه تر هیدلی او ویریدلی هوسی ودریده. قوماندان چی په میومستو ، را ننوت او په ورو یی د رو ازه په محان پسی وتړله. په مد هو شی یی ـ صفو راته و ویل :

ـ شا یی بی څه وزیږول؟

صفو را ، له هیبته گونگی وه ، اوله ویری نه لکه دسنی پا نه ر پیده، چی قوماندان خپلی خبری بیا پیل کړی :

ـ یوشمعه می راولی، وه به یی لگوم . . . دی رنا ته به ستا د مخ اور، زما دزړه اور سوړ کړی .

له دی وینا سره قوماندا ن شمعه ولگوله. د کوتی په کونج کی یی دیوی وړی ډبری په مخ نیغه کړه ، چی شا ته یی و کتل، ناولی او پلیتی ستر گی یی د شا بی یی په جسد او کوچنی ماشوم ولگیدی . هغه سړی ته دخو نخورا نو غوندی وړاند ی شو. د هغی لا ش اوجسدید په پښو واهه هغی له سینی نه کوچنی په څمکه وغورزیده. صفو را، له ویری دیوال ته تکیه شوه، او قوماندا ن په بد مستی نیشخند، صفو راته مخ کړ، لکه وړی لیوه رغوریده او و یی ویل :

ـ سړه ده؟ ښه شو ه ، اوس له زندا نه خلاصه شوه ، سبا به یی په کتاب کی و لیکو ، چی دشا بی یی د بند موده پوره شوه .

دد ی و وینا سره سم نیغ په مستی مستی د صفو را ، خوا ته

ورغی. دوحشی غوندی یی په هغی حمله و کړه ، اود هغی تنکی اوپاك بدن یی خپلی ناولی سینی ته کړاوړه زیښلو یی پیل وکړ . په دغه وخت کی ، دصفو را پیغلو مغزو ته دخلا صون الهام را غی ، یو ملکوتی الهام .

صفورا ، ناڅاپه دویری او وهم له عالمه دعقل او پدا ری دهوښیاری او تدبیر عالم ته ورګډه شوه ، حالت یی بدل ، او یوه مهربانه او وفا داره معشوقه یی له ځانه جوړه کړه . په دیر محبت او مینی یی قوماندان ته وویل :

ـ ولی وارخطایی ؟ زه د تایم ، کرتی دی وباسه ، توماڼچه دی هلته کیږده ... بیا به په ارامه ....

قوماندان وپوهیده ، چی مزی چرچی تودیږی اود ډکار دا پسته غوښه باید په مزو مزو او نشوڼشو وخوری . په دیری یی باکی یی دصفورالهسره تکری راپورته کړ ، کوتی دغولی په گوټ کی یی وا چاوه . په دیره یی خپله کرتی اوخولی ور باندی کیښودل او د خولی له پاسه یی خپلهډ که توما ڼچه ځای په ځای کړه ، اودخپلی برچه یی هم توما ڼچی ته خر مه کیښوده . صفورا یی دیی وزرو کوتری غوندی په غیږ کی و نیوله ، اودټکری دپاسه یی د سومیا یی بت په شان کینوله ، له صراحی غاړی نه یی خپل مجرم سړوند ونه تاوکړل اودڼها رڅنا ورپه شان یی دهغی تنکی خولی ته حمله کړه ، خوصفورا مجال ورنه کړ . دهغه پلیتی خولی ته یی خپل لاس ونیواو چی له قاره لږ زیده په ساخته گی مهربا نیی وویل :

ـ کومیدان صیب ، دکوتی دروازه زنځیر کړه ، چی دیره درڕانه شی ، بیا به زه اوته کراره . . .

قوماندان چی د کوتی وره ته ورغی ، صفوراد یوی جنګیالی

پیغلی په شان په ډیره برچه له غلا ډه راوو یسته او لکه د زمری غوندی یی په قوماندان ورتوپ کړل، خو قوماندان سخ راوه دی دیر یښنا په شان د ټاولی قوسا زدان له مخیګره برچه تیره او ډیر وویسته .

د قوماندان له خولی ټه ((اخ)) قدری هم وونه ا ته، اولکه چینجو وهلی دې له ریښوسره د تیاری کوتی په سخ راغوزار شو. تا به ویل چی د دی نمر ود او پایت انسان په مرګ سره بندیو انه شا یی ی افرین وایی، او د بندیخا نی د یوالو ډه پری نفرین اولعنت استو ی.

صفورا، په ارامه کښی زه زا سته د بریښنا او ټندر غوندی ټی په برچه د دریچی یاوری کړکی په ورا نولو پیل وکړ .

د کړکی د چوکاټو نو شا وخوا یی په ډیره ډیره ورانول . یو وخت شوه ، چی کړکی یی په سنګولو را کش کړه ، کړکی نیغه له دیو اله جلا شوه . صفورا لوسړی تو ما نچه خپل لاس ته کړه، او بیا یی له کړکی ټه د باند سرو ویست ، وی کتل چی د کوتی دیوال چندان جګ ټه دی ، او د کړکی د باڼدی دخا وری ډیری پرته وه . په ډیره یی ماشوم د هغی د سور په تیکری کی تاو کړ او بیا یی خپل تیکری ورته رسی کړه ، په یوسر کی یی ما شوم غوټه کړ ا و بل سر یی په لاس کی ونیو ، کوچنی بندیوان ماشوم یی په داسی احتیا ط د کړکی له لاری ټه د باڼدی لمهکی ته کوز اوه چی تا به ویل د خټو منګی خا ته کوزوی .

صفورا چی و پوهیده، کوچنی له زنه ان ټه ا زاد شو، په خپله هم تو ما نچه په لاس د ښا ډیری غوندی کړکی ته و الوته ، او له کړکی زه یی لمان د زنه ان له ناپاکه حریم ټه د باندی غوزا ر کړ .

صفورا یا بندیوانی نجلی له زندان د باڼدی لمان ا زاد ه ملکه و باله، او خیال ته یی را غلل، چی د نیا یی تسخیر کړه او د ظلمو نو پنجر ی یی

ساتی کړی دی. په داسی حال کی چی دشا بی بی سا شوم بی په غیږ کی نیولی و ، لوخ سر او پښی ایله سخ په نوابا د په تړلـه اوسنه شوه حیرانه وه ، چی بیا د چاد کور دروازی وټکوی ، چی دی او واړه بندی ته ځای ور کړی ، خوله خپل قسمته څه خبره وه چی څه به کیږی ؟ په همدا غـه شپـه چی صفـو را لـه کړ کی زنـه ځان غـو ر زا و ه ددی د پښو درب د بام پـه ر دارلك څك كړی و . او د زندان دیوال شاوخواته پـه ترسـد او څارکی و .چی ستر گی پـه بندیوازی نجلـی و لکیدی چی لـه زندانـه تښتی. پرتـه لـه دی چی د (دریش) غږور تـه وکړی دتوپك تـوره خونی خولـه بی پری راکښتـه کړه. ماشی پـه یو کش سره بی صفورا او کوچنی بندی پـه څمکـه وکړل . شپـه ډیره تیره وه دتوپك پـه ډز سره دزندان پـه داخل شوراوشر پیل شو خو لـه زندا نـه د باندی و تلو خیال نـه پیـر ه دار وکړ او نـه اوال دار. چـی سبا شو هلتـه دزندان لـه یوی تیاری کوتی نـه د سرپرست قوماندان جنازه او دیوی بی گناه گناهکاری جنازه پورتـه شوه.

او دلتـه پـه نوابا د، ده او غانانو کی دپا کی صفورا اوکو چنی بی نومـه بندی سړی پـه قول ابچکان کی خا ورو تـه وسپارل شو .

چا بـه چی صفورا پیژند لـه ددی پـه پلارلالا فیضو بـه بی لعنتونـه ویل او دده او غانا نو زړو ښځو بـه پـه ویر کی ویل :

ـ د فیضو سود خور پریږده دی پـه اورکی وسو ځی .

اشتباه

* * *

دغرخی دپله جنوب شرقی خواته ، دیوسمیری غونډی دپاسه
یو کلی ودان دی ، چې شپیته ټوسیږی . دکلی څیښې برخی ته دساهی پرغر
هسکه غړ ولاړدی، چې دافغان دتیروغورزنګونو اونو وجښتو نو
یادګارونه بې ډهخپله لویه سینه کې ساتلی دی . دکلی شاوخوا ارتی ځمکی
پرتی دی ، چې په پسرلی کې غنم او په اوړی کې پالمنونه ورکی ولاړوی
دشپیني له کلی نه لیږلرې دکابل اولوګرسیند وڅه غاړه دپنجشیر د
دریاب پهلورروان دی اودنوی ژوند او دورو رولی زمزمه په زړو
باندې او روی. لهلرې لرې دسیند په غاړه دو لواو توتا نوونی
معلومیږی ، چې دځر خی سره وړې مه بې ځنې و ته پرسنځوی .
د سیمې د کلی جنوب ته لوی او ارتچن پروت دی چې ځای ځای
په کې دکلیوالو ځاروی څړی اوښیم یا بو هم په کې لیدل کیږی .
تا ریخ و ا یې چې د شپیني کلی د ځینو افغانې غاز یانو دجرګو
مرکوځای و. خصوصاً د غازی امین الله لوګرې د سنډی سید ان خوهمدغه

دبگرامیو ، شینو ، غرخی ، دهسیزاود خوردکابل سیمی‌وی . په‌هر صورت‌دشینوکلی‌د طبیعت‌له شوکار بوسره سره‌دننگه‌او میرانی‌د گرهم‌و.

په دی سیمره کلی کی که له‌یوی خوا انغانی ننگ‌او بهادری، میرانی‌اوغیرت غور زنگونه وهل ، له‌بلی‌خواپکلا اوښایست په‌کی‌هم مستی‌کولی . ددی‌لمای‌د زلمیانو او پیغلو زلمیتوب ته دماهی‌پردغره سرکښی‌هوا غروروړه برخه‌کړی دی . په‌دی کلی‌کی دنورو مستو پیغلو او زلمیانو په ډله‌کی ، شاتریښه هم او سیدله . شاتر یښه د الا نور اکا ، لوروه ، چې‌وړه‌وه ، دچاپام‌ورته‌نه‌وه محکه‌چې‌مخ‌بی دشینی‌دوړو اوگردونوورسیمره کړی‌و ، خو چې پیغله شوه ، پکلا ته بی د سا هیور غرهم‌په‌گونده و . په تنکی خولگی کی بی رگونه له‌ور ا یه معلو سیدل اود ازیدو پنولاندی بی د پنگو دو ه پیالی له‌مان سره گرځولی . دتنکیوشو نه وسر خی‌بی دسکروتو غوندی تودوشه درلوده، اودنگه غږې بی درخام له‌صراحی‌نه هم‌پکلی او ناز که وه‌او هغه‌دچا خبره‌چې په ستونی کی‌بی‌اوبه معلو سیدی . قوی او پلو نده پیغله وه . دولوسور بی که‌له یونیم مترنسه زیات نه‌و ، نوکم هم نه و ،خود خوارالا نور لور وه ، که‌پکلا بی هرڅه اعجاز کړی وا ی‌ه خوغر ښی‌بی‌یا هم‌سرخوړلی وی، تولەور غ به له‌پلار سره‌په‌کرو نده‌کی‌لگیاوه ، کار به بی‌کاوه . پلار به په‌پتو کی یوی کوله اودی به‌بی شا شاته پیکاره بوتی‌تو لول اوکه الانور اکا به لوکاوه،شاتریښه مجبوره‌وه‌چی‌خپل پلار پسی وړی‌تول کړي،محکه چې موربی مړه‌وه، پلار بی‌نا ریښه اولادنه درلوده، دشاتریښی په‌تندی هم دکور کار با ر و هم د سا ر ا . دغه رازدشینو په‌کلی کی سالم‌هم بی‌ور ه او بی پلاره زوی‌و ، چې‌اشته کاری بی‌کوله . د ی‌له‌یو بزگرسره

